د لوي څښتن په نامه

# د پښتو ژبلار( ګرامر)

# د پښتو نو په ویاړ

لیکونکی:

ډاکتر ماخان مېړی شینواری

Ketabton.com

خپرندوي: ketabton:com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک


| | |
|---|---|
| سريزه | فونيم...... ۳۸ |
| ګرامر يا ژبلاربنونه ۷ | مورفيمونوپه.ړ... ۴۱ |
| د پښتو ا ب پ يا ابپ ۷ | فونيتيک........ ۴۳ |
| ګړنوی ۹ | فونولوژي..... ۴۴ |
| د ژبنيزو توکو پېژند | فونيميک..... ۴۵ |
| وی ۱۲ | نوم...... ۴۵ |
| کلمه ۱۲ | بيا وی او کلمه..... ۴۶ |
| غونډاله ۱۳ | مورفيم او سيلبي ۴۶ |
| پيداښتي ژبه ۱۶ | خويوی...................... ۴۸ |
| سينتاکس ۱۶ | اکسيومورون................ ۵۰ |
| د غونډالو جوړښت ۱۶ | سيستمتيوري............. ۵۶ |
| ګډوله غونډالې ۱۶ | پرتلنه او پرتله کونه ۵۷ |
| ترنويېزې ويېنې ۱۹ | د تل له پاره، تل تر تله.... ۶۱ |
| حالتونه او .... ۱۹ | نيونه، ښونه، غوښتنه ۶۶ |
| نوميز....................... ۲۰ | ناسيده وينا ۷۲ |
| نومځاينيوي............ ۲۵ | نيولوجيزمونه ۷۴ |
| زما که دما.............ړ ۳۰ | دامو د ستونځوبيو لار نه ده ۷۹ |
| حلاتونه او پهبنستې يې .... ۳۴ | د ګړنو سره د ګړوني ښه بدلړن ۸۴ |
| ترنويونه يا ويډول....... ۳۷ | پښتو ته ناسم رانښاسلشوي ويونه ۸۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| نومځاينيوي ۸۸ | نه دئ، نه کوم.. که ...... ۱۶۸ |
| مور د ،، واحد،، لاند..... ۹۴ | د پښتو سره د نورو ژبو.... ۱۷۱ |
| ژبه معياري کونه ۹۷ | ګڼونه په شمېرنيزه بڼه ..... ۱۷۶ |
| ژبه قرارداد دئ او که څنګه؟ ۹۹ | ژبې غبرګې پيداشوي...... ۱۸۰ |
| ايا پيداښتي پوهنې پښتو .... ۱۰۳ | ليکنې مې ځانګړې دي... ۱۸۲ |
| پرتلنه او که پرتله کونه ۱۰۶ | زما د ليکنو او.... ۱۸۵ |
| عکس العمل ۱۰۸ | يو ليک د علومو اکادمي.. ۱۸۶ |
| د ګرامر هغه غوره برخه | د ليکونکي ليکلې او ژبړلې ليکنې ۱۸۷ |
| اړيکويونه يا پرېپوزېشن ۱۱۰ | د ليکونکي ژوند ته لنډه کتنه ۱۹۴ |
| د غوښتوني حالت سره ټولګيزول ۱۱۳ | |
| پورته سرليم تکرار او ؟ ۱۳۲ | |
| ،، له ... څخه،، د لومړي نوم ... ۱۴۰ | |
| تر ........................ړ ۱۴۳ | |
| ،، له... حخ،، ، ،، له(د).. سره،، ۱۴۹ | |
| منځ، څنګ، مخ، شا... ۱۵۵ | |
| دا پورته لړ څه بيا ............... ۱۶۱ | |
| . | |
| . | |
| . | |
| . | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه هغه زړه هغه دماغ او هغه زه پاتې یم
خدایزده چې څه اومه اوس څه یم بیا به څه پاتې یم

تاب د سخن مې پاتې نه دی نور لیکلی نه شم
د یو ناتوانه اسویلي غوندې په خوله پاتې یم،،

حمزه بابا

د سریزې په ځای

زما لیکنو ته:

یو : لیکنې مې د ځان روغ ساتلو له امله کړي، چې دا دنده یې سرته رسولې او رسوي یې.

دوی: په لیکنو مې ډېر کار کړی او په پوره پاملرنه مې پوره کړي.

دریم: دا چې لیکنې مې د ځان له پاره کړي، نو هرومرو زما په اند او زما تر توانه ښې دي، ځکه چې څوک د ځان لپاره کار کوي، هغه ښه وی.

که چېرته مو ولوستلې او سمون مو یې راسره ګډ کړ، کېدی شي ښې شي،

دا مې د رښتیا د اځان پالنې له پاره څه نه دې کړي، خو که څوک ترې – او ورسره خوښ وو، خوښېږم او که د چا د اند سره سمې نه وې، نه پرې زړه بدی کیږم.

دا مې اوس د بلدتیا ناروغې ده، لکه چې څوک چرسی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سریزه مې د لومړۍ اړیکویونو له پاره لیکلې وه:

له هرڅه لومړۍ مشوره: که هرڅوک یا ښه یې هر پښتون غواړي څه زده کړي اوڅه ورزده کړي، که دا پښتو ژبه هم وي، باید د یوې وتلې دباندنۍ ژبې څخه د همدې موخو له پاره ګټه واخلي، یعنې یوه د وتلو ژیوڅخه باید زده کړي.

په پوهنه اوپوهنیزوڅه لیکلو کې زما د مرستې ژبه الماني ده او داسې لږ انګریزي، دا هم د الماني په مټه، دا په دې مانا چې د لیکلو له پاره مې وتونژبه ( ترې ژباړې ژبه) الماني اوموخه-ژبه(پرې ژباړې ژبه) پښتوده. دا هم بایدووایم، چې د الماني ګرامرد پښتو د ګرامرسره لږ سرلګوي او په ډېرڅه کې سره ورته-والی لري.

ژبه مو له جنجاله ډکه ده، ځکه چې لا تراوسه نوې د پوهنې سره بلدېږي، نو هراړخیزې ستونځې د بیلا بیلو مسلکي کسانو منځ کې را منځ ته کوي. زموږ ژبې یواځې په ادبیاتو کې دا سې دلیدلو وده کړې، هغه هم د یوڅه په لیکلو کې، خو د ژبې لیکندود اولیکنډول سره هلته هم ستونځې شته. په نورو بیلابیلو مسلکونوکې لا همداسې ده چې ده.

یوه د مخه یادونه: یو څه چې له بلې ژبې پښتو ته را اوړي یا د پښتود سمون له پاره یې بیلګې راوړو، دا په دې مانا نه ده، چې دا د بلې ژبې انډول دې زموږد ژبې یانې پښتو له پاره باورونه لري.

دا به نوره هم ښه داسې ووایو، چې له نوروژبو څخه په ګټه اخستنه پښتو غنې کوو( هراړخیزه) اود نوروژبو د ویونو(لغاتو) له پاره دپښتو انډول ځان ته جوتوو.

ګوره داسې نه وایم، چې وی ورته پیداکوو، چې دا کارناسم هم دی، یعنې ویونه نه پیداکوو، د دوي انډول پیدا کوو.

دا چې زموږژبه دودې لرې پاتې شوې یا اوس په وده کې ده، نود ژبپوهنیزو ستونځو د هوارولو یا ستونځوبیو له پاره بیا د نورو پر مختللو ژبوڅخه مرسته رانیولی شو یا اړین یو چې له نورو ژبو مرسته راونیسو.

ګرانو لوستونکو!

ما دا لیکنې لږغزولې، موخه لنډه هم روښانه کیده، خو زه په دې اند یم، چې غزونه به تاوان ونه لري، یواځې ستاسو سړه سینه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما زيات وخت د پ (پرېپوزېشن) لپاره ليکلي، چې دامي له انګرېزي يا الماني څخه را ژباړلي، نو دې ته څه اړتيا شته، دا خو همداسي لرو. زموږځني ليکوالان په دې ټينګارکوي، چې يوڅه له بلې ژبې ناسم رانيول کيږي، خو زه غواړم په ګوته کړم، چې همدا پخپله وليکي او که له بلې ژبې مرسته وغواړي همدا يوشی ترې لاسته راځي. دا دا مانا نه لري، چې ته له بلې ژبې يوڅه رانيسي، دا دا مانا لري، چې ته د هغې بلې ژبې انډول په پښتو را اخلې اوپه پښتو کې يې لرې هم

د بيلګې په توګه:

که ته د عربي کرهٔ را واخلې او د الماني ( انګرېزي هم) بال، نو د دواړو انډول په پښتو کې غونډوسکه ده. موږ غونډوسکه لرو، خو په پوهنه يا ښه يې ځمککچپوهنه( هندسه) کې ورته کرهٔ وايو اودا غونډوسکه راته پردۍ اوبې ځايه برېښي. که ووايم، چې موږ تراوسه په دې نه پوهيدو، چې ګوندې کرهٔ به عرب غونډوسکې ته وايي، له ربښتيا به لرې نه وي.

په دې پيل کې تکرار شته، خو په پوره بخښنه سره لنډونه مې داسې لږ له توانه هم نه ده پوره.

له ما سره د اړيکو پته: smakhan1946@gmail.com

.

.

.

.

.

.

.

.

•

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګرامر یا ژبلار

پیل یادونه: په یوه څه کې چې هرڅومره ورننوځې، په همهغه کچه دې د پرې پوهیدنې یا د نور څه د پوهنې له پاره ستونځې ورسره زیاتیږي، چې دا هم باید ورسره هممهاله اوبی شي، ځکه چې ماته – دا بیا په خواشینۍ وایم – په خپله ژبه کې نه دي جوتې.

## ا ب پ

راځئ چې موږ هم دا پیل د پښتو له تورو اب پ یا اب او یاابپ څخه وکړو.

ولې ا ب پ؟

ځکه چې دا دژبې لومړني درې توري دي.

ولې الف نه؟

ځکه چې دا ف زموږ د ژبې توری نه دی او موږ ا لرو، چې لیکو یې هم. ستونځې؟ که څوک یې نهپېښوي، خو نه شته او دستونځو پېښولو شونتیا تل شته.

اوس راخو تورو ته:

یادونه: دا د پښتو توري دې، عربي تورو سره ګډ. بېلولو څخه یې په دې لیکنه کې ډډه کوو، خو د خبرودي.

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح ځ خ څ ر ړ ز ژ ږ س ښ ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه ی ې ي ۍ ئ

ولې مو یا څلور ولیکلې؟

ځکه چې دا څلور دي( دا چې زموږ ژبپ،هان او نور لیوالان یې پنځه بولې، ناسم دی، چې وروسته به یې داسې لږ یادونه وکړوم، خو دا زما د پښتو ته ناسم راننباسل شوي ویونه) کې شته.

توري په دوه ډوله دې غږلرونکي او ناغږلرونکي یا بې غږه. دا بې غږه زما په اند دا سې لږ پیچلې وي، ځکه غږ خو هر یو لري، خو د دې بې غږه تورو غږ د غږلرونکي توري په مرسته څرکندیږي.

زه د زړه له کومې لهنورو ژبو بېلګې نه راړم، خو د لا زیاتې روښانونې لهپاره له درې یوه بېلګه راوړم. پهدرې کې ی څو ډوله ویل کیږي، خو دوي وایې، چې همدا یوه ی ده، موږ پرته له ی ، څلور ډوله لیکنه یې باید وي، دا نور غږتوري یو یو بولو، خو د ویلو توپیر شته، باید وي او ورسره بلد یو، همداسې دې وي، که نه نو لیکله هغه په نړیوال اب

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې وي، چې د هرې ژبې ویندول یا ویېنه په کې شته. په دې لرلو ستونځو سره بلد یو او د نورو سرهبه لا نورې ستونځې زېږوي. موږ خو یو غږ هم نه یو.

د بې غږه تورو سره به سر او کار ونه لرو.

غږلرونکي توري: ا و ی ي ې ئ دي او زما په اند ک ه د یوه وی پهپای کې ځای ولري، یو غږ ورکوي لکه ا.

د غږ لرونکو تورو دنده:

غږلرونکي توري بې د غږ له سمښته بله دنده نه لري.له دې دا پوهېږو، چې د غږلرونکو تورو له مخې موږ نومونه، نومځاینیوي او یا کړنې نه سره توپیرېږي یا ښه یې ټاکي، له دې پوهیږو، چې ټاکونکې دنده نه لري، خو په نومونو کې که چېرې پای کې راشي، نو د هغه نوم نرښځه ترې روښانه کېدی شي. لنډ: ټاکونکي نه دي، نو ټا..................ږ

زموږ د ژبې له پاره، نه! د هرې ژبې له پاره نا یا هغه د ژبې اړوند غږلرونکي توري بسیا نه کوي، خو د هرې ژبې خلک ورسره ستونځې نه لري او زما وړاندیز هم دا دی، چې په دې زیات او کم به ځانونه نه بوختوو، په ژبه کې پوره کار شته، چې هغو غورو ته یې ځانونه باید د نورو ستونځو ازاد وساتو.

که وګورو، نو ا به څو ډوله غږونو سره مخامخ شو او همداسې د ه سره، چې په پای کې وي او دوه د وو غږونه رو، دا په دې ترې پوهېدنه نه دی، چې ګوندې موږ دې دوه ووونه ولرو، دا دوه غږونه دي او څلور یېګانې.

یادونه او پام: ځنې زموږ لیکوالان پنځمه یې ( ئ ) هم ورزیاتوي، چې کړیاله او نومیاله یې بولي، دا په دې ترې پوهېدنه، چې یو غږ او دوه ډوله لیکنې، دا په دې ترې پوهېدنه، چې غږلرونکي تورو ته دې یوه د غږ څخه پرته بله دده ورپه برخه کړی شوه. یو غږلرونکی توری، چې څنګه غږ لري، خو په همغه ډول به یې لیکو. یوه غږ ته به دیوه توري غږ ته به دوه دندې نه ورسپارو، دا ناسم دی او که نه؟ نو بیا داسې دندې دا نور توري یا لږ تر لږه غږلرونکي توري هم ولري( د ټولګیزوالي لار: څه چې ټولګیز کېدی نه شي یا نه وي ، هغه ناسم دی).

یادونه: اوس ګورم، د ګوډي الف دندې نورې هم زیاتې شوي او په ا، و او ه یې هم په سر ورلیکي، نو فکر وکړی، چې زموږ د شمېروني د تورو ګوتمی به مو څومره لا ډېرې شي.

هیله مې: راځی له خپله ځانه هر ابتکار سره مخه ښه وکړو. ژبه مو هرڅه له پیداېښته لري، دا موږ ته ستونځې نه پېښوي. تاسو دژبو په هکله د نورو ژبو کتابونه وګوری، چې څومره پراخه دي او څومره څهباید ولوستل شي.

موږ په پوهنه کې لا تراوسه په پیل کې یو لا وروسته پاتې، چې دې وروستیو یوڅلوېښتو کلونو کې مو په شاتګ کړی او ښه پوره ډېر. پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژبه کې مو ستونځې ډېرې دي.راځی، چې وګورو،ولې، څنګه او اوبی یې کوم دی؟

وايي چې: زده کړه تر مړستون پورې کيږي اودارښتیا ده. زه هم همدا اوس په ورب یا کړنوی ښه پوه شوم.

# Verb کړنوی، بوختواليوی، کړوی

## فعل ( کړنه، بوختوالی،کړ (؟). ښه يې: کړنوی،بوختواليوی)

**Verb** ورب( لاتين verbum temporale، مهالوی یا وخت اړوند وی یا لنډ: وی) وختوی، بوختوالي وی د يوه ويډول له پاره د ورځني (traditionellen ) ګرامر یا ژبلار مسلکي وينه (افاده) ده، چې يو بوختوالی، يوه پيښه يا يو حالتوی په ګوته کوي او ويونه په بر کې نيسي لکه تلل، خوړل، الوتل او نور.

پيژند: کړنويونه په خپله دنده کې د يوې غونډالي يو منځنی پرېديکات جوړوي، چې په خپل ګردچاپير يا چاپېريال نور ټول توکي تنظيم کړي. هغه د موضوع د رول جوړونه ټاکي او هغوي د مهال، موډال ( د کړني د حالتونوسره سراوکار لري. زما په ليکنوکې ګوته ورته نيولشوې) اسپکتوی ( ژبلاريز وی دي، چې د يوه حالت وختځای په ګوته کوي) بوختوالی او نورو معلوماتو، ... ټاکونکي دي.

په الماني ژبلار( د دې به راته بخښنه وکړی، چې الماني ژبلار ليکم. د اله دې امله، چې زه مې ليکنې د الماني په مټه ليکم، خو باور مې دی، چې د پښتو ژبلار په هکله به مې دا ليکنې هم باوري وي) کې کړنوی د بدليدنوړ وي په توګه پيژند لري، چې يوبوختوالی ( که بوختتيا؟)، يوه کيدنه يا يو حالت په نخښه کوي يا ښايي. په ښوونځي ژبلار کې دا له دې امله بوختواليوی، مهالوی، يا کړنوی هم بلل کيږي او په لاندې برخو وېشل کيږي:

په بوختوالي/کړنه کې(ژړل،ګوتنيول،ورکول).

کيدنويونه ( لوييدل، زوروېدل) دا داسې ويونه دي، چې کړوني ته اړتيا نه شته دا کړل کيږي نه، دا کيږي يا کيدل کيږي.

يادونه: کړنه او کيدنه: کړنه يو کړونی لري يعنې يوڅوک څه کوي اوکيدنه کړونی نه لري،هغه کيږي.

حالتويونه( درېدل، ژوندکول، پاتې کيدل يا پاتيدل). دا منځپانګې ټاکنې ته ګوتنيونه هم کيدی شي، داسې چې: شيييزې بوختياوې، کيدنې اوحالتونه په نخښه کولی شي(بيلګې: چمتووالی، پيښه، راتلنه).

د کړنوی توپير د نورو ويونو سره په دې کې دی، چې دا يواځې ښه- بيدليدونکی( دا- ټرنګرښه ده) ويونه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – سپین ځي = تلل ( سپین)= ت (س)

۲ – پیشو موږک ونیوه = نیول ( پیشو، موږک)= ن ( پ،م)

دا سم اندیز جوړښت د ژبلارې کړن-ارزښتوالي ځانګړی ډول جوړوي.

داسې لږ نوره روښانه – ونه هم، چې زما ( دژبلارې له مخې د ،، زما،، په ځای،، دما،، سم دی)ورته پام راوګرځید:

کړنوی: تلل: لاړم یا ځم،

مهالوی: تلل: ځم، تللم،لاړم، تللی یم، تللی وم

بوختوالیوی: بوختتیا وې: کتابلوستل.

منډې وهل.

او سپورت کول.

څوبیلګې: تلل

موږ کابل ته ځو.

تاسوکابل ته ځئ.

هغه کابل ته ځي.

لنډ: ځو،ځئ،ځي، ځې،ځم.

نورې بیلګې که غواړئ‌تاسوراوړلی شئ.

موږ په پښتوکتابونو کې تر اوسه زده کړي، چې د عربي فعل یا ورب ته کړ وايي.

یادونه: موږ د فعل سره دوه ستونځې لرو.

۱ – کړ که کړنه یا بوختتیا(بوختوالی)

که ربښتیا ووایم په کړنه پوهیږم، چې دا د کړل لاس ته راغلی اوکه بل څه؟

که دا د ،،کړل،، له پاره کړ وي، نوکړل نوم په کړنه جوړیږي اونه په کړ

۲ - پوښتنه داده، چې ایا کړنوی په کوم پای توري یا په روښانه توکه یې که ووایوپه کومې یې سره ټاکل یا ښوول کیدی شي؟

ما په پورته ،،ځئ،، د ،،ئ ،، سره ونه لیکه، له دې امله، چې د توري له مخې کړنه او نوم نه شي ټاکل کیدی.دا ژبلارنه ده. دا ،، ئ ،، یواځې د دریم ډیرګونو یا ډیر کړو له پاره زموږ لیکوالان کاروي، د دې نور سره څه او همداسې د نورو بیګانوسره.

بیا ،، ئ ،، ته

۱ - د غلامۍ کړئ ماتې کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دلته ک-ړی ماتیږي یعنې ... کړئ، نو غلامې ته

وړې خورې وریژې وړې اوخورې.

و-ړې، خو – رې او وړې، خورې

دلته به د دې سره څه کوو. اویا دا لاندې:

۳ - ولې ولې ولې.

بیا: ولې(؟) ولې(بوټی) ولې(کړنه: وېشتل).

دا د ۳ – درې ویونه په شپږ کډوله ډوله لیکل کیږي او ۱ – په دوه ګډوله ډول.

دلته ګوره درې وې دي اود دوه –وو وینه هم یو ډول ده، نود دې سره به څه کوو

موږتول باید په ژبلار پاتې شو.

ژبلار ښوونه موږنه جوړوو، ژبلارښوونه له ژبې څخه راوځي. ژبلار په ژبه کې شته لارې بیرته ورکوي.

کړنوی موداسې لنډ وڅیړه. داپوره اوږده موضوع یا د خبرو ده، خوموږ به په همدې بسیاوکړو.

دا چې زه بې له شوخۍ په دې اوداسې خبروکې نوی زده -کړی یم، نوستاسومرستوته هیله لرم.

هیله ده له،، ئ ،، تیر شئ او یا یې په دلایلوودان وښایئ. دا دلیل نه دئ، چې ده یا هغه لیکلې اودا هم نه، چې کړئ اوکړئ سره توپیر کړئ.

د یوه کار کول یا کړل، یو څوک یې کوي یا کړي او په یو څه یا یو چا کیږي. دې ته وایو: کړنه، کړونی، پرېکړونی

ګرانو ژبپوهانو. زه تاسو ته لوړه کوم، چې زما لیکنې دچا مخامخ لامل نه لري او نه یې د کومو ګنډو له امله کوم او نه د ځانپالنې له امله. موخه مې ځان روغ او اند کارنده ساتل دي، چې لیونی نه شم. پاي

# ژبنیزو توکو پېژند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د ژبپوهانو له انده د ځنو ژبنيزو توکو روښانه پېژند نه شته، نو لهدې املهٔ مې د ځنو له پاره دا پيژندونه بيا بيا راوړي، هيله ده، چې شتړي مو نه کړي. که د ليکنې په ترتيب کې مو ناسمون سترګو ته کېده بخښنه به وي، خو دې پېژندونو ماته پوره خوند راکړ.

وی:

يو وی يو خپلواک ژبنيز يوون( يووالى يا ناسم يې واحد) دی. د يوه غږ يا سېلبې سره په مخامخوالي دا په پيداښتي ژبه کې پرته له غږ يا سېلبې يوه خپلواکه مانا هم لري. يو ټوليز باوري پېژند د دې له پاره نه شته او ستونځمن هم دی. دا موضوع ډېره اوږده څېړل شوې، ما يې يواځې هغه لنډ پېژند له تاسو سره بيا ګډ کړ.

پورته مو وويل چې وی ټوټه کېدی شي، مګر مورفيم نه ټوټه کېدونکی دی او کېدی شي، چې دا يو مورفيم يو وی وي.

بيا د غږونو ډولونه او نورې ځانګړتياوې هم شته، چې هغه په دباندنيو د پرمختتلو ژبو په ادبياتو کې هرو مرو شته او په ښه توګه.

بيا:

وی څه شی دی؟

يو وی يو خپلواک ژبنيز يووالى( ناسم يې واحد) دی. په پيداښتي ژبه کې دا – د غږ يا سيلبې مخامخ- يو خپلواکه يا ښه يې نااړونده مانا لري. يو ټوليز منل شوی پېژند نه شته او ستونځمن هم دی، ځکه چې دا د کليمه ،، وی ،، د ژبپوهانو منځ کې يا پوره اوبی نه ده او يا يې په بل څه يادوي . ګومان مې دی يو فرانسوی ژبپوه د ،، وی،، په ځای ساده ،، نخښنه،، کاروي. دلته هم د ليکلو او روښانه ونې، ښه يې څېړنې اړتيا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبوکې يې وګورى..

## کلمه څه شی دی؟

; ;Begrifftrem کلمه انګرېزي او الماني يې

د وی ،، کلمې ،، سره د يوې نخښنه ونې يا يوه اندلرنې يا حدث وهنې مانامنځپانګه ويل کيږي يا پوهېدل کيږي. يوه کلمه يو سيمانتيکي يووالى جوړوي، چې د يوه نومځاينيوي يا يوه اند برخه ده. دا هم همدومره. پوهېږم، چې دا څه همدومره روښانه ولی شم، ډېر وخت نيسي، چې دا سرته رسوم. ډېر نه دی، خو ورسره بوختيا بايد زياته وي ( په بخښنه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غونډاله:

يوه غونډاله له يوه يا ډېرو ويونو جوړ رابند ژبنی يووالی (واحد ناسم دئ) دئ. د غونډالکليمي پېژند له بې‌لابې‌لو ليدلورو ورکړ شوی دئ، چي يو بل سره نه پټوي يا ښه يي نه پوښوي. په ټوله کي يوه غونډاله له ژبپوهنيزي لاري، د يوه ستر يووالي په څېر، پيژندلکې‌دی شي، چي د سينتاکس(پېژند يي ورکړل شوی) له لاري ورکول کې‌دی شي.ځني څرګندونغونډاله د خبرو اترو٠کمونيکېشن) د خورا کوچني د پوهونی يووالي پېژندل کيږي. خبرکړنې(خبراکت ) په څېرمنځ ته راتلی شي، له

بله انده دلته د د څرګندوني کلمه کارول کيږي

د غونډالي کلمي ټاکلو له پاره ډېرډوله ليکني يا اندونه شتون لري، چي د ټولو يوځايکونه نږدې ۲۰۰ ته د غونډالي پېژندونه رسيږي. هرژبنی ښوونځي خپله ځانله د غونډالي پېژند منځ ته راوړي. بې‌لا بې‌ل سم انديز، فلسفی، د خبرو اترو پوهنيز او ساپوهنيز اړخونه لړ يو بل سره يوغږيزکوي ليدل کيږي. ورته نيولکيږي، ، چي چي د نخښونو پسي غونډاله يوه يواځنی کلمه ده، بلکه يوه ټوله کورني، چي يو بل سره غوڅووني يا ګډغوڅوونکي ـ په دې مانا چي ګډ څه سره لري) ځان پسي لري.

### ۱ . ۱ Definitionsbefund پېژندپيداکونه

**Schulduden1.1.1** د ښوونځي دودن

**Grammatik-Duden1.1.2** ګرامر دودن -

**und Prädikateinheit -Satz als Subjekt1.1.3** غونډاله د سبجکت- اوپرېديکات په څېر

**oder Textelement -Satz als Rede1.1.4** غونډاله د خبرو- يا ليکنتوکي په څېر

**Satz als kommunikative Einheit1.1.5** غونډاله د خبرو اترو يووالي په څېر

دا موضوع نوره نه غزوو، که څه هم ډېره خوندوره او په زړه پورې ده.

د پېژند پيداکونه :

دلته کې‌دی شي د غونډالي يوڅو خواره شوي پېژندونه بې‌رته ورکړی شي:

د ښوونځي دودن ـ( دودن د الماني ژبې شننيزه کتابونه دي، چي په هره ځانګه يانږدې په هره ځانګه کي يي لري): د غونډالي د ښوونځي دودن پېژند دی: ،، ژبه يو رابند ژبني يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړلی یووالی دئ، چې له کوچنیو یوونونو( ویونه او ویونډلې یا – ګروپونه)
یوځای( اینسوول) شوي،،

دا چې غونډالې د یوه وي سره شتون لري( بېلګه یې : ځه) ، نو کېدی شي د یوې داسې غونډلې پېژند د وی څخه توپیر ونه لري. یا توپر نه شو کړی. دا هم روښانه نه ده،، جې ژبني یووالي لاندې څه پوهېږو. یوه ویډله (سنتاګما) هم په خپل دننه کې هم رابند یا پوښلی ژبني یووالی دئ. نو له دې امله په پورته پېژند کې دویونو پسې راتلنه یا تعقیب په خپل دننه کې یو ژبنی رابند یا پوښلی یووالی دئ

نو له دې سره پورته پېژند د ویونو پرلپسې (راتلنه) ،، په خپل دننه کې یو رابند ژبني یووالی دئ.،، یو په خپل دننه کې رابند ژبني یووالی، بې له دې چې د یېژند له مخې روښانه وی، چې د څه له امله یا کومې لارې یوه داسې ویډله دې ځان له یوې غونډالې سره بېل کړي

غونډاله ستر یووال یا یوون (واحد ناسم دئ) دئ، چې د سینتاکس له لارې جوړېدی شي،،

د بلومفیلد پېژند له مخې: غونډاله،، د خورا لویې خپلواک
سینتاکتیکې بنې په څېر ، چې د خپلې لوري د هیڅ ګراماتیکي
جوړښت په یوه خورا لویه سینتاکتیکي بنه کې خوندي نه ده. ،،

د دودن ګرامر: د دودن ګرامر زیات غونډالپېزندونه راته وړاندې کوي:

،، یوه غونډاله یو پوښلی یا رابند یووالی دئ، کوم چې د سنتاکس له لارې جوړ شوی دئ

موږ نا پورهغونډالې هم لرو، چې په لاندې ډول یې لږ روښانه کوو:
ناپوره غونډالې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ،،غونډالي،، کليمې لاندې نا پوره غونډالې هم راځي، نو داسې غونډالې چې د هغوي اړتيا له مخې يا اړينډوله د غونډالي يو يا ډېر غړي نه وي. بېلابېل تيوپونه سره توپيريږي:

Anakoluth[on] (= Satzbruchغونډالماتېدنه

،، په څه مو غوښتل بيا... هو بيا مې په ياد راغلل:دا د پرون لوبې په هکله.،،

يوه پيچلې غونډاله دغونډاللړۍ او غونډالزياتونو سره سړی يو غونډالراګرځېدونکې هم بولي.

غونډالې کړی شي د يوه يوه تړوني( سيدېتيک) يا د ډېرو تړونو (پولسينډېتيکي) يا بې تړوني( اسينډېتيکي) يو د بل سره وتړل شي.

:Beispielسينډېتيکي: :

سينډېتيکي: ،، زه راغلم، ما وکتل او زه بريالی شوم،،.

پوليوسينډيتيکي: ،،زه راغلم او ما وليدل او زه بريالی شوم،،.

اسينډېتيکي: ،، زه راغلم، ما وليدل، زه بريالی شوم

-

نوميزه غونډاله، چې ډېر وخت ترې غونډالې بې له مرستندوي کړنې دې پوهيږو.

بېلګه: ،، ښځه لاړه، پيسې لاړې، کور لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولیز پېژند یا غونډالجوړښت ښونه: Syntax د سینټاکس

ننخښنو ته ګډوله لارسیستم پوهیږي

دا لاندې لیکنه، چې الماني ژبې په مرسته لیکل شوې وګورئ، چې د پښتو سره سرخوري او که؟ او که نه نو په ګډه یې راسمولی شو.

## د غونډالو جوړښت

غونډالې د ژبې د ټوکو له یوځای اینښوولو

څخه جوړیږي.

## ګډوله غونډالې- پیلونه

یوه ګډوله غونډاله له دوه یا ډېرو پوره غونډالو جوړه ده، چې هغوي یو د بل سره تړلې ، سم اندیز خپلواکې غونډالې دي، چې ګډه موضوع لري او تړنویونو،، او،، او همداسې ،،یا،، سره تړل کیږي. دا ډول غونډالتړنه تنظیم شوې ( بنسټغونډاله یا اصلي غونډاله) تړنه بلل کیږي. تړنویونه ( د بېلګې په توګه یا، او) سرې منظمکوونکې تړنویونه بولي.

بېلګه: او

سپین له ننګرهار څخه راځي. خوږه له خوست څخه راځي..

سپین له ننګرهار څخه راځي او خوږه له خوست څخه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات وخت د دوه غونډالو منځ کې یوه سم اندیزه ترِنه شته وي یا شتون لري.

په لاندې بېلګه کې دویمه غونډاله د لومړۍ غونډالې له پاره یو لامل دی او لومړۍ غونډاله د دویمې غونډالې یو سم اندیز پسې رتلنه یا پرلپسې ده.

بېلګه: پرلپسې( تعقیب) – لامل

هغه نه راځي. هغه ناروغ دی. د دوه غونډالو سم اندیز ګډاړیکوالی د دوه ترِنویونو له لارې جوړیږي. سړی کړی شي د یوه سم اندیز دلیل-پرلپسې-اړیکې د بېلګې په توګه ترِنویونه (ولې) چې، له دې امله، ، ځکه چې و کاروي.

بېلګه:

دا(ولې) چې: هغه نه راځي، دا (ولې)چې هغه ناروغه دی

له دې امله: هغه ناروغه دی، له دې امله هغه نه راځي.

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغه دی.

ترِلشوې غونډالې د یوې کوما له لارې سره بېلیږي. ترِنویونه لومړۍ او یا دویمې غونډالې پورې اړه لري. هغه دا غونډاله ،، په نخښنه،، کوي. سړی کړی شي د ځنو ترِنویونو له لارې( د بېلګې په توګه ځکه چې) د غونډالو لړۍ پرلپسې سره بدلې کړي، د ځنو سره نه ( د بېلګې په توګه داچې، له دې امله).

بېلګه: ځکه چې

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

ځکه چې هغه ناروغ دی، هغه نه راځي.

## بنسټغونډال – او څنګیزغونډالترِنه

ترِنویونه د کړنې یا کړ ځای ټاکي. د کړنځای ټاکنې پسې سړی کړی شي د سم اندیز غونډالترِنې دوه اریز- یا اصلي ډولونه سره بېل کړي:

لومړی داچې ترِنه، چې په هغې کې کړنه په یوه غونډاله کې په اخر ځای کې ولاړه وي( که غواړې: ځاي په ځای وي). د ترِنې دا ډول څنګیزغونډالترِنه بلل کیږي یا سړی دا ډول ترِنه څنګیزغونډالترِنه – یا نیممنظمه ترِنه بولې. ترِنویونه سړی نیممنظمه ترِونې بولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګه:  ځکه چې( ځنګيز غونډالتړنه= کړنه په پای کې)

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

په الماني ژبلار کې.

دويمه تړنه، چې په هغې کې کړنه يا کړ ، چې د هغې سره  په دواړو غونډالو کې په نورمال تړنځای ۲ کې ولاړ وي. دا تړنه ادوربال( يا ارجمله) تړنه بلل کيږي.

الماني يې:

Beispiel: *deshalb (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 2)*

Er ist krank, *deshalb kommt* er heute nicht.

که دا پورته په الماني ترتيب وژباړو، نو وبه ليکو: .

په سمه پښتو کې: دا په پښتو کې هم ورسره بلد ځای کې راځي .

بېلګه: له دې امله:

هغه ناروغ دی، له دې امله هغه نن نه راځي.

الماني ګرامر کې:

بېلګه:

Beispiel: *denn (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 3)*
Er kommt heute nicht, *denn* er *ist* krank.

په پښتو کې دا هم په هغه د پښتو  ګرامر ور  سره بلد ځای کې راځي.

بېلګه:  هغه نن نه راځي، دا چې ( ځکه چې) هغه ناروغ دی.

په پښتو کې،، دا چې،، او  ،،ځکه چې،، زما په اند همغه يو ډول دي او که څنګه؟

## تړنويزې ويېنې( يا افادې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی کړی شي د غونډالو یو سم اندیزه تړنه د تړنویونو له لارې ووایي( افاده کړي). له دې سره یوه برخغونډاله نومیزه کیږي او په یوه تړنوییزه ویېنه کې په یوه غونډاله کې ورګډیږي.

بېلګه: ځکه چې – له امله

څنګیز غونډالتړنه: ځکه چې( یا دا چې ) هغه ناروغ دی، نن نه راځي

تړنوییزه ویېنه: د هغه د ناروغتیا له امله هغه نن نه راځي.

تړنوییزه ویېنه کې په غونډاله کې د کوما له لارې بېلیدنه نه راځي.

## حاالتونه او ،،زما،، که ،،دما،، او نور Causus

یادونه: دا لیکنه به کیدی شي بیا ځل څه ولري، خو بیا همغه متل دی۫ چې دوه واره کنډلی کلک وي.

له هغه وخته مې چې د نومځانیوو او حالت په هکله لیکنې کړي، نو د همغه وخت راپه دېخوا مې زړه وو، چې دا لیکنه سرته ورسوم، خو په خپل اند او فکر مې ورسره ستونځې هم پوره ډېرې وې. په دې لیکنې دادئ پیل کوم، په دې هیله، چې ژبپوهان او نور د ژبې مینه وال به په کې شونې ونډه واخلي، زه یواځې دا موضوع تاسو ته د خپل اند سره وړاندې کوم. دا چې څنګه مخ ته لاړ شو او لاسته راوړنه به یې څنګه او څه وي، دا تاسو ژبپوهانو ته درپاتې دئ.

زما لیکنې ټولې د الماني په مرسته دي، نو دا چې په الماني کې حالت څنګه دی، هلته روښانه لار شته او ټولې لارې هم د نومځاینیوو او نورو له لارې روښانه شوې دي، خو په پښتو کې داسې نه ده او زه ورسره ستونځې لرم، چې دا نو باید څنګه وشي. دا چې پښتو هم یوه پوره ژبه ده، داسې لارې یا خپلې لارې لري، چې زه یې تاسو ته مخ ته کوم او دا چې څنګه وشي او څنګه د ژبلارې له لارې دي، ستاسو دنده دې وي. که په دې هکله لیکنې ولرو، زه لکه تل په خواشینې وایم، چې ترې خبر نه یم او که لیکنې وي هم باور وکړئ، چې دا به خپل بلډولوالی ولري او تاسو به ګډ کار ته راوهڅوي.

ګرانو لوستونکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لیکنې څخه مې موخه دا ده، چې دا حالتونه موږ په پښتو کې وڅېړو ، چې څو او کوم دي او په دې برسېره د همدې حالتونو په بنسټ یا مرسته وڅېړو، چې دا د ملکیت له پاره دا دما، دتا سم دې او که نه زما او ستا. موږ دا دواړه په ژبه کې لرو، چې ځنې ځایونه دما، دتا او ځنې بیا زما او ستا وایي. دا یوه پوهنیزه څېړنه ده او دا اجازه به ځان ته ورکړم، چې له تاسو درنو ژبپوهان او مینه والو لوستونکو څخه د ګډ کار هیله وکړم.

دا حالتونه د پوښتنو په بنسټ رامنځ ته کیږي

نومیناتیو**Nominativ** (له لاتین څخه، نومونی یا نومونیز) په ګرامر کې د یوه حالت نومونه ده، چې د هرڅه له مخه ( سمه لیکنه یې: له هرڅه دمخه) په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تیپیکي دئ چې د یوه شي د خپلواک کارونې له پاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې مانا چې بې د بل له واکه).

لنډ: دا حالت دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه حالت،، بلل کیږي، د یوه حالت سیستم په توګه رامنځ ته کیږي، چې دا نومیناتیو – اکوزاتیوسیستم بلل کیږي.

بیا: د نومیناتیو یا د ،، څوک،،چا - ،، او ،،څه شي،، حالت.

موږ د ګړنو یا کړ له مخې د دوه ډوله لیکنو سره مخامخ یو:

لومړی:

سپین یا هغه کار ته ځي

سپین یا هغه کار ته لاړ

سپین یا هغه به کار ته لاړ شي

سپین یا هغه کار ته تللی وو

څوک کار ته.......

سپین یا هغه

زه کار ته ځم

زه کار ته لاړم

زه به کار ته لاړ شم.

زه کار ته تللی وم.

دویم ډول یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه منه خورم

زه به منه وخورم

ما منه وخوړه

ما منه خوړلې وه.

دا همداسې د دويم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ريم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دريم کس کې ليکنه يو ډول ده، خو د ويلو څخه برېښي، چې لومړۍ ه څرګنده يا روښانه ه ده او په دويم کې بيا دا پڅه ه ده او که بل ډول يې بولی. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي)

يعنې په درېواړو کسانو کې يې توپير يو ډول دی، چې د کړنې پرته يې په ځو کړنو کې نومځاينيوی هم بدليږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه حالت دې.

مور کار ته ځي.

څوک کار ته ځي؟ ځواب: مور

کاليمينځی خرابيږي.

څه شی خرابيږي؟ ځواب:کاليمينځی

---

يادونه: ماته هم دا نومونه توکلي د ليکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهيږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمينځي،کاليمينځی، کاليمينځونی يا کاليمينځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مينځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

## جينيتيو Der **Genitiv**

جينيتيو د الماني ګرامردويم حالت دی.

دا به مو په پښتو کې هم اسې روښانه کړو، چې د خبرو بايد وي:

لومړی: دا حالت د ملکيت حالت يا د ،، ،،دچا،، حالت په نامه هم يادېږي.

يادونه: په نوميز حالت ،، چا-،، وو او دلته ،، د چا-،، حالت دی.

بيلګې: ،،د ګاونډي کور،،.

دا د چا کور دي. دا د ګاونډي

،، د يوه لرې زنګ غږ،،.

د جينيتيو ،،په څه (شي)،، حالت

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په غلا تورن دئ.

هغه په څه (شي) تورن دي ؟ ځواب: په غلا

---

## داتیو Der **Dativ**

داتیو د الماني ژبې دریم حالت دئ یا په جمله کې دریم حالت په ګوته کوي. داتیو د ،، چاته حالت،، هم بلل کیږي.

د داتیوله پاره په الماني پوښتنه پوښتنه کیږي، چې چا ته؟

بیلګې: زه دې میرمن ته د یادښت کتابچه ورکوم. چا ته د یادښت کتابچه ورکوم؟ ځواب: میرمن ته.

هوګۍ سوغات سپین ته ورکړ.

هوګۍ سوغات چا ته ورکړ؟ځواب: سپین ته

زه زما ( دما) ملګري ته یوکتاب سوغات ورکوم.

چا ته سوغات ورکوم؟ځواب: زما ملګري ته.

---

## اکوزاتیو Akkusativ

یادونه: د دې حالت اړونده حالت لیکني په نورو حالتونو برېښي.

اکوزاتیو یوګرامري حالت دئ. په ورځني الماني ګرامر کې دا د څلورم حالت سره ترتیبیږي. د دې د روښانتیا له پاره په الماني کې پوښتنه کیږي، چې ،،څه (شی)،، یا څوک او که ،،د چا؟؟؟،،، نو دا له دې امله د څوک حالت هم بلل کیږي.

اکوزاتیو: د ،، چا - یا څه شي حالت

ښاغلی سپین خپل ورور ګوري

ښاغلی سپین د چا لیدنه کوي؟ ځواب: د خپل ورور

دا پورته غونداله زموږ پښتو کې داسې ورځنۍ نه ده، نو دا څنګه ده؟ سمه او که ناسمه.

زه خپل ملګري ته یوکتاب ډالی یا سوغات ورکوم.

زه خپل ملګري ته څه شی سوغاتوم یا سوغات ورکوم؟ ځواب: یوکتاب

دلته له هرڅه د مخه یوه یادونه ده، چې باید پام موورته وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دلته سربل ليکلی يا پ،دلته د پښتو اوستربلونه زيات دي او همداسي کيدی شي سيرکومپوزېشنونه هم وي،چي هغه به ګران لوستونکي په اړونده ځای کي ولوستلی شي. د نه کارڅخه نيمګړی کار هم هرومرو ښه دی، په ډېره بخښنه، که دا کار موسترې کړي.

يادونه: د دي سر بلونو او اوستربلونو.... باندي خو نه پوهيږم، خو ما هغه د الماني انډول يا د يوه اماني وی انډول د دي له پاره اړيکويونه ليکلي، ناسم نه دی، ځو ستاسو خوښه

دلته به بيا د لړ بيا لوستني سره مخامخ شو، ما که په ليکلو ستړی کوي هم، هيله ده، چي تاسو په لوستلو ستړي نه کړي.

که له الماني څخه يي راواخلو، نو (بايد فکر ورته وکړو، چي په پښتو کي به څنګه وي؟) حالت يا کاسوس په الماني کي څلور حالتونه په نخښه کوي. حالت موږ ته ښايي، چي نومن د نورو توکو سره په جمله کي د نومن، د ، ملکيت، داتيو او؟؟؟ څنګ نوری څه اړيکي لري. نومن يا نومونه، د هغه ملګري(چي ښځينه نارينه تري څرګنديږی( الماني يي ارتيکل)) همداسي وکيل يا نماينده( نومځاينيوی) په حالت کي جوړيږي.

دي ته سړی کردان يا بدلون وايي. نومونه، ارتيکل يا نر- ښځينه والی او نومځاينيوي د خپلي دندی له مخي ګردانيږي يا بڼه بدليږي

## حالت د څه له پاره په کار راځي؟Wofür braucht man den Kasus?

د دي له پاره چي د حالت موخه باندي وپوهيږو، غوره ده چي يوځل يوه جمله په پام کي راولو، چي توکي يي ګردان يا بڼه-بدل شوي نه وي. دلته پام ته راځي، چي دا چي دايوګوني حالتونه نه يواځي يوه دنده لري، بلکه د دي له پاره مسئوليت يا دنده لري، چي موږ وپوهيږو. يوه غوندالة چي دا په پام کي ونه نيسي د پوهېدلو نه ده.

دلته يوه بېلګه راوړو:

نابڼه بدلون سره: ښځه وروروملا لور خولي ورکوي.

بڼه بدلون سره: د ورور ښځه د ښوونکي لور ته خولي ورکوي.

لاندي يي الماني:

**Nicht dekliniert:** Die Frau der Bruder geben der Tochter der lehrer der Hut.
**Dekliniert:** Die Frau des Bruders gibt der Tochter des Lehrers den Hut.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړۍ غونډاله کې  د غونډالي ځانګړي توکي بڼه بدل شوي نه دي او په لاس ته راوړنه کې په اړونده حالتونو هم نه دي برابر شوي او په پام راځي، چې غونډاله پوهوړ نه ده. د دې په الماني کې (په پښتو کې باید ځانله ځیرنې پرې و شي) د څلورو حالتونو غوره دئ، چې دا الماني او زموږ په حالت کې دا پښتو یې وپوهیږو .

ګردان یا بڼه بدلېدنه شوني کوي، چې د نومه ونې یا نومیناتیو اړیکې نورو توکو ته روښانه شي سمه ګردانونه یا بڼه بدلونه یې په الماني کې سمه ده او پښتو کې به ورته پام وکړو.

دا چې په دې غونډاله کې کوم حالتونه او څنګه راغلي، د الماني څخه یې پیل کوو او بیا پښتو ته راځو.

Nominativ + genitiv   Prädikat  Dativ+genetiv  Akusativ

Die   Frau der Bruder  gibt der Tochter desLehrers den Huz

ملکیت(؟) + نوموی  ملکیت+ داتیو(؟)   نومن کړنه یا پرېدیکات

د ورور ښځه     د ښوونکي لور ته   خولې   ورکوي.

لږ تر لږه دلته ګورو، چې د پښتو غونډاله له ملکیت څخه پیل کیږي او پسې ته به ګډ فکر وکړو...

---

**په الماني کې څلور حالتونه دي او په پښتو کې به ورته وګورو، چې ستاسو کار په کې اړیین دئ.**

د الماني غونډاله په نومونه پیلیږي، خو لاندې پښتو یې په خاوندوالي پیلیږي، پسې نومیناتیو راځي بیا خاوندالی پسې داتیو پسې خولې باندې پرېکړه نه کوم، چې د ګرامر له مخې څه شی دئ او پسې ورکوي پرېدیکات یا کړنه ده.

د پښتو حالتونه یې داسې

د ورور ښځه د ښوونکي لور ته خولې ورکوي.

د دې پوښتنه به داسې وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا څوک د چا چاته څه شی ورکوي؟

واکوالی نومونه واکوال داتیو نومونه کړنه.

دلته په پښتو کې د اکوزاتیو حالت ګومان مې دی نه شته. پوښتنه دا ده، چې ایا موږ د اکوزاتیو حالت لرو او که څنګه؟دا د خبرو یوه موضوع باید وي. په الماني کې هم کله کله داتیو د اکوزاتیو سره رآځي. په پورته غونداله کې خولۍ په الماني کې اکوزاتیو دی، خو پښتو کې داسې برېښي، چې نومیناتیو دی، و بیا هم پوره څېړنې ته یې اړتیا شته.

**نوموی کېدی شي د چا /څه شی له ؟ له لارې وپوښتل شي.**

**دا حالتونه چې پېژندل – او څېړلکیږي د همدې پورته پوښتنویونو له لارې کیږي.**

**په پښتو کې نومځاینیوي او حالتونه**

**ما تراوسه له تاسو سره د الماني نومځاینیوو او همدا ډول د حالتونو په هکله خپلې لیکنې ګډې کړې. راځئ، چې وګورو، چې دا به په پښتو کې څنګه وي. دا به هم له الماني څخه په ګټه اخستنه باندې ودانې وي.**

## په پښتو کې نومځاینیوي:

**په الماني کې مو ولیدل، چې د نومځاینیوو ډېر ډولونه دي، خو موږ په پښتو کې ګورو چې پیداپښتي باید بل ډول وي، زه به یې له ډلې دا لاندې راواخلم او نور به هم سره خبرو ته راواچوو.**

**<u>Personalpronomen</u>** ځانیز یا شخصي نومځاینیوي

**د هرې ژبې د ویونو او همداسې د نومځاینیوو جوړښت سره توپیر لري او باید یې هم ولري، دا پیداپښتي ده. دا نومځاینیوي په الماني کې ډېر ډولونه لري، خو موږ په پښتو کې دا ساده څېړو او په نورو وړو غټو یې نه غږېږم، دا به نورو ګرانو د ژبې مینه والو ته پرېږدو.**

**نومځاینیوي د کړنو ډولونو سره هم توپیر لري، چې په لاندې کې به یې وګورو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړینه یادونه: موږ په یوهبل ځای کې هم دا موضوع څېړلې او هلته مو ښوولې، چې زما، زخمږ، تستا، ستاسو په ځای ئم یې دما، دتا، دموږ، دتاسو دي. تاسوهمبیا پوره پام ورته وکئ.

موږ نومځاینیوي لرو:

لومړی کس: زه، ما.

دویم کس: ته، تا،

نږدې دریم کی نارینه: دی ، ده،

ښځینه : دا ، دې

دریم لرې نارینه: هغه ( دلته ه روښانه ده)، هغه( دلته ه پڅه ده)،

ښځینه: هغه، هغې.

زیات یې : موږ، تاسو، دوي او هغوي

اوس غواړو دا په غونډالو کې وکاروو:

زه اوس غواړم یواځې د لومړي کس له پاره دا د کړنې سره وکاروم. او وبه ګورو، چې توپیر یې د نورو .ژبو یا د الماني سره څه دئ. الماني غونډالې به را نه وړو، یواځې به یې څرنګوالي ته کوته ونیسو.

د ځم یا تلل سره: زه ځم ، زه لاړم، زه به لاړ شم، زه تللم، زه تللی وم.

ګورو دلته په ټولو مهالونو کې همغه ،، زه ،، راځي.

د یو بلې کړنې ،، خوړل،، سره:

زه منه خورم، زه به منه وخورم.

ما منه وخوړه. ما منه خوړه. ما منه خوړلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په پورته کې د ،، خوړل،، سره ګورئ، چې په ځنو مهالونو کې ،، زه ،، راځي او بيا دا ،، زه ،، په ما اوړي يا د زه په ځای ما راځي.**

**موږ داسې مخ ته ځو:**

**لومړی:**

**په دې نورو، يعني د دويم کس او دريمو کسانو له پاره هم په همدې ډول د کړن د بڼه بدلون سره په ځنو کړنو کې نومځانيوی هم (بڼه) بدليږي.**

**له پورته نومځاينيوو برېښي، چې د زه، ته، دا، هغه(؟روښانه يا څرګنده ه) له پاره زيات نه شته، چې دا د پښتو ژبې و الماني ته يوه بله ځانګړنه ده.**

**ځنې کسان بيا د تا له پاره زيات تاسو نه ليکي، دوي د ته له پاره تسوليکي، چې دا ناسم دئ او دا تاسو د تا زيات دئ او نه د ته.**

**دويم:**

**زموږ د څېړنې دويمه دنده دې دا وي، چې دکومو کړنو له پاره نومځاينيوي بدليږي او د کومو له پاره نه بدليږي او د دې له پاره کومه ژبپوهنيزه لار شته او که څنګه؟.**

**يادونه: په الماني ژبه کې لکه په پښتو کې چې له زه څخه بيا ،، ما،، جوړيږي، داسې لار نه شته او په ټولو وختونو کې همغه نومځاينيوی راځي.**

**دريم:**

**موږ خو په الماني ژبه کې د نومځاينيوو څو ډولونه وکتل يا و څېړل. دادې د ګرانو لوستونکو او مينه والو دنده وي، چې په پښتو کې هم وڅېړي، چې موږ څو ډوله نومځاينيوي لرو او يا همدا ځانيز نومځای نيوي لرو او بس..**

**کازوس يا حالت په پښتو کې:**

**په الماني کې مو حالتونه د ګرامر په بنسټ يا له مخې وڅېړل، چې نوميناتيو، جينيتيو، اکوزاتيو او داتيو دي. راځئ، چې دا او يا موږ دا انډول څنګه بيا ليک، ژبې سره ورته دي، خو کټمټ نه دي، چې دا ځانګړنوالی د پښتو او الماني منځ کې هم شته. راځئ چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا په پښتو کې هم وځېږو، چې څو او ولې شته یا نه شته  او یا د دې له پاره نورې کومې لارې شته.**

**دا چې پښتو هم یوه ژبه ده او پوره ژبه ده، نو هرومرو په پښتو کې هم د دې له پاره د لیکنو او ویلو انډول یا د موخې روښانه ونې له پاره څه لرو، چې په دې به سره اندونه ګډ کړو.**

**موږ دا د الماني حالتونه  یو ځل را اخلو او بیا یې هر یو د پښتو د څرنګوالي سرهپرتله کوو:**

**. موږ یې الماني لیکو او په پښتو یې هم زباړو. په پښتو به یې نو پیداپښتي ده، چې د پښتو ژبلار سره لیکو او بیا به یې څرنګوالی څېړو**

**لومړی حالت نومیناتیو:**

Der Vater schießt ein Tor!
Wer oder was schießt ein Tor? Der Vater!

پلار یو ګول کوي یا وهي.
ځوک یا څه شی یو ګول کوي یا وهي؟ پلار!

یا دا لاندې

پلار یو ګول وواهه.

چا یا څه شي یو ګول وواهه؟ پلار!

دلته په پښتو کې ګوره ځوک او چا راغلل

دویم: د ملکیت حالت

Wir gedenken der Verstorbenen.
Wessen gedenken wir? Der Verstorbenen!

(c) ketabton.com: The Digital Library



!مورِ د چا دعا کوو؟ د مړو

یا دا داسې هم سمه لیکو:

مورِ مړو ته دعا کوو.

مورِ چا ته دعا کوو؟ مړو ته!

په پورته پښتو دوه غونډالو کې مورِ دا پوښتنویونه داسې کارولې: ( د ) چا آو چا (ته) .

دریم: کموتاتیوحالت

Das Auto gehört der Mutter.
Wem gehört das Auto? Der Mutter!

دا موټر د مور دی. او که غواړی: دا موټر په مور پورې اړه لري، خو زمونږ له پاره یې همغه لومړی لیکنه سمه ده او ورځنۍ ده.

دا موټر د چا دی؟ د مور!

څلورم: اسوځیاتیو حالت

Das Mädchen sucht ihren Bruder.
Wen oder was sucht das Mädchen? Ihren Bruder!

**نجلی خپل ( د هغې ) ورور لټوي.**

**! نجلی څوک یا څه(شی) لټوي؟ د هغې ورور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موږ ته په پورته کې یواځې یو د نومیناتیو حالت روښانه شو، چې په پښتو شته، نور څه په داسې روښانه توګه ، چې هغه دې کوم یا څنګه حالت وي، نه شو کتلی، د حالت د یې ژند په بنسټ، مو دې لاندې ته مو پام رااوړي:**

**موږ د څوک او چا څخه پرته نور لرو چې هغه د چا سره یوځای راوړل کیږي او یوه موخه ترې روښانه کیږي، د ،، د ،، او ،، ته ،، په مرسته، چې زه یې همدا راوړم او نور کار دې زموږ د ځوانو ژبپوهان په لاس کې وي، خو دا دوي د بلې ژبې له مرستې پرته نه شي کولی، موږ باید خپله ژبه یا ښه یې د ژبې ژبلار د نورو ژبو ژبلار په مرسته کره او پوره کړو.**

**یو د ،، د ،، سره غونډالې چې راځي ملکیت په کوته کوي او د انډول نومځاینیوي سره.**

**بېلګې یې**

**دا د سپین کور دی. د ملکیت د مورفیم یا یو سېلبي ،، د ،، سره**

**دا د جنیتیو د حالت سره انډول دی، خو پوښتنه اوس دا ده، چې ایا دا ،، د چا،، موږ دا حالت بللی شو او که دا یواځې د ،، د ،، حالت بولو، چې دا هم د څېړنې دی.**

**دا د چا کور دی؟ د سپین!**

دوه: موږ ،، ته ،، لرو

زه خپلې دا خبرې یا لیکنې په دې هکله دلته پایوم او نور مې ګومان کوم بس دی. که ما په خپلو پخوانیو لیکنو کې څوک زړه بدي کړي وي، د هغوي څخه زیاته بخښنه غواړم. هر څه چې کوم، ګومان مې دی، چې سم به وي، خو ګومان یوه پوهنیز څه ویل نه دي

زما،، که ،،دما،، او همداسې ،، زه،، او ،،ما،، ته،،

پوهیږو او پیداښتي ده، چې حالونه به په پښتو او الماني کې هرو مرو توپیر لري او دا توپیر به یې دومره کوچنی هم نه وي او دا هم زما ( دما) له پاره بنسټیزه ده، چې د پښتو د لیکنو له پاره مې د الماني لیکنو څخه لار پیدا کړې او غوره د یوه څه لار ده، بیا پرې تګ کېدونکی دی یا پرې تګ کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځودې خپلې موخې ته، چې باید ښه پام ورته وشي.

موږ ولیدل، چې په الماني ژبه کې د هر حالت به پاره خپل خپلواک نومځای نیوي شته او له هِې څخه جوتیږي، چې د کوم حالت سره سر او کار لرو، خو په پښتو کې موږ داسې روښانه نومځاینیوي یا نه لرو او یا مو په لیکنو کې دا سې سم د حالت په بنسټ نه دي ځېړلي او دا به یې زماله پاره نوره هم بده وي، چې که وي او زه تریې نه یم خبر، خو په خواشینۍ باید ووایم، چې موږ په پښتو کې د پوهنیزو څه پیداکول د ن ج له لارې نه لرو. له ځان څخه به ملامتیا لرې کونم او دا په هر ژبه کې ورځنۍ ده، چې په یوه څه ډېر کسان څه لیکي.

زموږ په ولس کې دا ،، زما، ستا ....،، او ،، دما، دتا، ....،، دواړه وېنې یا ویونه شته. په ځنو ځایونو کې زما، ستا، زموږ ستاسو کاروي او بیا په نورو ځایونو کې د ما، د تا، د موږ ، د تاسو، د هغه، د هغوي کاروي، چې په دریم کی کې یې کارونه بیا یو ډول ده، چې له دې امله زیاتو لیکونکو ته یې په تولیزوالي کې ستونځې رامنځ ته کیږي. دلته پرې کړه اړیینه ده، چې د ژبلارې له لارې یې کوم سم دی؟

دا ګرامري ستونځه یواځې د لومړي، دویم او د همدې نومځانیوو د زیاتو له پاره په ملکیت کې رامنځ ته کیږي، نو اوس باید پرېکړه دا وي، چې دا ،، د ،، د ملکیت مورفیم دی او یواځې دا ،،د،، دملکیت له پاره جوګه دی او که نه د دې لیکنې له دا ،، یواځې،، زما،، او ،، ستا ،، د ملکیت مورفیمونه دی د لومړي او دویم کس له پاره. د دریم کس له پاره بیا هم هغه ،، د ،، د ملکیت مورفیم راځي .

راځی، چې دا زما، دما او ستا او د تا ،،،،، حالتونه لږ سره وڅېړو.

اړیینه یادونه: موږ به دلته په نومیز حالت باندې هم یوه غزېدلی پام وکړو، چې هلته هم ځنې څه د روښانه ولو له پاره شته.

د دې له پاره لنډ دا حالتونه د پوښتنوسره یوځېړو

نومیز او که نومه ونیز حالت:

پوښتنې دي: څوک، چا، څه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ځم. څوک ځي؟ زه

زه مړی خورم. پوښتنه: څوک مړی خوري؟ ځواب: زه

ته مړی خورې.پوښته: څوک مړی خوري؟ ځواب: ته

هغه ( پام: دلته ه روښانه ده) مړی خوري. پوښتنه: څوک مړی خوري؟ ځوب: هغه ( روښانه ه)

خو دا بیا په ځنو- لکه دلته- کړنویونو کې د تېر وخت له پاره په،، چا،، ته اوړي.

بېلګې:

ما مړی وخوړه. چا مړی وخوړه؟ ما

تا مړی وخوړه. چا مړی وخوړه؟ تا

هغه ( دلته ه پڅه ده) مړی وخوړه. چا مړی وخوړه؟ هغه( دلته هم ه پڅه ده).

دا د ډېرګړو نارینه او ښځینه له پاره د ې غونډالي ګران لوستونکي جوړې کړی.

یادونه ۱: زموږ ځني ادیبان په دې اخرو وختونو کې د دویم کس د ډېر ګړو له پاره تسو لیکي، نو ګومان مې دی، چې هغوي به په دې اند وي، چې ګوندې دا د ته ډېر دي. دا د ،، تا،، ډېر دی، نو له دې امله ،،تسو،، ناسم او تاسو لکه تل سم دی.

یادونه ۲ : خو په دا ،،نر،، ، چې ځني ادیبان یې نرینه لیکي، نو ،، نرینه،، او نارینه باندې زه هم پرېکړه نه شم کولی، دا نارینه مو تل لروده، خو د ولې ؟ له پارهیې ځواب نه لرم، نو کېدی شي نرینه وي.

موږ دلته د یوه حالت سره مخامخ شو، چې د ځنو کړنویونو د کړنو سره دا ،، زه، ته،، په ،، ما او تاسو،، بدلیږي. پوښتنه دلته ده، چې ایا دا یوه لار لري او که نه. لار به ورته پیداکوو نه لار به یې ومو، که وه ښه او که نه نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یوه لار لري:

لومړی: هغه ویونه چې په یو ځه نه کرل کیږي، دا په دې مانا، چې دا کړونی یوه پرېکړوني ته اړتیا نه لري، نو په هغو کې دا ،،زه، ته ...،، په ،، ما، تا .... ،، نه بدلیږي.

بېلګې: تلل، کښیناستل، درې دل او نور

زه ځم. ته ځې هغه ځي .......

زه تللم، زه تللی وم ، ته تللی وې او هغه تللی وو......

دویم د خاوندوالي حالت: دا ،، دچا،، حالت دی. دلته پوښتنه اوس دا ده، چې دا ،، د،، د ملکیت مورفیم دی او که دا غونډ وی،، د چا،، د خواندوالي یا مالکیت پوښتنوی دي. دلته د خبرو له پاره اړتیا شته.

په دې حالت کې موږ هم د ژبې له مخې یو ستر پرابلم لرو او هغه دا چې دا ،، دچا،، په ځواب کې، ،، دما، د موږ، دتا، د تاسو،، ( په دریم کې بدلون نه راځي او که ،، زما، زموږ، ستا او ستاسو،، سم دي( په دریم کې بدلون نه شته).

په پښتو ژبه کې د ،، زما او ....،، ویونکي په لیکلوست کې مخ ته دي، نو له دې امله دا ،،زما او ... ،، د خواندوالي ځای نیولی.

که د ،، د ،، مورفیم د خاوندوالي مورفیم وي، نو بیا د ژبلارې سره سم ،، دما او ... ،، سم دي، چې تولیز باور یې هم په همدې بنسټ پوره کیږي، دا په دې مانا چې د لومړي ، دویم او دریم کس له پاره یو ډول راځي او ژبپوهانو ته بیا په ترې پوهېدنو کې ورسره ستونځې نه پېښیږي.

دریم: د ،، چا ته،، حالت:له الماني څخه پښتو ته یې دا د داتیو حالت دی، زهنه پوهېږم، چې موږ یې څنګه وبولو او ایا دا پهپښتو کې رښتیا هم حالت پهګوته کوي او که ؟ پهدې باید پوهنیزې څېړنې او خبرې وشي. دلایل راوړل شي او سره پرې باوري شو.

دا څپلی سپین یا هغه ته ورکوم. دا څپلی چا ته ورکوم؟ هغه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم: د ،،پرچا،، حالت: دا چې دا اهم حالت کېدی شي، موخه ور خو دی، خو لکهد مخه هم خبرو ته اړتیا ده.

څپلی پر هغه پلورم. څپلی په ( پر) پولرم؟ پر هغه.

دویمه د خبرو موضوع مو د(له)... سره، څخه ده. دا مي هم له ډېره وخته په اند کې وو، چې یوه لیکنه پرې ولرم.

کوم یو او ولې سم دی؟: له تا سره کورته ځم او که د تا سره کورته ځم

د ننګرهار شینوارو اچین ولسوالی سره مې هغه ولیده. یا که

له ننګرهار شینوارو اچین ولسوالی سره مې هغه ولیده

د رغنځي سره څنګ کې او که له رغنځي سره څنګ کې.

خبره په دې کې ده چې، دا ،، د( له) رغنځی،، سره نږدې دي او که نه دا د یا له د سره یو سرکومپوزېښن دی. په دې باید څېړنې وشي.

که دا ،،سره،، پوستپوزېشن وي، نو بیا دا ،،د،، او نه ،، له،، سم دی او که دا ،، د(له) ... سره، سرکومپوزېشن وي، نو بیا مو خوښه.

بیا د حالت له پاره لنډ زما وړاندیز د پوښتنو له لارې:

لومړی: څوک، چا، څه شی.

دویم: د چا ، د څه شي،

دریم: چا ته، څه شي ته

څلورم:پرچا، پر څه ( دې کې زه داسې لږ په چرت کې یم)

نور نومونه او څه مو چې زړه غواړي د ګرانو ژبپوهانو دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پورته برخه دلته يو ځل بيا لنډه راوړو او هيله ده، چې دا بيا راوړنه به يې وزغمو. دا چې موږ لا تراوسه په پوهنو کې پوره ستنوځې لرو، نو د لا پوره ستونځوبيو له پاره دې دا بيا راوړنه هم زغموړ وي.

يادونه: دا ځلورم لږ د پوښتنې لاندې راځي، ځېړنه يې اړيينه ده.

يادونه: دا لاندې ليکنه د پورته ليکنې تکرار ده، خو دلته د پښتو پهبنسټ پهکې فکر شوی.

ډاکتر ماخان ميږی شينواری

# حالتونه او په بنسټ يې ،، زما که دما،،

ما په دې هکله ليکنې کړي، خو هلته مې د الماني حالتونو په بنسټ دا کار سرته رسولی وو. اوس راځم پښتو ته، چې نو موږ به ورسره په پښتو کې څه کوو؟

زه چې هرڅومره وهڅېدم، ما درې حالتونه د پوښتنحالت په بنسټ وميندل او له دې اخوا نور پرې پوه نه شوم. شايد په دې هم پوره کار شوی وي، خو بيا هم د مخ ته تېر په څېړ بخښنه دې وي.

له همدې پيله يوه يادونه.

زه به د ا حاالتونه د پوښتنويونو په بنسټ وڅېړم.

( لومړی: نوميناتيو يا د نومونې حالت:

دا حالت د څوک، چا او څه شي حالت دی، چې نومځای نيوي يې زه، ما، ته، تا،هغه، ) هغې او د شي له پاره هم هغه دا دې او دريم ته هم راځي.هغې، هغه .

په دې حالت کې پرته له کړن- يا کېدنوي څخه ځنې نومځاينيوي هم بدليږي، چې هغه کړنويونه روښانه دي.

بيا: هغهکړنويونه، چې پرېکړونی نه لري، د هغو لهپره نهبدليږي او هغه کړنويونه، چې د هغوي لهپاره پرېکړونی وي، د هغو سره بدليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم د لومړي، دويم او دريم يوګونو يا يوګړو.

بېلګې: زه خورم، ماوخوړه، ته خورې، تا وخوړه، هغه ( ن، ښ) خوري، هغه، هغې وخوړه. د ډېرکړو له پاره يې بېلګې نه راوړم، هغه ساده دي. په دې حالت کې زه په ما، ته په تا او هغه، په هغه، هغې بدل شول.

د هغو له پاره بېلګه، چې زه، زه پاتې ږي: تلل: زه ځم زه تللی وم.

دويم: د خاوندوالي حالت:

د دې حالت پوښتنځاينيوي دي: د چا او د څه شي. په دې حالت کې ،، د څوک،، نه شته او دا نور همهغسې راځي، خو د ،، د ،، سره. دا په دې مانا، چې دا ،، د ،، په پښتو کې يواځې د خاوندوالي مورفيم دی.

دلته يوه ستونځه شته، چې بل ځای کې مې هم څېړلې، خو دلته به يې هم داسې لړ روښانه کوم:

،، زما، زمونږ، ستا، ستاسو او دما، دمونږ، دتا او دتاسو،، کوم يې د ژبلار له لارې سم دي؟

دلته د زه، زمونږ او ... له پاره دا ،، د ،، نه راخي، يايې مونږ نه ليکو.

بېلګې: زما کتاب، زمونږ کتاب، ستا کتاب، ستاسو کتاب. خو

غوره يادونه يا غوره راوړنه:

مونږ پښتانه دوه د خاوندوالي نومځاينيوي کاروو: زما، زمونږ، ستا، ستاسو او دما، دمونږ او دتا، دتاسو،، زما په اند، چې زمونږ د پښتنو دا د،، زما، ستا... نومځاينيوو کسان په پوهنه کې مخ ته دي، نو له دې امله دا زما، ستا او ... کارول کيږي، خو که اوس دې پورته د خاوندوالي مورفيم،، د ،، ته ژور پام راواړوو، نو دما، دمونږ، د تا، د تاسو به و زما، زمونږ، ستا، ستاسو ته سم وي. دا نور هم د ګرانو لوستونکو له پاره د څېړنې دی.

دريم : د چا ته ، څه ته حالت دی، پوښتنويونو له مخې: دلته هم د نوميناتيو سره په پای کې ،، ته ،، زياتږي، نو له دې امله دا د مورفيم،، ته،، حالت دی، چې ما خو فکر کاوه، چې د داتيو اندول به وي، خو دا چې څنګه دی، دا دې ګران لوستونکي نور هم پسې ژور کړي.

سپين ماته، تاته، هغه ته .... کتابونه راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه يې دلته نور ښځينه نارينه او نور ډولونه نه څېړم. ما پرته له دې نور حالتونه ونه مېندل. دا د يوې بنسټيزې څېړنې پوره ارزښت لري او بيا

دې ،، زما، ستا، او ... ، دما، دتا... کې دې بيا بيا هم فکر وشي. چې زه په ،، دما، دتا باندې ولاړ يم.

زما ، ستا او نور ورځني شوي دي، خو زما موخه د پورته يادشوي د خاوندوالي مورفيم له مخې د سم او ناسم څخه ده او دا هم د ژبلار له لارې، زه خو د پرېکړې حق نه لرم.

هر پوهنيز څه چې راوړو، هلته سم دي، چې مخامخوالی ونه لري او ټوليز وي. بيا: د مخامخوالي په څنګ کې دا ټوليزوالی يې هم خورا غوره دی، چې بې له دې څه نه شي سم بللکېدی..

نو په زما ،ستا او د هغه په خاوندوالي يواځې دا دريم کس دا د ،، د ،، مورفيم لري او په دما،دتا او د هغه کې دا ،، د ،، درېواړه لري. دا يو بديل ټوليز نه دی او دا د ،، د،، سره ټوليز دی سم به دواړو ته، ځکه ووايو، چې دواړه د ولس دي او د ولس څه د ولس وي، خو بيا هم کليوالي او معياري سره بېلېدی شي. بيا هم وايم، چې دا د څېړنې وړ بولم. له معياري څخه ترې پوهېدنه دا ده، چې په ټولو لاروبرابر. .

يادونه: دا چې زما ليکنې لومړی د تاند په درنه خپرونه کې خورې شوي، نو داسې لړ د مخوينې يې ډېرې دي

زه له پوره ډېر وخت څخه دپښتو ژبې سره او د همدې له پاره د الماني ژبې سره سر اوکارلرم. دا خو لا د مخه هم جوته وه، چې ژبه په خټه کې پوره پيچلې اوستونځمنه ده، دژبپوهنې له مخې.
زه د ژبپوهنې سره اوژبلارپوهنې سره داسې ډېر سر او کارنه لرم،خوزما د ګرانو ليکوالانو ناسمې ليکنې ته را پام شوی اود هغو له املې داسې لړ څه د ګرامرسره هم بايد ګير وم، چې پوره ستونځمن کاردی.
اوس ګورم، چې ژبه پوره ګرانه ده او په ژبلارو پوهېدل هم پوره د ستونځو مل دی اوپوره پام غواړي.
دې ته تل ګوته نيسم، چې دا دژبې زده کړي، چې غواړي په پښتوښه وپوهيږي، نويوه دباندنی ژبه يې بايد ښه زده وي، پرته له دې په پښتو او ژبلارو سم نه شي پوهيدلی.

## Konjunktion (Wortart)

# کونيونکڅيون (لاتين: پښتو اندول: تړونی يا تړنوی) ويېول

کونيونکڅيون، تړونوی، يونکڅيون په ګرامرکې يو ويېول دی، چې د ويونو، غونډلې برخو، يا غونډلو منځ کې سينتکتيکي(syntaktische په نخښنو ) تړنې منځ ته راولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هممهال سم اندیزې یا ګرامري اړیکي د تړلو توکو منځ کې روښانه یا افاده کوي. د
پرېپوزېڅیونونو یا اړیکویونو سره یوځای، چې ژبنیزې ورنږدې موخې پوره کوي کیدی
شي کونیونکڅیونونه د اړیکویونه Relatoren په څیر رایوځای کیږي.
زه یې په دې پیل کې درې بیلګې راوړم، چې دوه یې د شمیرپوهنې بنسټ تړوني دي.
دا باید په نخښه کړم، چې دا په شمیرپوهنه کېویناوېسره تړي، دا زما د شمیرپوهنې سم اند
کتاب کې بیا ښه روښانه شویاواړونده لیکنې یې هم شته.
لومړی:
،،یا،،
کابل ته ځم یا کندهار ته ځم. یا
. کابل یا کندهار ته ځم
دویم:
،،او ،،
زه جلال اباد ته ځم، او کابل ته ځم.
جلالاباد او کابل ته ځم
یادونه: دا دوه تړنویونه ،، او ،، او،، یا ،، د شمیرپوهنې سم اند بنستیز تړنویونه دي .
دریم:
،،تر،،
ټول کسان ناست وو، ترڅو یا تر هغې ټول میلمانه کټونو (خوبځایونو) ته لاړل یا
ټول کسان ناست وو، ترڅو ټول میلمانه کورونو ته لاړ شي.
زه به له ۴ تر ښپږ بجو درشم.
په دې لمنځتون کې ۲۰۰ تر ۲۵۰ کسان ځاییږي.
پورته غونډالې ته یوه یادونه، چې اړیینه ده: ځنې کسان به ووایي، چې: له ۲۰۰ تر...
دلته له څخه نه شته، ځکه دلته د ۲۰۰ موخه پیل نه دی، دا له ... نه دی.
ګورو، چې ،،تر،، تړونوی دی او پرته له دې پرېپوزېښن هم دي.
که ،،تر،، یوه بله ګراماتیکي دنده سرته رسولی، نوما به دلته راوړې وی، خوباید
وهڅیږو، چې ،،تر ،،د نورو اړیکویونودنده په غاړه نه اخلي
ځنې لیکوال اوپښتو پوهان یې د پرتلې له پاره هم کاروي، خودا ناسم دی. بله لیکنه کې به
دا راوړل شي.

## فونیم او نور ...

ګرانو لوستونکو!

که تاسو دا لاندې راوړلي موضوعات دبېلګې په توګه المانې - او باور مې دې، چې
نورو ژبو کې هم- وګوری، نو وبه وینی، چې دا هره یوه موضوع یې پوره ډېره روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. زه هڅېږم، چې لږ تر لږه د دې پېژندونه تاسو سره ګډ کړم او د شوني یا کېدړني پولې پورې به یې توپیرونه هم سره روښانه کړو. باور وکړئ، چې زه دا لولم، ډېر ښه روښانه دي او خوند ترې اخلم. زما په لیکنو کې تکرار راځي، د دې بخښنه غواړم، خو وایي، دوه واره تړلی کلک وي. پوهېږم، چې ځنې ویونه لږ زیاتې روښانتیا ته اړتیا لري، چې زه یې دومره ډېر زغم نه لرم او باوري یم، چې مینه وال به دا کار سرته ورسوي، یا به یې سرته رسولی وي..

فونیم نو څه شی دئ؟ phonem

فونېم:

پیلیادونه: په نورو ژبو یا لږ ترلږه الماني کې ډېر ویونه شته، چې د غږ په مانا دي، خو موږ په پښتو کې همدا غږ، ګړ او ویل لرو. نه پوهیږم، چې اواز مو پښتو دئ او که نه؟ زه به په دې غږ او ګړپاتې شم او بیا له الماني به د هغه بل ډول غږ له پاره دا د غږ سره مل په یوه بل ډول روښانه کړم

پېژند: د یو فونیم ( زوړ یوناني نوم دئ په لاندې ماناوو:

() **Phonem** Einله altgriechisch φωνή *phōnḗ*, پښتو: غږ یا ګړ('

.

د ټولو غږونو یو ذهني ټولګی دئ، چې په یوه ګړیزه ژبه کې همغه یا برابره توپیرېدونکې دنده لري.

بېلګه: که فونیم /ښ/ راواخلو، نو دا په بېلو بېلو ځایونو کې په بېلا بېل ډول ویل کیږي، خو موخه ترې همغه اخستل دي یا همغه اخستل ، دا په دې مانا، چې په پښتو کې یې د ویونو په منځ کې کوم توپیر نه لري دا یواځې د ویېنې ډولونه دئ، لکه په ،، ښه،، کې، چې ځنو ځایونو پرته له ښ په خ او ش هم وېل کیږي، خو موخه ترې همغه پوهېدلکیږي، نو له دې امله ګړیزه ژبه یا ویلو کې، خو که کوم فونېم بدل شي، نو مانايې ورسره نه بدلیږي.

دلته په فونېم کې همدا ګړ یا غږ یووالی دئ یا که غواړئ همدا یو غږ یو یوالی دئ لکه د / ر / یا /ت/ او نورو غږ، چې خپله مانا نه لري، خو په وی کې وی ته هغه انډول مانا ورکوي دا دې په ګوته وي، چې دا غږ د سیلبې له لارې روښانه دئ..

د دې بېلګې په دې نورو ژبو کې لږ روښانه دی، خو زه ورسره په پښتو کې ستونځې لرم، چې هغه باید په ګډه سره اوبی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یوونونه یا یووالي، نو په ژبه کې څنګه او کوم دي؟

په پورته کې ګورو، چې /ر/ او / ت/ مو ورکړي، چې همدا هر یو یې یووالی دی. همدایې د پیژند یووالی دی، چې غږ راوځي، نو دا به یو سیلبي وي. که زه ناسم وم، بخښنه راته وکړی، خو ګومان مې دی، زموږ ژبپوهان یې څپه بولي، که داسې وي، نو بیا ګړ – یا غږڅپې ته به څه ووایو. راځی، چې په دې سېلبې پاتې شو او که غواړئ سېلاب.

لاندې بېلګې ګورو:

بېلګې: ،، مور،،/،، پور،، ،مار ،، / ،، تار ،،

په پورته کې ګورو، چې نور ټول توري همغه دي او یواځې لومړي توري یې سره بدل دي او له دې امله معنا بدلېدونکي دي.

د دې ویونو د ماناو توپیر د وېلو یا لیکلو، ویونو جوړې یا خورا کوچنۍ (مینیمال) جوړې بلل کیږي لکه دا پورته. مینیمال ځکه، چې هغه خورا کوچنۍ جوړې دې. وروسته روښانه پېژند شته

بیا: دا به هم دلته په ګوته کړو، چې فونیمونه نه ځانله د یو غږ بلکه د سېلبې په څیر رامنځ کیږي یا منځ ته راځي..

د یوه غږ بلډولوالی Allophone

د دې یوه غږ ښ الوفونونه /ښ/ روښانه دي، چې په بېلابېلو ځایونو کې بېلابېل ویل کیږي.

الوفون یوناني وی دی، چې الو د بل او فون د غږ یا ګړپه مانا دي یعنې بل ډول غږ یا اواز یا ګړ، نو له دې امله الوفونونه د فونېم بل ډولوالی دی، چې د فونېمبدلون یا سبفونېم بدلون په نامه یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سره خپلوانو ویونو  یا کلمو پېژند یا یې نوره هم ښه سره توپېری پېژند ونه یې :

: دېستینګېم: **Distingem**

فونېم او ګرافېم د دېستینګېم کلمې یا وی لاندې سره راټولیږي یا رایوځای کیږي.

دا په دې مانا، چې دیستېنګېم دوه برخې دي: ګرافیم او فونېم.

**:**ګرافېم **Graphem**

. فونېم له ګرافېم څخه توپیریږي . ګرافېم د لیکلشوې ژبې خورا کوچنی ماناتوپیرېدونکی یووالی دئ

فونېم **Phonem**

.فونېم د ویونکې – یا ګړ ژبې خورا کوچنی ماناتوپیرېدونکې یووالې دئ

مورفېم **Morphem**

یادونه: مورفیم دلته انډ راغلی. بل ځای کې بیاپوره څېړلشوی دي.

فونېم له مورفېم څخه توپېر لري. فونېم د خورا کوچنی د ژبې ماناتوپیرېدونکی یوون په څېړ پیژند لري، په داسې حال کې چې مورفېم د ژبې خورا کوچني مانا وړونکي یووالي یا یوون په څېړ پېژند لري، چې دواړه سیمانتیکي ژبنیزه منځپانګه لري.

یادونه: دا یو اوږد د خبرو څه لري، چې زه یې زما د پاتې وخت سره لږ نورې شننې ته بېواکه یم، خو دا مې داسې لږ څه پیژندونه له الماني تاسو سره ګډ کړل، په دې هیله، چې ستاسو مینه مې ورسره راپارولې وي، بیا وایم، چې دا پوهنه پرته له یوې وتلې ژبې د زده کړې څخه نه کیږي

د دې کلمو د یووالو پېژندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته مې ولیکل، چې د فونیم یووالی لکه لاندې بېلګه کې /م/ دئ

د مورفیم یووالی سیلبي یا سیلاب دئ، هر مورفیم یو سیېلبي دئ.

بېلګې: ،، مور،،/،، پور،، ،شل ،، / شل ،، ( د ش پخ پخ الف سره ویل

د ماناو توپیر د ګرېزو ویونو جوړې یا خورا کوچنۍ (مینیمال) جوړې بلل کیږي

دا به هم دلته په ګوته کړو، چې فونیمونه نه ځانله د یو غږ بلکه د سیېلبې په څیر رامنځ کیږي یا منځ ته راځي

بیا یې یووالی: د دې پورته ژبنیو توکو یووالی نو د سیېلبې څخه څرګندیږي، دا یو سیېلبي دي او دا یې یووالی هم دئ. یو وی کړی شي یو سیېلبي یا ډېر سیېلبي وي، مګر دا ټول یوسیېلبي دي.

**فونیم د ویلشوې وي ماناتوپیرپېدونکی یووالی دی. دا په دې مانا، چې د یوه فونیم بدلول د یو بل فوني سره د وي مانا بدلیږي یا تغیر خوري**

**د دې لاندې څخه موخه پوهېدل کیږي او وروسته همراځي، نو دا همداسې په الماني تاسو ته وړاندې کوم**

---

- **R***atte* -**M***atte*
- Phonemaustausch im Inlaut:*M***o***de* - *M***a***de*
- Phonemaustausch im Anlaut:**R***atte* -**M***atte*
- 
- Phonemaustausch im Auslaut:*Ruh***e**- *Ruh***m**

دا بېلګه په ګوته کوي، چې فونیم ماناوړونکی یووالی نه انځوروي، بلکه مانا توپیرونه په ګوته کوي

سړی ویلی شي: فونیم د یوه وي هغه خورا کوچنی غږیزه جوړښتبرخه ده د وي توپیرپېدونکي دندې سره. د فونیم د بدلون له لارې د وي مانا بدلیږي، دا فونیم پخپله نه مانا وړونکی دئ.

نورې بېلګې:

فونیمبدلېدنه په پیلغږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور – ګور

مړه – پړه

تار – مار

او لاندې يې الماني

Phonemaustausch im Anlaut:

- **F**all - **B**all
- **t**oll - **v**oll
- **D**orf - **T**orf

فونيمبدلېدنه په پايغږ يا پايګړکې

کار - کال

ورور - خور

لاندې الماني

Phonemaustausch im Auslaut:

- Stie**l** - Stie**r**
- Kal**k** - kal**t**
- Hau**s** - Hau**t**

**فونيمبدلېدنه په منځغږ کې**

کور – کار

ډېر - ډار

ټول - ټال

**لاندې الماني**

*Phonemaustausch im Inlaut:*

- b**i**tter - B**u**tter
- W**o**che - W**a**che
- S**o**g - S**ie**g

يادونه: زماپه اند که دلته د غږ په ځای ګړ وکاروو ښه به وي.
).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فونيټيک **Phonetik** (φωνητικός phōnētikós زړه يوناني )

( زړه يوناني φωνητικός phōnētikós,پښتو مانايي غږ - يا ګړاړوند , ) .

φωνή *phōnḗ*, پښتو مانا يې غږ

يوپوهنيز دېسڅيپلين يا دېسيپلين دی،چې ژبغږ په لاندې دلايلوڅېړي: په ستوني ګنده، مری-، خوله او پوزه ،

ورشو کې غږجوړونه او د غږ او ګړحس کول د اکوستيکي خوي او د غږ يا ګړ کارونه د غوږونو او انساني

مغذ له لارې

دا دوه دندې لري: غږجوړونه او غږاورېدنه، نو:

فونيټيک يوه خپلواکه د ډېرو پوهنو منځ کې ځغاستې ځانګه ده لکه لينګوېستيک، اناتومي، فيزيولوګي، نوېرولوګي، فزيک او شمېرپوهنه. د فونيټيک څېړنورشو يا څېړن اله ګړېدلې يا ويل شوې ژبه يا لنډ ګړژبه ده د هغې په ټولو رېښتينوالي- يا ريالېزه کولو کې.

فونيټيک هم لکه فونولوجی ويلشوې يا غږېدلې ژبه يا لنډ ګړژبه څيړي. فونيټيک د فونولوجي څخه ځان په يو بل اسپک يا کړنلار بېلوي. فونولوژي د ژبپوهنې برخورشو په څېړ غږونه په يوګونو ژبو کې د خپلو ماناتوپيرېدونکو دندو غږونه ټولګيزوي. په مخامخ يې فونيټيک د فزيکي ، نيورلوژی، فيزيولوژي د يو يو بلې ژبپوهنې لارې ، چې غږجګوالي جوړښت، د هغې وړنه او د هغې احساسونه په کې غوره دي او د پيدابښتي پوهنو څخه ګټه اخلي.

زه په دې اند نه يم، چې زموږ ژبپوهان به دا لرلي ستونځې بې له يوې پرمختتلې دباندنۍ ژبې – چې ښه زده وي - اوبی شي. زه ډېر وهڅېدم، چې يو ښه ټولپوهيز څه تاسو ته وړاندې کړم، خو دومره وتوانېدم، چې نيمه نيمخوره څه له تاسو سره ګډ کړم تاسو ګرانو ځوانانژبمينه والو ته دزړه له کومې برياوې د لوي ځښتن څخه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فونولوژي پېژند:

λόγοςlógos ,'پښتو غږ ,φωνή phōnḗ.زوړ یوناني وی دی) **Phonologie** Die
پښتو پوهنه) فونولوژي

په پښتو غږپوهنه، د ژبپوهې یوه برخورشو ده. دا د ژبپوهنې په دننه کې په ټوله کې د د فونونیتیک څخه باید رابنده شي یاني منځ کې یې باید پولي وي: په داسي حال کې چې فونیمیک د ژبغږونو روښانه خویونه څېړي، چې څنګه جوړېږي او فونولوژي د یوګونو ژبود غږونو ګړسیستم د دندې سره سر او کار لري. له دې سره دا د ژبلار یوه برخه جوړوي.

## Definition پېژند

فونیتیک د ګړځپو یا ژبځپو پوهنه ده، خپل جوړښت د ویونکي او د هغه په کاراچونه د غوږ له لارې، چې د انسان د خبرو اترو فزیکي، روحي یا ارواپوهنې او فیزیولوژیکي ګړموادو ټولوالي په پام کې نیولو سره

د یوې پوهنې په څېړ د فونېمیک د ژبغږونو رواجي څېړنو له مخې یې ټاکل، د موډرنو یا اوسنیو څېړنو په څیر تنګ دی.له دې امله لاندې فونېتیکي څانګي سره توپیروو:

۱-ویندوله فونیتیک

artikulatorische Phonetik, .1

۲ – غږیز فونیتیک د فونیتیک هغه ورشو ده، چې د ویل شوو جګو یا غږوړنو سره بوخته ده. دلته د بېلګې په توګه څېړل کیږي امپلیتودې یا جګوالی او فرکونځ

akustische Phonetik, .2

غږیز فونیتیک د فونیتیک

دالاندې یې نهژبارم، دا ګران لیونکي په دا څلورو پرمختللو ژبو کې لوستلس او روښانه کولی شي.

دا په دې څېړنه کړي، چې غږ د شتونې او ژبې او نورو غږ الو له لارې څنګه پیداکیږي.،

Die **akustische Phonetik** ist das Gebiet« Die **Glottis** (Singular, altgriechisch γλωττίς **glōttís**, deutsch ‚Mundstück einer Röhre') bezeichnet anatomisch den der Phonetik, das sich mit der Akustik von ؟Stimmlippenapparat mit zugehörigen gesprochenen Lauten beschäftigt. Untersucht werden z. B. die Amplitude und Frequenz der Formanten, die die Schwingungen der Glottis erzeugen. Diese können mittels eines Spektrogramms grafisch dargestellt werden.

(c) ketabton.com: The Digital Library

perzeptive Phonetik, .3
physiologische Phonetik, .4
funktionale Phonetik. .5

دا پورته ژبنيز توکي مې همداسې پرېښوول، زما د فزيکي توانه راته داسې څه لرې برېښي، خو ګران لوستونکي په هره پرمختللې ژبه کې پيداکولی شي

phonemicفونې‌میک .

پېژند: د پيداښتي ژبې د غږيزې - او ليکنژبې روښانه روښانه ونه يا که غواړی‌شننه

Nameنوم

نوم د يوه نوي پوهنيز پېژند له مخې نومونه په يوه کس، يوه شی او يا يوه ځانله کس يا څه د معلومات

ډېرى يا – سټ يا يوې کلمې باندې تنظيم شوي. معلوماتو معلومولو يا ټاکلو ځانګړنوالي په چوپړ کې دي.

لکه سورګل، سپين.. کشمالی، غونډوسکه او نور.

د نوم او نومن توپير له پاره يې پېژندونه سره پرتله کړئ

دوه نور ژبنيز توکي، چې زه پخپله ورسره پوره ستونځې لرم

# وی څه شی دئ؟

يو وی يو خپلواک ژبنی يووالی( ناسم يې واحد) دئ. په پيداښتي ژبه کې دا – د غږ يا سيلبې مخامخ- يو خپلواکه يا ښه يې نااړونده مانا لري. يو ټوليز منل شوی پېژند نه شته او ستونځمن هم دئ، ځکه چې دا د کليمه ،، وی ،، د ژبپوهانو منځ کې يا پوره اوبی نه ده او يا يې په بل څه يادوي . ګومان مې دئ يو فرانسوی ژبپوه د ،، وی،، په ځای ساده ،، نخښه،، کاروي. دلته هم د ليکلو او روښانه ونې، ښه يې څېړنې اړتيا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبوکې يې وګورئ..

# کلمه څه شی دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

Begriffterm; ; کلمه انګرېزي او الماني یې

د وی ،، کلمې ،، سره د یوې نخښه ونې یا یوه اندلرنې یا حدث وهنې مانامنځپانګه پوهېدل کیږي. یوه کلمه یو سیمانتیکي یووالی جوړوي، چې د یوه نومځاینیوي یا یوه اند برخه ده.

دا هم همدومره. پوهېږم، چې دا څه همدومره روښانه ولی شم، ډېر وخت نیسي، چې دا سرته رسوم. ډېر نه دی، خو ورسره بوختیا باید زیاته وي ( په بخښنه

د دې او اړونده موضوګانو د لا روښانولو له پاره تاسو ګډ کار ته رابولم. د دې له پاره مې برېښنا پته:
smakhan1946@gmail.com

## مورفیم (،، جوړښت، بنه،، ) څه شی دی؟

د دې له پاره باید وپوهیږو، چې سیلاب یا سیلبې څه شی دی؟

پېژند: سیلبېSil•be
د یوه وي په دننه کې د یوه یا ډېرو غږونوجوړشوی کوچنی یوون یا یووالی دی یا د غږ یا غږونو کوچني یوون یا یووالي ته سیلبې وایي.
یادونه: زموږ په ادبیاتوکې ورته سیلاب وایي. دا له دې امله، چې موږ دا له درې را اخستی اوپه درې ژبه کې سیلبې نه شي ویل کیدی.

پېژند: مورفیم څه شی دی؟
مورفیمونه د اوازونویا تورو کوچني ټولګي دي، چې دوي یو خپله مانا یا غوره والی ولري.
بیلګه: ،، لوي ،، وی یو مورفیم دی. دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي ،، ، ،،لویان،، کې کارولکیږي.
،، - والی،، هم یومورفیم دی. دا په دې مانا، چې یو شی داسې دی، لکه دا وی، په کوم پورې چې دی تړلکیږي. دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي،، ، ،،ښکلیوالي،، ، ،، لټوالي،، کې کارولکیږي.
همداسې ،، –ان،، یو مورفیم دی.دا د نورو په څنګ کې کارول کیږي، چې وښایي، چې یو څه زیات په بر کې نیسي، د بیلګې په توګه ،،لویان،، ، ،،چرګان،،.
زیات ویونه له ډېرو مورفیمونو جوړ دي، که سړی مورفیمونه وپیژني، نو سړی کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي د وی په مانا ساده ويو هيږي.
مورفيمونه اوژبسيلبي زيات وخت همغه يا يو شی دي، مګرتل نه. ،، ژوند،، له ،،ژوندکولو،، ، او ،، مګر،، هم مورفيمونه دي. مګر سړی وايي،، ژوند-کول،، او ،،م-ګر،،.
يا
مورفيم
مورفيم خورا کوچنی اواز- يا غږيوون يا غږيووالی دی، کوم چې په بيلابيلو ژبنيز اړوندوالي سره همغه مانا لري.
سړی د خپلواک او تړلي يا بلواک مورفيمونوپه منځ کې توپيروي، چې دا يواځې( فقط) د ويونوپه دننه کې رامنځ ته کيږي.
که الماني ژبې ته پام وکړو، نو په هغې کې درېزره ليکسيکي مورفيمونه، ۱۶ بيلابيل ګرامري مورفيمونه او ۱۰۰ويجوړونکي مورفيمونه شته.
نااړوند يا خپلواک مورفيمونه :
لکه: ميز، ټوکه، سر
تړلي يا بلواک مورفيمونه : لکه
کب- ګی ، بنسټ + کوچنيونه يا کوچنيکونه
لويان، بنسټ + زياتواليپای
که تاسوپه نورو ژبو کې دا کوری، ډېرې ليکنې پرې شوي اوهر چا د خپلې خوښې سره پيژندونه ورکړي، خوموخه – چې خورا واړه ژبيونونه دی – همغه ده.
،،مورفيم،، له فرانسوي راځي"morphème" ، له يوناني "morphe" - له پښتو ،، جوړښت، بڼه،،
يو وی کيدی شي ټوټه کيدونکی وي او له دې امله د ډېرو مورفيمونو جوړوي، خو يو نه ټوټه کيدونکی وی سملاسي يواځې يو مورفيم انځوروي.
ما پهپورته کېيا د پرېپوزېشن خبروکې ،، له ... څخه،، ، د .... سره،، د پ پهتوګه راوړي،خوهلته ،، له،، او ،، د،، مورفيمونه دي، ،، څخه،، او ،، سره،، پوستپوزېشنونه دي.

Relatoren اړيکويونه:

په ژبپوهنه (Linguistik) کې د Relatoren اړيکويونو لاندې يو نسبت ورکونکی ويډول کونيونکځيون او پرېپوزېځيون رايوځای شوې دي. کونيونکوځيونونه تړنويونه دي لکه او ځکه چې او سره له دې.

## ادجکتيو يا خوي وی Das **Adjektiv**

(c) ketabton.com: The Digital Library

*[nomen] epí-theton* ((lateinisch *adiectivum*, *ad-iectivum* nach altgriechisch
( ،، ورزيات شوی،،

په ژبپوهنه کي هغه ويډول دی، کوم چي د يوه څرګند شي يا يوه ذهني شي، يوې کيدنې يا کړنې يا حالت او داسې نور جوړښت روښانه يا تشريح کوي.

ادجکتيو ،،خويوی،، يا ،،ملوي،، هم بلل کيږي، په ښوونځي کی ،،څنګه،، وی( يو شی څنګه دی؟) هم بلل کيږي، چې زموږ پښتو ادبياتو کي يې ستايننوم بوأ. د ستايننوم سره موږ لږ د ناسمونونو سره مخاخ کيږو او هغه دا چې دا بهيا ښکلی او يا ناښکلی وي او خوي نوم ډېر څه خوندي لري يا ډېر خويونه يا ټول خويونه.

يادونه: موږ دې ته په پښتو تراوسه ستايننوم وايو، خو زما پهاند دا خوي وی بهډېر مناسب وي.

خوی ويونه کيدی شي وکارولشي:

,bezogen, z. B. Der *schöne* Tag) (auf ein Substantiv attributiv

- اتريبوتيو( يوه شي اړوند يا يوه شي ته يې نسبت ورکړی، د بيلګي په توګه. ښکلي ورځ )

z. B: der Tag ist *schön*) ;mit Kopula (als Teil eines Prädikats prädikativ oder

پرېديکاتيو ( د يوه پرېديکات برخه د کوپولا سره: د بيلګي په توګه: ورځ ښکلي ده) يا

ادورباڵadverbial (هغه ښکلي سندرې وايی)

د ګرامرتول د خبروڅه پوره غزېدلي وي،خو د اوس له پاره زه په دې لږڅه بسيا کوم. که ژوند وو، نو بيا به يې سم وغزوم، خو دا کار د ژبې مينه وال ښه کولی شي.

د الماني ژبي زيات خويونه کيدی شي جګ شي. دا تلنه کومبارخيون Komparation يا درجه بندي بلل کيږي.

موږبه يېدا اوس همدا د ډېر اوخورا سره درجه جګه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلی*schön* :<u>Positiv</u>

ډېر ښکلی *schöner* :<u>Komparativ</u>

خورا ښکلی*am schönsten* :<u>Superlativ</u>

داسې خويونه هم شته، چې د هغوي د جګونې سره ستوی بدليږي:

او موږيې بيا په ډېر اوخورا سره جګوو:

ښه،ډېر ښه ،خورا ښهgut, besser, am besten;

زيات، ډېر زيات، لا زيات ، viel, mehr, am meisten.

دې ته ټول مينه رابولم،چې اندونه سره ګډ کړي.

اوکه د نوروژبوځخهيي همګټه واخستله، نولا نوربه هم ښه شي.

ځنې خويونه شته،چې په هغې دا جګيدنه نه شيراتللی:

ټيک همغه يا مطلق خويونه لکه بلاربه ( ډېره بخښنه دېوي، چې دا بې ادبي ونه ګڼی، که حامله وليکم هم همدا ده، خوعربي ده)،مړ اونور.

د رنګونو جګيدنه بيا شته لکه شين، تک شين، شين چک.

سپين، تکسپين، سپينچک اوهمداسې نور.

# پرېديکاتPrädikat (Grammatik)

پرېديکات له لاتين ځخه، چې (ځنګه) بلل يا ستاېنې ته وايي، هم جمله وينا ته، د يوې غونډالې زړی-برخه ده يا د غونډالې هغه زړی دی، چې د غونډالې د نوروغړوپه واک دی. په پوله حالت کې کيدی شي يوه غونډاله له پرېديکات ځخه ځانله همجوړه وي.( لکه په ايمپيراتيو Imperativ (په ګرامر کې: امر يا غوښتنبنه) کې ،، راځي،،).

Substantiv

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوبستانتیو په ګرامر کې نومونه (نوم)، بنسټوی، شي وي، اله وی یا نوم وی بلل کیږي

ازادلیکلي ویینې( افادې) بې له پرېډیکات څخه غونډالې نه دي، بلکې د بیلګې په توګه سرلیکونه، برخېکې، بلل ( یوڅوک د خپل خوي له مخې یوڅنګه بلل) اوداسې نور لکه ،، بد سپی!،، ( بلل یا د ښوولو له پاره په ګوته کول).
زیات وخت کې د غونډالې د پرېډیکات په څیر چوپړ کې وي، خودا په ټولو ژبو کې اړیننه دی. د وی کې او پرېډیکات منځ کې توپیردا دی، چې کې یو وي ډول په ګوته کوي، او پرېډیکات یوه ژبلار دنده، چې کړونه(؟) په غونډاله کې لرودی شي.
پرېډیکات د رواج سره سم په دو حالتونو کې راتللی شي :
په الماني ژبلار کې پرېډیکات یو یوون یا یووالی په نځښه کوي، کوم چې له بنسټوي په ورکړې حالت کې د نورو کړونوسره یوځای په اینفینیتیو یا نوروپرېډیکاتپوره کونو څخه جوړ دی. له دې څخه د غونډالې یو یووالی راکوي، چې دا سرې په ښه توګه په څنګیزو غونډالو کتلکیدیشي، ځکه چې تیوپیکې ډوله هلته ټول رېډیکاتونهد غونډالې پایکې یو د بل سره ځای شوي.

| | ادورب | سبجکت | ابجکت | برېډیکات |
|---|---|---|---|---|
| ځکه چې | نن | هیڅچا | سپی | ګرځولی یا چکر ته بیولی |

ایا دا پورته غونډاله به داسې موخه وره وي اوکه څنګه؟

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

اوکسومورون Oxymoron

نه پوهیږم څه به مې کتل خو د دې پورته وی ،،اکسیمورون،، سره مخامخ شوم او هسې مې په داروښانه-ونه پیل وکړ. په دې ترڅ کې ګورم، چې د نورو په ادب کې د کارونو ویونو سره داسې مخامخ شوم، چې پرته له هغې له پرېپوهیدنو اکسیمورون نه شو روښانه - یا شنل کیدی. دلته مې دا ټول سره ګډوډ راوړل، چې هسې زما په اند دا موږ ورسره په ادب کې نابلدو څه سره یواځې او یواځې داسې مخامخ شو او وګورو، چې د ا ژبه څومره ستره اړتیا څیرنې ته لري. تاسو، پیداښتي ده، چې هر وی، چې هر یو یې یوه کره موضوع ده، پخپله هم په ن ج کې کتلی شی او نور یې ښه روښانه کولی شی. زما لیکنې زه له الماني رانیسم، نو ویږنه او لیکنډول به یې هم الماني وي، خو وبه هڅیږم، چې انګرېزي یې هم راوړم.

دې لیکنې ډېر سترې کړم. هیله ده، چې تاسو به سترې نه کړي.

اوکسومورون یو ستایل اله ده چې هر ډول لیکنخوندیونو کې میندل کیږي، نو له دې امله په لوریک(۱) نه دی رابند، بلکې په ایپیکې(۲) او رومانتیکي کارونو کې هم پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. دا اکسیومورون له دوه کلمو جوړ دی، چې ځانونه یو بل سره مخامخ کوي یا تر دې چې دا یو بل ردوي. دا پخپله په دننه کې ردوونکی اکسومورون غوښتونی دی او د یوه شي په ټکي شوي حالت کې انځور دی، چې یوه بیلګه یې کینه-مینه( په کرښه ترنه یې په دې مانا چې یو وی دی) دی.

د بیتونو سره شعرLyrik

شعر چې یو څه روښانه کوي Epik.

بیا:

په اکسیومورون کې دوه ویونه یا کلیمې د منځپانګې له مخې سره مخامخ دي یا یو بل ردوي سماندیزه مخامخ ټوټه یې پلیوناز موس (۱) دی، چې په هغې کې دوه ویونه همغه یا برابر څه روښانه کوي. دا وی ااکسومورون یوناني دي او له دې لاندې منځ ته راځي

.(“dumm„ *moros* und “*sinnig*scharf„ *oxys* ausὀξύμωρος,

پښتو مانا یې اکسیو تیزلیدی او مورون بې عقل یا تېزلیدی احمق یا زیرک احمق

په ګوته کونه له دې امله پخپله یو اکسومورون دی، ځکه چې مانا یې د منځپانګې له مخې پخپله یو بل سره مخامخ دي یا یو بل ردوي( (تیزفکریز حماقت):

(۱)Pleonasmus

دا یو یوناني وی دی، چې پښتو ترېپ،هېدنه یې،، له اړتیازیات،، دی

یو پلیونازموس یو رېتوریکي ( د خبرو د هنر) څرګندیدنه ده، چې د یوې جملې په دننه کې هغه د ډیرواره وینا یوه ویګروپ یا هم د یو یوګوني کلیمې له لارې په نخښه شوی وي. تل هغه وخت چې یوه ژبني الات ،کارول کیږي چې هغه د دې تراوسه ویل شوي څخه پرته نور معلوماتي مواد نه ورکوي. دا وی د ټولو له پاره مناسب دي، چې د یو چا په یوه وینا کې پلیاناموس ته پام را وګرزوي. په پښتو کې یې دا بیلګه راوړی شو،: لکه ،،سره لمبه،،

د پلیانازموس له پاره بېلګې: ګردې غونډوسکې یا ګرد غونډاري، یخ شوی یخ ارامه پټه خوله، رنګه رنګونه

<u>Stilmittel</u> ( <u>stylistic devices</u> یې انګریزي دی ((

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستایل اله stilmittel

ستایل الي دبېلګي په توګه متافر یا بیضوي یاهګۍ( او ډېر نور) دي. دا ټاکلي ډولونه دي چې په تکستونو (خوندیونو) لکه شعرونو، لنډو نکلونو او پخوانیو کیسو او دا سې نورو کې منځ ته راځي. دا یو وپین اله یا افاده اله ده، چې یو څه ټاکلی وایي یا افاده کوي.

متافر ته = په وړونې موخه ترې پوهیدنې څخه تر څیرې پورې خبرې، د بیلګې په توګه سپی په هرکاره کې لیونی کیږي، دا د په کینه کېدلو یا قهرېدلو له پاره کارول کیږي.

یا هم ستایل اله ،، سیمبول،، یا سیمبولي،،، چې یو شی موخه-څېړې په څیر انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مینې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

یا زیاته خبره ( هغه خبره، چې له ربښتیاکیدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډند،، د انسنانو بهیدنه،،

هر ستایل اله ځانګړې مانا لري، چې د یوه څه له پاره ولاړه ده یا د یوه څه له پاره ځای نیسي، کیدی شي، چې د یوه ستایلډول له پاره هم وکارول شي.

## Metapher

متافر μεταφορά metaphorá ( زړه یوانانې )

وړنه یې نږدې مانا ده او ( د ځانګړو شتیلمواد یا – الو په څیر کارول کیږي) ژبنی ویېنه ده، چې د هغې سره وی( یو ویډله) ده د هغه د خپل اړونده مانااړوندوالی په یوه بل کې وړل کیږي یا وردننه کیږي ، بې له دې چې بې له یوه سیده پرتله ونې اړیکه د په نخښه شوي او په نخښه کیدونکي منځ کې روښانه شي.

ډنده:

دا بنسټ ویېنه یې د یوه څه له لارې ځاي په ځای کیږي، چې روښانه، لیدوړ او ژبیز بډای باید وي. د بیلګې په توګه ونه تاج ( د ونې تاج) د ونې د څوکو له پاره، یا دښتکښتی د اوښ له پاره. کله کله متافر ژبنیزې تشیاوې هم ډوکوي، چې د ستونځمنو لیکنو روښانه لیکنو را نغاړلو له پاره وي

متافر د ورته والي اصولو او د یوه ټاکلي او له دې سره جوړو شوو د ورته والي، منځپانګیز او نه د ګاوندی څرګندېدنو یا بربښېدنو منځ کې اړیکو څخه کار اخلي، له موږ سره چې د دوي په منځ کې .ماناوړنه لاس کې اخلي یا رانیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې کيدی شي د يوې لنډې (څيره-ډوله)پرتله وني له پاره ترې کار واخستل شي .
بېلګه: ملالۍ يوه ځمرۍ ده، په دې مانا چې ملالۍ دومره توانمنه ده لکه ځمرۍ. د لته د دې ځيروونکي حيوان نوم ملالۍ ته يووړل شو يا ورکړ شو...

متافر ته = په وړونې موخه ترې پوهيدنې څخه تر ځيرې پورې خبرې، د بيلګې په توګه سپی په هرکاره کې ليونی کيږي، دا د په کينه کېدلو يا قهرېدلو له پاره کارول کيږي.

يا هم ستايل اله ،، سيمبول،، يا سيمبولي،،، چې يو شی موخه-څېړې په ځير انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مينې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

يا زياته خبره ( هغه خبره، چې له رښتياکيدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډنډ،، د انسنانو بهيدنه،،

هر ستايل اله ځانګړې مانا لري، چې د يوه څه له پاره ولاړه ده يا د يوه څه له پاره ځای نيسي، کيدی شي، چې د يوه ستايلډول له پاره هم وکارول شي.

Oxymoron; paradoxon, Contradictio, Antithese

اوکسيومورون، پارادوکسون، کونترادکځيون په اديکتو کې، انتيتيزې

د شتيلموادو تيره بيولنه زيات وخت لړه شوني ده. په ټوله کې په الماني درس کې زيات وخت کې سره بدليږي. له دې مله غواړو دا پولې بيا سره روښانه کړو.

لومړی: اوکسيومورون له مخاميزو يا متضادو يووالو يا واحدونو څخه جوړيږي، چې د دوي برخوال سره مخامخوالي يا تضاد کې راځي. له دې سره يوه وينا توانمنده( که توامنه؟) کيدی شي..دا يووالي کيدی شي يوګوني يا ځانله ويونه وي يا د يوه ګډوله وی په دننه کې وي.

دويم: پارادوکسون: يو ( برېښيدونکی - ) مخامخوالی يا تضاد دي. دا بيا څنګيزه ده، چې ايا يوګوني جوړښتبز څه سره مخامخ دي يا متضاد ردوي. غوره يې دا ده، چې پارادوکسون منځپانګير کار نه ورکوي يا لومړی په دا دويم ليد موخه ور کيږي

دريم contradictio in adiecto :

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونتردکڅیو په اديکتو کې د اکسیمورون یو ځانګړی حالت دي. په دې کې یوه ستایل اله د یوه ادجکتیو او یوه سوبستانتیو څخه جوړه ده. دواړه ویونه یو د بل مخامخ دي او په پای کې لو بل ردوي.

انتیتیزېAntithese

هر اکسیمورون کیدی شي د انتیتیزې په څېر وپیژندل شي. خو انتیتېزې هڅیرۍ هم چې د منځپانګېز مخمخوالي او ټولې غوندالې له مخې هم

اکسیمورون ځان د دوه ویونو په مخامخوالي رابندوي

د اکسیومورون له پاره بیلګې

پيداښتي ده، چې یو شتیلمواد د بیلګو له لارې ښخ روښانه کیدی شي، نو له دې امله غاوړو، یو څو بیلګو له اکسیومورون او کونترادکڅیو ادکتیو څخه په کیله کړو.

اکسومورا له ژبې او ټولې ورځی

لږ ډېر دی

دې ډکیا زه غریب کړم

بیره له تلوار سره

غمګین خوښ

Adjektive

لاتین مانا یې: ورزیات شوی) خوي ویونه: دوي روښانه کوي، چې یو شی یا یو څه یا کسان... څنګه جوړ دي. دا د څنګه وي په نامه هم یادیږي، ځکه چې دوي پوښتي چې یو شی څنګه **جوړ دی**.

---

په اديکتو کې کونترادیکڅیو د اکسیومورون یو ځانګړی حالت

Contradictio in adiecto als Sonderform des

Oxymorons

زګیرویز درد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرده څلورئ ( مربع)

تور شيدې

ګونګه چغه

تیاره وه، سپوږمی ځلیده

په شنوواورو (وريدوني) ډهليز ( دهليز، چې شنې واورې پرې شوې وي)

کله چې موټر (لکه) بريښنا تيز

ورو په کونج راتاو شو

دننه ولاړ کسان ناست وو

پټه خوله (غلی) په خبرو کې ژور
يادونه: په نوکانو کې ليکنې زما يعني د ژباړي دي)

دا شعر کیدی شي د ۱۸۵۰ ز ک وي او په ډېر اختمال د ساکسو له وګړ غږ. له دې سره ډېر اکسیومورا جوړیدی شي، د کومو سره چې بيتونه يانيمبيتې هکپککوونکې اغیز ښندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سیستم څه شی دئ؟

اجازه دې وي،چې دا یو وی یعنې سیستم، چې ټولپوهیدونی دئ، خو بیا هم له تاسو سره کډ روښانه کړم. دې ته له دې امله راوهڅیدم، چې وګورو، دوي یا دا پرمختللي نړئ هر یو وی- چې فکرکیږي، دا خوروښانه دئ- څومره څیږي او روښانوي.

سیستم ( زوړ یوناني وی σύστημα sýstēma د ډېرو یوګونو برخو څخه یوځای اینوولشوی ټول) په ټولیزه توګه رابندوړ پیداښتي یا هنري ،، جوړښت،، په نخښه کوي یا په ګوته کوي، چې له بیلابیلو برخو څخه جوړ دئ، کوم چې د ټاکلو منظمو اړیکو په بنسټ یو له بل سره د ګډ ټول په څیر راوړلکیدی شي.

د دې وی یا کلیمې یووالیز پیژند نه شته، ځکه چې د هر مسلک له مخې یې پیژندورکول توپیر لري. په دې پسې نو دا مخ ته تللي غونډاله د یوه خوراغتې کډ پروپشوني یا - - ونوالي په موخه یو ذهنیت دئ. د یوګونو پارامترونو لاندې روښانه ونه کیدونکې ده.

- فضایی یا / او د یوه سیستم وختیزې پولې کیدی شي د هغه تنیزوالي یا د ټاکلو توانونو له لارې فزیکي روښانه کړای شي یا تشریح کړای شي( ریښتوني/مادي/ ټاکلي سیستمونه) – یا سوچه اندیز یا فکري جوړشوي، موخه-چوپیریز ( د موخې په چوپړ کې) پیداښت یا طبیعت وي( ادیال یا خیالي/ نه مادي/ نظري سیستمونه).

پیداښتي – یا طبیعي سیستمونه:

ټول پیداښتي سیستمونه په ریښتوني پیښشوي یا منځ ته راغلي (ریل یا واقعي) سیستمونه دي، چې د موخه-ورې له انساني‌پیداکوني anthropogenenاغیزې پرته منځ ته راغلي او ځان پخپله ساتونکی یا خپلځانساتونکي دي.( بیلګه: Atom ,Quantensystem, Lebendes System ,Molekül

(Planetensystem ,Ökosystem ,Psyche ,Organsystem ,Zelle ,

مصنوعي یا هنري سیستمونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصنوعي يا هنري سيستمونه هغه دي، چې د انسانانو له خوا په کې فکر شوی او جوړ شوي وي. دا کيدی شي مادي يا نامادي پيداښت وي، خو زيات وخت دواړه سره يوځای کوي. د دې په منځ کې سرې (رېښتوني) تخنيکي سيستمونه ( بيلګې: کارالات، ماشينونه، شميرونی( کمپيوتر)) سوسيال يا ټولنيز سيستمونه ( سوسيال ګروپونه، کورنۍ، نزاد، ټولنې، عقيدوي ټولنې) او سوسيالتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: معلوماتي سيستمونه، انترنت يا نړيوال جال).

يو ګډوله له پيدېښتي او هنري يا مصنوعي رېښتوني سيستمونو بيوتخنيکي سيستمونه ( بيلګې: مالساتنه او مالروزنه، پاکې جوړښتونه( کاناليزايشن)، مصنوعي زړونه) او سوسيال ايکولوزي سيستومونه انځوروي (بيلګې: کلتوري کرنيزي ځمکې، ساتنچاپيريالونه)

-- مادي سيستمونه هر يو يې د خپل ډول له مخې د هغه د چاپيريال په ښکاره - ، بند – او رابند سيستمونو وېشل شوي. سيستمتيوري د بنسټيتوپير لرونکو سيستمونو جوړښتډول او خوزښت يې د څېړنې لاندې نيسي.

نامادي يا ناشييز سيستمونه ځانله او ځانله مصنوعي جوړشوي، فکري سيستمونه دي، چې بې له انسانه ،، ټيله شوي،، له لارې کوم ديناميک نه راپيداکوي او شتون يې د مادي سيستمونو په واک کې دی(بېلګې: د کلمو سيستمونه، کواورديناتسيستم، د اکسيومونو سيستم، مودلې او تيوري).\

د يوه سيستم جوړښتيوتې( توکي، برخې) داسې ټاکلکيږي، چې يو له بل بيلابېلې يا رابندې، بېلابېلې دندې يا پوښتنې په سيستم کې پوره کړي. په څټه کې هر په خوښه رېښتونی( ستورو، ونو، غړو، جوړښتبرخو) يا فکر پرې شووالات ( غړونه، نخښې، زېرندې، سيمبولونه) د يوه سيستم برخه کيدی شي.

يو سيستم کړی شي برخسيستمونه ولري او هم پخپله د يوه پراخ سيستم(**Supersystem**) برخسيستم وي.

# پرتله کونه

ډاکتر ماخان ميرې شينواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې مخکې ... وبخښی دا ،، تر دې مخکې،، نه شته. تر ناسم دئ او مخکې هم کليوالي ليکندود دئ.

له دې د مخه ... په بخښنه دا هم پوره نه دي.

له دې څخه د مخه چې په دې موضوع پيل کوم، د اړتيا له مخې غواړم دا لاندې ستاسو مخ ته کيږدم:

ستاينوم، چې ما خپله ليکنه کې خوي وی ليکلی.

ستاينومونه به نوپه پښتو کې څنګه وي؟

موږ په پښتو کې د دې له پاره د نوروژبو په څير د ستايني جګونه نه لرو. زموږزيات ليکوالان، چې زه ګورم، ډېر اوخورا ډېر د دې له پاره ليکي.

بيلګه ۱: چټک،ډېر چټک، خورا چټک.

بيلګه۲ : جګ، ډېرجګ، خورا جګ.

دا کړی شو نور هم وستايو، چې وليکو، لا نور هم چټک، ـــ ډېر ـ، ـ خورا ـــ اونور.

دا لار چې په ژبه کې نه لرو، کيدی شي، چې دا د يوه قرارداد له مخې د پوهانوله خوا ومنل شي او يا يوبل څه ورته پيدا کړي. داد قرارداد له لارې کيدی شي، خو هيله ده نورڅه سره پيدا نه کړو، چې بيا د قرارداد نوم پرې کيږدو

اوس راځم خپلو اري خبرو ته يعنې پرتله کونې ته:

زموږزيات يا نږدې ټول ليکونکي اوليکوالان ژبپوهان د شيانو يود بل سره پرتله کونه او په همدې ډول يې د پرتله کونې ستاينه په ،، تر،، کوي. موږ ،،تر،، پوره څېړلی، چې څه شی او څنګه کارول کيږي.
لومړی: رموږليکونکي په دې اند دي، چې پرتله کونه د ،، تر،، سره کيږي.يعنې

سپين تر شين(هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) (ډېر- ،خورا – ) ښکلی دئ.
دويم: په پيداښتي ډول يې، چې زموږ هيوادوال په بيلابيلوځايونوکې کاروي:
هغه د ،، له ... څخه ،، سره پرتله کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه : له دوي، تاسو...او ... څخه کوم ښکلی دئ؟
سپین له شین (هغي هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) څخه ښکلی (ډېر- ،خورا – ) دئ.
دریم: سپین (را، ور، در) څخه ښکلی ( ډېر – ، خورا – ) دئ.
په پورته لیکنه کې دا د ،، ور څخه،، په ځای ځنې لیکوالان کله کله ،، تر یا نوره ،، لیکي یعنې:
که پوښتنه وشي، چې له سپین اوشین څخه کوم ښکلی دئ اوسپین ور څخه ښکلی وي،
نووایو: سپین تر شین ښکلی دئ. دلته ،، تر څخه،، نه وایو.
تر د هغه مهال، ځای اویوه څه د پای په نخښه کونې سره یعني ،،تر...پورې،، سره توپیر لري.
ګورو چې دا پورته ،،تر یا ترې،، د ،،ورڅخه،، په ځای راغلی.
موخه: پرتله ونه د هغه ،، تر،، سره چې موخه ورڅخه د ....پای وي، نه کیږي، دا په دې مانا چې په لاندې کې ،، تر،،
سپین تر(ما،هغه، تاسو او...) ښکلی ( ډېر -،خورا -) ښکلی دئ، ناسم دئ.

یادونه: یعنې دا ،،تر،، هغه اړیکوی نه دئ، دا له یوڅه یا چا یا شي څخه ښکلی دئ، چې زیات کسان یې لیکي:: ترې ښکلی..... چې دا ترې هغه د ،، ورڅخه ،، په موخه یا مانا دئ.

نسبت:

موږ په پښتوکې نسبت ته څه وایو؟ ( څه ووایو سم نه دئ، ځکه دا موږنه وایو، دا څه ورته ویلکیږي، دئ. له دې امله: څه وایو،دئ).

دلته هم شیان سره پرتله کیږي
دا چې نسبت پښتو نه دئ، نوکارونه یې کیدی شي له عربي څخه بل ډول وي، خوموږ یې هغه پښتو ډول سره کولی شو، ځکه په عربي خوتول نه پوهیږو.
په ګڼونو کې لویوالی، کوچنیوالی اوبرابروالی سره پرتله کیږي.
۲ نسبت ۴ (ته) کوچنی (دئ)
په کسانو یا شیانوکې، لویوالی، ښکلا، پلنوالی، ...
کسان یا شیان:
الف نسبت ب (ته) ښکلی ( جګ،پلن،...) دئ.
تناسب: ګڼونو کې:
د دوه ګڼونو پرتله کونه که دا سې وي، لکه د نورودوه ګڼونو،نو وایو:
۲ نسبت ۴ متناسب ۳ نسبت ۶ ته
یا یې اندول ۲ پر څلور برابردي له ۳ پر۶ سره. یا دا لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه و ۴ ته داسې دی یا برابر دي دي ته لکه ۳ و ۶ ته

نسبت به نو په پښتوڅه وي؟
په ګڼونوکې پرتله کونه:
۲ و ۵ ته کوچني دي

کسانو یا شیانو کې
سپین وشین ته ښکلی(جګ،....) دی
د ننګرهار انګور د کابل انګورو ته څواږه (تروه، ستر....) دي
نوګورو، چې د عربي ،،نسبت،، د پښتو ،، و..ته،، سره انډول دی.

تناسب به نوپه پښتو څه وي؟
۲ و۴ته داسې دي لکه ۳ و۶ته
یعنې ۲ په څلورو برابردي د ۳ پر ۶ سره.
سپین وشین ته داسې جګ( ښکلی،....) دی لکه برګ وخړته.
په پورته کې نوتناسب د برابر په مانا دی

یا داسې هم وایو چې:
سپین وشین ته په جګوالي کې داسې ځان نیسي، لکه برګ وخړ ته.
ګوروچې دلته تناسب ته د پښتو انډول،،ځان نیونه،، کیدی شي.

که شمیرپوهنې ته پام وکړو،نومتناسب دبرابرپه مانا راځي.

الف وبه ته داسې جګ دی، لکه پ و ت ته

یا

الف و ب ته برابر جګ دی لکه پ و ت ته.

تناسب داسې هم لیکو.

$$a/b = c/d$$

پخوا موداسې هم لیکه:

$$a:b::c:d$$

ګومان مې دی انګرېزي کې یې اوس هم داسې لیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ته راوړنه: ګورو، چې پرتله کونه د ،،تر ،، سره نه کيږي.

بيا: سپين وشين ته ښکی دي يا

سپين له شين څخه ښکلی دیٰ.

ناسم: سپين تر شين ښکلی دي.

خو سمې پرتله کونې له پاره ليکو، چې : سپين له شين څخه ښکلی دیٰ.

نو د ،،تر،، سره پرتله ونه نه شي کيدی،دا د ،،له ... څخه،، سره کيږي.

## د تل له پاره، تل، ترتله او تل ترتله

ما څوکاله د مخه د تاند درنې خپرونې کې د يوه ډېردرانه او راته ګران استاد يوه ليکنه ولوستله، چې له تاسو سره يې د شريکولو له پاره له هغې دا لاندې را اخلم او په دوه برخو يې وېشم:

يادونه: پخوا مې په دې يوه اوږده ليکنه کړې وه،خواوس مې دا نوې وليکله، چې د ليکنې ډول يې هم بدل غوندې دی.

لومړی: د تل له پاره:

،، ( د تل لپاره) په ګرامري لحاظ قيدي عبارت دی. دغه قيد د پښتو په پخوانو کتابونو کې نه مومو، په غالب ګومان په شلمه پيړیٰ کې پښتو ته راغلی دی او د انګليسي ژبې د FOR EVER ترجمه ښکاري.،،

ــــ ،،که څوک د متوفي په اړه وليکي چې : هغه له موږ د تل لپاره لاړ ؛ دلته يې نه ( تل ) او نه هغه د کلاسيکو اثارو عبارتونه معادل دي. ځينې خلک ( د تل په مخه ) عبارت استعمالوي چې شايد ( د تل لپاره) تر ګردو نږدې معادل وي. موږ ويلای شو چې : هغه له موږ د تل په مخه لاړ.،،

دويم: تل، ترتله اوتل ترتله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

،،( تل) ډېره لنډه، یوه سیلابي کلمه ده خو د ابدیت لویه معنا پکې نغښتې ده. په همدې وجه ډېر ځله لیکونکي د هغې ترمعنوي اثر لاندې راشي او یو څه نور توري ورسره زیات کړي چې په صورت کې یې هم د محتوا قوت پیدا شي. پخوانو چې ( تر تله ) جمع کړی او ( تر تلو) یې بللی دی، یا یې د (تر تله) په ځای ( تل تر تله ) راوړی دی، وجه یې همدا د تینګار غوښتنه ده.،،

ګرانو لوستونکو!

زه په دې لیکنې نور څه نه لیکم، خو دې د ،، تل له پاره، تر، ترتله ،، له پاره غواړم یواځې یوڅو غونډالې له تاسوسره شریکې کړم او په تل ترتله لړ تم شم :

له دې د مخه، چې په دې موخه څه لیکو اړیین بولم، چې د سم اند(منطق) څخه روښانه ونه وکړم.

یو: منطق

راځی، چې له هرڅه د مخه لومړی د سم اند یا منطق په بنسټ ،،وینا،، تعریف کړو:

پیژند ( دا پیژند د شمیر پوهنې سم اند څخه دی): وینا د ویونو یا کلمو موخه وره څنګ په څنګ ایښوونه ده، چې یو ،،ریښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا ولري.

که وو ایو، چې:

نن د کابل دښار د هوا حالات.

دا وینا نه ده، ځکه موخه وره نه ده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا نه لري.

که وو ایو، چې

نن کابل کې ورینګې (ورښت.) وریږي.

دا وینا ده، ځکه موخه وره ده او یو رښتیا ارزښت لري، یعنې یا به ورینګې وریږي( باران نه وریږي، باران میبارد)، چې رښتیا ارزښت یې رښتیا دی او یا به ورینګې نه وریږي، چې رښتیا ارزښت یې نارښتیا دی.

پورته جمله ویلای شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن په کابل کې ورينګي وريږي.

په کابل کې نن ورينګي وريږي.

ورينګي وريږي نن په کابل کې.

د سم اند له مخې دا ويناوې دي . ويونه موخه ور سره ځاي په ځاى شوي، خو دا چې ژبه يې څه ډول ليکنه غواړي، دا بيا بله خبره ده.

جمله يا بهتره وينا لرو: ،، استبدادي نظام د تل لپاره نسکور شو،،. دا ويناده، ځکه چې ،،رښتيا ارزښت،، رښتيا يا نا رښتيا لري.

دا چې دا ،، استبدادي حکومت،، به بيا راځي او که نه ، د دې سره يې موږ سر او کار نه لرو. دا د يوه کس اند دى او څرګند يې کړ.

دوه: له پخوانيو کتابونو څخه ګټه اخستنه اړينه ده، خو دې ته بايد ګوته ونيسو، چې موږ له پخوا څخه ډېر څه نه لرو، موږ همدا اوس خپلې ژبې ته وده ورکوو او دا – د لوي څښتن په برکت- په وده کې پوره چټکه ده. زموږ هر شاعر او هر اديب د هغه وخت له اد يبه او شاعره ښه پوهيږي او دا بايد همداسې وي، ځکه چې دا يوه طبيعي پروسه ده.

اوس راځوخپلې اري ليکنې ته:

لومړي ته:

دوه برخې دي.

١ – د دباندنۍ ژبې اغيز:

دا سمه خبره ده، کيدى شي دا وي، ځکه موږ اړيوچې هر څه يا ټولې پوهنې – ژبه هم – د د باندنيو ژبو په مرسته مخ ته بوځو، نو اغيزبه يې هرومرو وي، خو ايا دا اغيزيې د ژبلارو او د موخه ورتيا سره سم دى؟

دې ته بايد تل پوره پام وي.

اوس راځو د ،، تل له پاره،، ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ته باید پام وکړو، چې دا د FOR EVER انډول دئ اوکه نه؟ یعنې موخه وردی، که نه؟

یا زموږژبلار به دا وي، که نه؟

پوښتنه: ټکسي دې (د) څه وخت ( له پاره) راغوښتی؟

له هرڅه دمخه باید دې پوښتنې ته پام وکړو یا پام راوګرځوو، چې زموږپښتوهمداسې ده او که نه؟

که پوښتنه سمه وي، نولاندې ځوابونه یې هم هرومروسم دي.

— د سبا له پاره مې په یوولسوبجو تکسي راغوښتی دئ.

— د ... له پاره مې په یوولسو بجو تکسي راغوښتی دئ.

— ... ته مې....

— ... په یوولسو بجو مې تاکسي راغوښتی دئ.

د سبا په ځای چې درې ټکي ځای په ځای شوې، هر مهال (د ژبدود اوسم اند سره سم) لیکل کیدی شي.

داسې هم ویلی شي، چې:

— د تل (د درې ورځو، د یوې اونی، د راتلونکوڅوورځو، د هرې ورځې) له پاره مې په یوولسو بجو تاکسي راغوښتی دئ.

دا غونډالي ،،ربښتیا ارزښت،، ربښتیا یا نارښتیا لرودی شي، خو موږ یې دلته د ربښتیا ارزښت سره سر اوکار نه لرو

دویم ته: ، تل، ترتله، تل تر تله

پوښتنه ۱: ته څومره (وخت) دلته پاتیږي؟

زه څلور ورځې(یو کال، تل)دلته پاتی کیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه ۲: ته د څه وخته پورې دلته یې؟

زه دلته د ځلور ورځو( یوکال، تل) پورې دلته یم.

دلته هم ګوره همغه د ،،تل له پاره،، په څیر څه شته، چې رښتیا ارزښت لري. دا به یا رښتیا وي یا نارښتیا

پوښتنه۳ : ته له څه وخت تر څه وخت دلته یې؟

زه د ۵- م تر ۱۰ – م د حمل دلته یم.

بنسټیزه پوښتنه ۴ :

ایا تل ترتله د ترتله لپاره ټینګار دی؟

بیا لنډ:

څومره وخت ؟ تل.

د څه وخت له پاره؟ د تل له پاره.

تر څه وخته؟ تر تله.

موږ به دې تل تر تله ته لږ تم شو.

ایا هر څه چې شته وي، هغه پیل اوپای لري؟

و به وایو،چې هو.

هر څه چې پیدا کیږي،هغه پیل اوپای لري.

یو څو بیلګې:

په مړستون کې د مړي په خښځای داسې لیکي: ۶. ۵ .۱۹۷۸ – ۳ . ۸ . ۲۰۱۸

په توروبې لیکو: شپږم د پنځې ۱۹۷۸ تر ۳ د اتمې ۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په دې مانا چې: له .... تر ....

اوس نوپوښتنه دا ده، چې شته وي، خوپيدا نه وي؟

ايا داسې څه شته؟ هو اوهغه زموږ رب دئ.

رب تر تله برقرار دئ اوپيل يې هم له تله برقرار دئ، نو

دلته به هغه د رحمان بابا د شعر د يوه نيمبيتي راوړو،چې دا درانه استاد هم په خپله ليکنه کې راوړې:

،،تل تر تله برقواردئ رب زما،،

دا د رب له پاره داسې ليکو: تل تر تله

دا په دې مانا چې له تل څخه تر تله پورې. يعني دا لومړی ،، تل،، د ،، ترتله،، له پاره ټينګار نه دئ.

## نيونه، ښوونه، غوښتنه

دا ويونه، چې زه يې دلته اوس د ګرانو لوستونکوسره شريکوم، زيات په شمير پوهنه کې کارولکيږي، خو په ورځني ژوند اونوروپوهنوکې هم ورسره مخامخ کيږو.

زه زما ليکنې له الماني څخه راژباړم. زه باوري يم، چې له مانور تکړه کسان شته، چې دا کارښه کولی شي، که دوي يې پخپله نه کوي، نو هيله ده، چې لړترلړه خومرسته وکړي.

وړاندنيونه ( preconditio لنډ: نيونه ، فرضيه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندنیونه یو حالت او یا یو خوي دئ، چې باید پوره وي، له دې د مخه چې یو بل حالت، یوه کړنه یا یو بل خوي او یا یوه بله پروسه د ښوني شي یا وښول شي.

د بیلګې په توګه په یوه څه کې د ننوتنې منلو یا داخېلېدو اجازې د مستحق کېدو له پاره ازمویینه زیات وخت یوه وړاندنیونه یا که غواړئ فرضیه ده

یوه وړاندنیونه کېدی شي یواځې د یوه حالت یا یوه خوی یوه وړاندنیونه وي.

په سم اند کې وړاندنیونه په لاتین کې د پریمیس <u>Premise</u> په نامه هم بلل کیږي.

په شمېرپوهنه کې وړاندنیونه د یوې ښوونلارې یوه غوره برخه جوړولی شي

په دې توګه ایندکشن وړاندنیونه induction precondition
*Induktionsvoraussetzung* پایونه د ایندکشن ښوونه (the prove of induction)
<u>Induktionsbeweis</u> (د ځانګړو څخه په ټولیزو پایونه) پیل په نخښه کوي.

بېلګه : په ډېرو هېوادونو کې د تابعیت منلو لپاره په پوره سویه د ژبې زده کړه مخ د مخه وړاندنیونه ده.

په افغانستان کې د پوهنتون ننوتنې لپاره د کانکور ازموینه وړاندنیونه ده.

قضیه یا جمله :

جمله په شمېرپوهنه او سم اند کې یوه نوې پوهه یا پیژندنه ده ، چې له اکسیومونو، ټاکندویو(پیژندونو یا تعریفونو) او څرګنده جملو څخه فرمولبمدي کیږي. ددې لپاره، چې د یوې جملې وینا و منل شي یا وپېژندل شي، باید و ښوول شي . که په کره توګه ونیسو نو دا یوې منلې legitimierte ( قانوني) پرلپسې ټولګیز (صنفي) پریدیکاتي سم اند د پایونې پرلپسې ده یا که غواړئ پایله ده.

ښوونه:

په شمې رپوهنه کې ښوونه د یوې وینا د رښتیاوالي یا نارښتیاوالي باوري راوښتنه ( ښوونه) ده. دا د اکسیومونو، چې سر له سره رښتیا نیول شوي وي او نورو وینا و څخه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رښتیاینه یې تیاره ښوول شوي وي راوښتل کیږي.. دلته له اکسیوماتیکي **axiomatischen** ښووني خبرې کوو.

شمیرپوهنیز ښووني‌زیات وختپه وړو،وړوپلو د نورو غونډالویا جملوپه بنسټ سرته رسیږي.

جوړښتیزې - او نا جوړښتیزې ښوونې.

شتونښوونه:

شتونښوونه چې وښايي ده، یا یوه تلنلار ورکړ شوې، چې اوبی ته موبیایي،دا په دې مانا چې، یواوبی جوړیږي یا منځ ته راځي.

د یوه نه جوړښتیزې ښوونې سره د خویونو لرلوسره د یوه اوبیشتون پای کیږي. کله ختیناسیده نیونې کیږي، چې اوبیدې شتون نه لري. له دې ښوونو لاس ته نه راځي، چې سړی څنګه اوبی لاسته راوړي.

غوښتنه (ثبوت) Behauptung

غوښتنه (ثبوت) Behauptung یا ،، څرګند یا روښانه حکم ،،تضمین شوی قضاوت،، هم بلل کیږي، یوه جمله ده د ځانګړې مانا سره او له ویونکي څخه داسې ویل کیږي، چې ټولیزه او د ټل لپاره وي. که د بېلګي په توګه څوک پوښتني ته ، چې ایالندن له پاریس څخه لوی دی،؟

ځواب وایي: لندن په ۲۰۰۰ ز ک کې د پاریس څخه زیات اوسیدونکي لرل،، نو له دې سره دی غوښتنه رامنځ ته کوي.

یوه غوښتنه نه یواځې لکه ( څرکندونه) ویېنه یوه جمله ده د ټاکلي خوندیونې ( متن) سره، بلکې یو ټولیز ه کړنه کاروایي ده: د ویل شوې وینا لپاره یوه ټولیزه په اختیار کې نیونی ( چې ګوندې د ټیکوالي دعوا پرې شوي وي) باوري کیدنه . John R. Searl ددې لپاره د خبروکار"speach act" کلمه و کاروله.

غوښتني کېدی شي ټیک ( همداسې رښتیا ) وي یا نارښتیا. دا له دې امله موخه وړې دي، چې غوښتنو باندې د منلو او ردونو له امله خبرې اترې یا که غواړی مباحثه وشي، شک پرې راشي، ومنل شي یعنې تصدیق شي، چې زور پرې واچول شي، وښوول شي، رد کړاي شي( یاني تضاد یې وښوولی شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو ژبنیو ځرګندونو څخه یې رابېلونه

غوښتنې( ثبوتونه) نه دي لکه دا لاندې:

۱ - په نیونو وداني یا فقط نیولشوې یا نا جدي جملې. بېلګې په توګه په ادبیاتو، ژبتمرینونه یا ټوکې ټکالي لکه ( ،،په یوه وخت کې یو پاچا وو............،،)

۲ – پوښتنې،شک، ګومان(،، نه پوهېږم، چې ایا دا با راشي،،)

۳ – تیوریتیکي نیونې(،، نیسو،چې هر مالک د جګې کټې هلې ځلې کوي،،)

۴– امر ( ،، لاسونه جګ،،)

۵ – کلیمه ټاکنه یا نومینال پېژند (،، د زیاتو اتومونو ټینګ تړنه دې ،، مالیکیول ،، و بلل شي.

۶ – د ځانیز خوند یا مزې ځرګندونه(،، دا موزیک مې ښه راځي،،)

کومه ګټه نه لري، چې دلته د رښتیاپوښتنه رامنځ ته کړو. دا ډول جملې له بله اړخه په ارزښت کیږي، د بېلګې په توګه موخه ورتیا، هنري خوندیونه، مجلس ارزښت.

د غوښتنو ډولونه.

غوښتنې د خپلو منځپانګو له لارې په برخو وېشل کیږي ، د بېلګې په توګه:

-- غوښتنه، چې نړۍ څنګه جوړه شوې، داسې په نامه empirische یا په تجربو ودان، په رښتیا faktische یا مثبت

ښوونه(،، دا ونه له لسوکالوزړه ده،، ، ،، سرپ له وسپنې درانه دي،،).دا ډول غوښتنې تجربه- پوهنه ده، په ځنګړې توګه empirische ایمپریکي کارونه په پیداښتې پوهنو کې.

-- سم ادیز-شمیرپوهنیزې غوښتنې(،،د ۱۴۴ څلورۍ ریښه ۱۲ ده،،). دا د شمیرپوهنېاوسم اند اله ده.

-- ارزښتیدونکي غوښتنې ( ،، سپین و برګ ته ښه باجه یا رباب وهي،،).

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- یوه لار ،یوه کچه، اخلاقي غوښتني(،،سړی باید له دوي سره مرسته وکړي، چې بې له کومې تیروتنې یا ناوړه کړنې یا ګوناه اړ شي،،). دا ډول غوښتنې د نورماتیو-یا مثبت اخلاق Ethik الې دي.

-- <u>hermeneutische</u> روښانه، موخه ښوونیزې غوښتنې (،،د سپین بیرغ ښکاره کونه دا مانا لري،چې: ،، موږتسلیم یو،،). دا ډول غوښتنې د ژب – او کلتورپوهنې الې دي.

دننیسایکولوژیکي یا دننه (ځان) کتنې غوښتنې innerpsychische oder introspektive Behauptungen

(،، زه د غاښ درد لرم،،. ،، ګبینی خوږخوند لري،، ، ،، زه ګورم، چې ترمومتر ۱۰درجې څیلزیوس ښايي،،).

غوښتنې په نوروبرخو هم وېشل کیږي په:

-- غوښتنې په پخواني وخت کې په یوګړو یا ځانګړو پېښو، اوسمهال یا راتلونکو پېښو.

(،، ګوېتې په ۱۸۳۲ کې ومړ،، که د ګوېتې په ځای مې کوم افغان لیکلی،نود زیږېدنې یا مرګ ورځ مې یې باید اسانه پیداکولی شوی، دا چې دا مې نه شوکولی، اړ شوم همدا الماني پربږدم.په خواشینی).دا ډول غوښتنې د تاریخپوهنې الې دي.

--- د ټاکلو ډولونو شیانو شتون غوښتنه (،، په دې ځنګله کې ډینګری شته،،).

--- په تجربوي قانونمندۍ یا لاراړوندوالي غوښتنې (،، که څوک یوه کریستال ګلنۍ په مرمرځمکه وغورځوي، زرې زرې کیږي،،)

--- د علتونوغوښتنه (،،سپی مړ شوی، ځکه چې هغه سرطان لروده،،).

موږ د ثبوت په ځای د دې نوي وی ،، غوښتنه،، سره بلد نه یو، خوګورو چې دا سم همغه ثبوت دی.

غوښتنه: سپی په سرطان مړ شوی.

ښوونه: دا بیا باید وښوول شي، چې همداسې ده اوکه نه.

<u>Imperativ</u> په امریه بڼه، غوښتنې، امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

Implikation په کې رادننه کونه

جمله (شمیرپوهنه)

جمله په شمیرپوهنه اوسم اند کې یوه نوې پیژندنه ده، چې دا له اکسیومونو، پیژندونو او تازه پیژندل شوو جملو څخه وتلې فرمولبندي کیږي یا جوړیږي.د دې له پاره چې د یوې جملې وینا دپیژندلشي،باید دا وښوول شي.

په نورمال ډول جملې د خپل غوره والي په ترتیب په یوه اهرامډوله ترتیب پهبرخو ووېشل شي، چې ترتیب یې داسې برېښي:

١ - Lemma مرستندوی جمله ( د یوه غوره ښوونه کې مرستندوی جمله)

٢ - Korollar د کره کونو  یا ترې لاس ته راوړنو یوځایکول، چې دا له یوې جملې یا یوه پیژند بې د لویو بوختوالوراکول کیږي.  زیاتوخت پای لاسته راړونې)

٣ - Proposition ( سم اندیزې ویناوې).

۴ – جمله یا تیوریم Theorem (  پوهنیزه – او بنسټجمله یا سټجمله. Theorem تر اوسه په زیاتو ژبو کې کارولکیږي.

تل ژبنیز – یا ورځني ژبنیز لیدنې غوښتنه

--- تل ژبنیز لیدنې غوښتنه په ټولیزه توګه فکر دی.. که سړي ته یو فکر یا پیښه پیدا شي، نو سړی کړی شي دا یوه غوښتنه وبولي.

بیلګه- غونډاله: زما غوښتنه ده،چې زه موټر بیایم.

مانا: زه اوس په دې فکرراغلم، چې په موټر کې ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه د فلسفي له ليده يا له مخې:

د فلسفي پوهني له مخې د **Immanuel Kanntichnochnicht** (ايمانول تراوس مي نه پيژاند) کاتيګوري (ډلي) غوښتنه د احتمالوالي لارو - - يا قانونمندۍ په بنسټ په درې برخکاتيګوريو وېشلکيږي: دروغ، پوهيدنه اوتوکلي پيښيدنه. د **kategorischen Konjunktivs** يا ناسيده ويناو په بنسټ دروغ هغه د غوښتنې زياته پيښيدونکي بڼه ده.

وينادولونه يا وينابڼې:

درې Modi مودوله يا وينادولونه شته: اينديکاتيو، کونيونکتيو اوايمپيراتيو

اينديکاتيو Indikativ نومينال وينابڼه ده: ته ځې، هغه ځي او داسې نور.

کونيونکتيو يا ناسيده وينابڼه: غوښتن- يا هيله بڼه: زه به لاړ شم، ته به لاړ شې.

ايمپيراتيو Imperativ امربڼه: لاړ شی.

## Konjunktiv ناسيده وينا:

کونيونکتيوپه هغه حالتونوکې کارول کيږي، چې ريښتونی نه، بلکه يواځې شونی يا ممکن وي. يا دا:

زيات وخت وينا په ناسيده ويناکې د امکان په چاپيريال کې راځي، دا د امکانبڼه يا شونتيا بڼه او يا کېدنتيابڼه هم بلل کيږي. کونيونکتيودا نه ښايي، چې يو څه شوني دي.

زه به لاړ شم، ته به لاړ شي اوداسې نور.

دا موضوع پوره اوږد او په زړه پورې د خبروڅه لري.

دا څه ليکنې مې چې وکړې، نود ژبې سره مې مينه نوره هم زياته شوه اوداسې وايم، چې په دې زاړه بدن يا تيروخت د ژبې زده کړی شم.

دا زما يوه مشوره ځوانانو اوپه پوهنه کې هڅاندو ته - په هره پوهنه کې چې وي- دا ده، چې بې له يوې پرمختللې دباندنۍ ژبې – چې وړانيزمي انګريزي ده- هيڅ نه کيږي، موږ.ډېر د زده کړو وروسته پاتې ټولنه يو اوژبه موتوانمنده، خو هم وروسته پاتې ده او هرڅه بايد له بلې ژبې راونيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Smakhan1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکترماخان میرزی شینواری

# نیولوجیزم Neologismus

منلي انجنیر صیب ستانه میرزهیر په م ک کې وړاندیز کړی وو، چې د علومواکادمي له خوا دې یوه ډله جوړه شي، چې دا نیولوجیزم زما په اند د څېړنې، پراخونې اوورسره بلدونې اوبلدېدنې کارمخ ته یوسي. زه داسې لږ پوهیدم، چې ګوندې دا خود نوو وینو سره سر اوکار باید ولري، خوبیا مې هم وغوښتل، چې ځان داسې لږ څه پرې وپوهوم، نو د الماني ن ج له لارې مې دا لیکنه برابره کړه، چې له تاسوسره یې هم په مینه ګډوم.

دا لیکنه به دوه برخې ولري، چې لومړۍ به یې د نیولوجیزم سره ځان بوخت کړي او دویمه به یې نیولجیزم ته د پښتو اړتیا په هکله وي او په دې اړوند به دژبپوهانو کار څه وي او که نورې اړتیا به مو اړیینې وي.

که زما د لیکنو سره څوک داسې لږ بلد وي، نو دې ته به یې هم پام شوی وي، چې زما په لیکنوکې پردې ویونه کم لیدل کیږي، پرته له هغه پوره اړیینویونو، چې پښتو اندول ورته نه پیداکیږي، چې هغه به هم زیات پیداښتي ویونه نه وي او هغه به هم د هغې اړونده ژبې د ودې له مخې منځ ته راغي وي.

یوه داسې ځوان پښتون راته لیکلي وو، چې ګوندې زما لیکنې یې لوستلي، خو ډېر ساده دي.

لومړۍ برخه

## نیولوجیزم:

یو نیولوجیزم Neologismus په یوې ژبتولنې کې په تولیزه کارونه کې د مخه ترې تیرشوی یعنې د پرېښودو ژبني ویونو بیا نوې کارونه ده، وایي

- یو نوی راپیدا کړی وی (نوی وی) په همدې توکه یو همداسې وېینه ( افاده) یا

- یوه نوې مانا، چې د هغې سره همدا اوس لرلی وی، په همدې توګه پخپله وېینه ( افاده) باندې سمبالیږي (نوې مانا) یا دا نوې مانا ورته ورکولکیږي، یا هم دا وی په همدې توګه وېینه پخپله، چې نوې مانا غوره کوي.

که دا دیوې ژبتولنې په دننه کې پراخونه ومیندي یا دژبتولنې په دننه کې وزغلي، او د ژبویونو کتاب ( ډکشنري) یې را واخلي او د دې ژبې ژبپانګه کې ځای ونیسي. د نیولوجیزم له پاره کرکتریستیک یا خویغوره-والی یا خویټاکونکی دی، چې ویونکی دا په یوه وختواټن کې د نوي په توګه خپلوي. کوم ویونه (لا) نیولوجیزم دي، په دې پورې اړه لري، چې له کوم وختټکي څخه سرې د یوې ژبې ویونپانګه (ویونو پانګه) په پام کې نیسي یا څېړي. د دې په څنګ کې په تولیز-ژبنیز ستاندارد ویونکتابونو( د ویونو کتابونو یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډکشنري) رانیولشوي نیولوجیزمونو له پاره په ډېرو ژبوکي ځانګړي ویونکتابونه، چي دوي ځانله یا ټیک د همدې ویونپانګه( که ویونوپانګه؟) څیړي شتون لري. د نیولوچیزم وینې ( افادې) ته د زړې یوناني ویونه neu „νέος *neos* “نوی ، او λόγος *logos* „Wort“ ،، وی،، بنسټ ته پراته دي، چې په پښتو یې نویوی (نووی یا نوی وی) بللی شو.

## د دې کلیمې جنجالپرابلم ته

دا د نیولوجیزم وی یا کلیمه په ژبپوهنه کې نه بیخې ساده یوونوالی یا یواندوالی نه لري.

Hadumod Bußmann ( هادومود بوسمن) داسې پیژند ورکوي:

نوې په کاراچولشوي یا نوې منځ ته راغلي ژبنیزې وییني،، داسې ویونه په ویجوړوني، ویپوروني یا د ماناوړونوالي له لارې منځ ته راځي. ځانله د نیولنګویستیک Neurolinguistik یا نیوژبپوهنه ( نوې ژبپوهنه) کې د دې وی له پاره د دې وی یا کلیمې د نوي پیداېښت منل منځ ته راځي یا د دې وی منل منل کیږي.

هلموت ګلوک Helmut Glück له یوې لور نیولوجیزم له نوېپیداېښت سره برابر وټاکه یا کیښود او په چوخونی ،،وینوېپیداېښت،، سره په حواله نیولوجیزم، دا ورکړلشوې بیلګې مګر ټیک د ویجوړوني، پوروني یا ماناوړني حالتونه دي. د ژبپوهنې ورځنیوالي یا رواج کې که هرڅومره ناوخته نو د ۱۹-مې پیړی پای څخه ،، ویپیداکونه/ پیلپیداکوني،، له یوې لورې او ،، ویجوړوني،، بلې لور ته توپیروي.

## بیلونه

د ژوندی ژبې خبرېکوونکي هره ورځ نوي ویونه جوړوي یا پیداکوي، چې د هغوی سره دوي سملاسي یا توکلي بلنتشیاوي یا نومونتشیاوې ډکوي یا بندوي. زیات له دې ویونو ټیک یوځل په کارلویږي. زیات وخت د دې ویونو موخه په دې کې ده، چې د هغه سره یو نومونحالت پوره کړي.

## د نیولوجیزم ډولونه

د نیولوجیزم لاندې ډولونه کیدی شي سره توپیر شي.

نوویونه(نوی ویونه)

وییني او ماناوي نوې دي. د نوي ځوان وخت بیلګه یې د لنډخبرلیږل له پاره وتونوی *simsen* له SMS څخه دی.

## نوي ماناوي

یو زوړ وی ټیک یوه نوې مانا ( پسې یا بله مانا هم) اخلي. په دې توګه ګوندې له یوه زاړه وی د بیلګې په توګه موږک *Maus* په یوه ،، تخنیکي الې، د شمیروني ورشو،، کې هم ځای په ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي کمبينيشنونه يا نوي ګډوله لکينه:

دلته هغه کارونويونه سره يوځای کيږي ( Internetcafé انټرنټکافی ,لېټاپ بکس Laptop-Tasche, انالوګ ساعت Analoguhr).

## نيولوجيزم او ژبنورم

که نوی وی کاروني ته ريشي، نو خبرېکوونکی زيات وخت د نورم د نه باورتيا سره مخامخ کيږي.

وېينه، مانا اوکيدی شي د ډېرماناوالي

- وېينډول يې لومړی په ورځنی کارونه کي ساتل کيږي. په ځانګړي توګه پوروېونو کې دا زيات پيښيږي، خو نه تل، يوه د اعياروني(چمتوکوني) پروسه پيښيږي، چې د هغې سره د ترې پور شوي ژبې وينډول د فينومينسيستم سره سر وخوري. د دې له پاره بيلګه ډونلوډ*Download* دی

په ژبه کې پردي ويونه ځای نيسي، ځکه چې په الماني همداسي پښتو ژبه کې ورته انډول نه پيداکيږي.

Kunstwort مصنوعي وی يا هنري وی( هنروی)

د هنروي سره هغه وی په نخښه کوو، چې د يوې ژبې د ويجوړوني پيداښتي الاتو سره جوړ نه وي او د يوې بلې ژبې څخه هم نه وي پور شوی. دا يوه نوې ريښه جوړوي اوزيات جګسومبوليک يا زيات نمونه-ييز ( نمونيز؟) دی. نوي جوړ شوي هنرويونه زيات وخت د نيولويجزمونو په حيث باوري وو.

د شعرونو ترتيب او بيتونوکي سرې زياتوخت د هنرويونوسره مخامخ کيږي.

## جوړښتنومونه

د هنرويونو له پاره زيات جوړښتنمونه: د ويونيپلو ( د ويونو د پيل) يوځای راکښنه، يوځای ايښوونه، او د ګرافيمونو Graphemen د ګډوله کوني لنډونه.

## يوځايراکښنه:

په دې د هنرويونوکي دوه يا زيات ويونه و يوه وي ته راکښلکيږي (،، سره ويليکول،،)، چيرته چې سره يوبل باندې اوښتوني برخه لرې کيږي. د دې له پاره بلابيلې په نخښه-وني شته، د بيلګې په توګه، يوځای راکښنوی، سره ويليکولوی، ګډوله-وی....

بيلګې:

- Teuro له *teuer*(ګران) او *Euro*(يورو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Demokratur له Demokratie او Diktatur

- Grusical له ډاروونکي Grusel او Musical موزیک څخه

- Informatik له Information او Automatik (یا Mathematik) څخه

اینفورماتیک په نامه پوهنځی شته اولوستل یې وایي چې له شمیرپوهنې ستونځمن دي.
موږ د کمپیوترساینس په نامه پوهنځی لرو، نه پوهیږم، چې هلته به څومره د
اینفورماتیک سره سراوکارلري، خوګومان مې دی، چې دومره ډیربه نه وي.

- Mechatronik له Mechanik او Elektronik څخه.

دا یوه نوې د موټرو مسلکي زده کړه هم ده، ځکه د نویو موټرو ماشینونه ټول په
همداسې الو سمبال دي، چې میناترونیکان ورسره سر اوکارلري.

- Glokalisierung له Globalisierung او Lokalisierung څخه.

## Zusammensetzung von Wortanfängen

د ویونو پیلې سره یوځای اینبوونه

دا هنرویونه د سیلبولنډویونوسره خپلوان دي:

بیلګې:

- Modem له Modulator او Demodulator څخه

- Moped له Motor او Pedal څخه. دا د ډیډبي اوبایسکل څخه جوړ په پښوو هن-الاتو
ځي یا بیول کیږي.

- Chipitts له Chicago او Pittsburgh څخه

- Haribo له Hans Riegel Bonn (هانس ریګل نوم دی، چې له بن وویا دی(؟) )
څخه. دا یوه خوږه دخوږوجوړه میوه ده، چې کوچنیان یې په مینه خوري.

- Milka له Milch شودو او کاکو Kakao څخه جوړ څه دي. خواږه خو هرومرودي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Abkürzungen لنډوني**

لنډوني هم کيدی شي هنرويونه وبلل شي
بيلګه:

“Nato„ د *North Atlantic Treaty Organisation* له پاره لنډونه.

دا لومړۍبرخه زموږله پاره دلته همدومره بسيا کوي او اوس راځو دې

دويمې برخې ته:

## د پښتو ستونځې اونيولوجيزم:

د پښتو د پوهنيزې ودې له امله او که غواړی، د نه ودې له امله دپښتو ژبې ستونځې هم زياتې دي. موږ اوتاسود دې ليکنې سره داسې لږ سر نيولوجيزم ته ورښکاره کړ او ومو ليدل، چې دا نيولوجيزم د يوې ژبې ويونکو د ودې سره هم سيده تړاو لري

## هنرويونه او نيولوجيزمونه

ټول هنرويونه نيولوجيزمونه نه دي. يوه ويکتابيزه ( د ډکشنري) نخښنه يو اوږد وخت د نيولوجيزم په څير ګڼل کيږي. د زياتې پراخيدنې او د کاروني دوام سره د ټولژبنيز ويپانګې د ورسره ورځنې يا اري ژبې برخه ګرځي.

دا چې په پښتو کې به نيولوجيزمونه کوم وي، زه ترې نه يم خبر اونه پرې پوهيږم، د دې دې ماته بخښنه وي، خو هغه ويونه چې موږ بدل کړي يا د نورو ويونو په ځای، چې ګوندې موږ يې پښتو کوو چې تاسوته به هيله ده زما د ليکنو معلومې وي- هغه - په پوره خواشينی بايد ووايم - چې له هره اړخه ناسمې دي لکه:

مايع ته اوبلن ويل اود سلمې په ځای سلنه کارول، د ستاندارد، سطحې سويې په ځای کچه کارول او داسې نور.

دلته به مې هم وړانديزدادی، چې د نوروژبو په مرسته به هرې پوهنې ته وده ورکوو اوهلته په نورو ژبوکې زياتوخت د پيداښتې ويونو له پاره موږ په پښتو انډول پيداکولی شو اوکه نه نو بيا د همغې ژبې همغه وي ليکو اوکه په عربي انډول باندې يې پوهيدو، نوهغه هم له نوروښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: ځان پالنه دي نه وي، خو دا به ووایم، چې په نړدې ځلوېښتو کتابونوکې، چې راټولوني اوژباړې دي، ما شمیرپوهنه په پښتو لیکلې، دا په دې مان، چې په پښتویعنې ټول مسلکي نومونه په پښتودي اودا ما جوړکړي نه دي، دا نیولوجیزمونه نه دي، دا موږ په ژبه کې لرلي ویونه دي، چې ما به لومړي ځل ترې کار اخستی وي یا به مې لومړي ځل په کاراچولي وي او له دې امله دزیاتو ګوتنیونو سره مخامخ هم یم، خوباورلرم، چې دا به هغه خپل ځای نیسي. ماته غوره دا برېښي، چې زما په اند ناسمون په کې نه شته اوکه وو، نوهغه به د راتلونکوځوانانو دنده وي، چې سم یې کړي.

زموږلومړی دنده: کتابونه له نوروژبو په پښتو ژباړل، دا په دې مانا، چې مسلکي ویونو ته هم د پښتو انډول پیداکول لکه د مشبوع له پاره موږ یا ماړه لیکل او د داسې کتابونو ډېرول.

بیا زما ټل ځوانانو ته مشوره: که غواړو وپوهیږو اوپوهه مو نوروته ورکړی شو، باید په یوه پرمختللې د باندنی ژبه ښه وپوهیږو.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

## دا مو د ستونځوبیو لار نه ده

زه – لکه د ټل په څېر- د ژبپوهانو او په ژبه کې د نوښت مینوالو څخه بخښنه غواړم، چې دا د دوي د ژبسمون او نوښتونو سره هم اندی نه یم، خو باور وکړی، چې دا څه چې زه لیکم هم، د ځان غوښتنې او ستایېنې له امله نه دي.

دا چې ژبه مو نوې د دولت د ژبې په څېر میدان ته راوتلې، نو دا ستونځې مو تر یوه وخته پورې شته. دا ستونځې ټولې ژبې لري، هغه چې ډېرې پرمختللې ژبې هم دي. دا ستونځې چې موږ یې په ژبه کې ګورو، داسې ستونځې دي، چې موږ ورسره سم ژوند کړی شو او لکه څنګه چې د نورو ژبو خاوندان د خپلو ژبو سره په دې هکله ستونځې نه لري او یا نه دې راپیداکړي، موږ یې ورسره نه لرو او له موږ څخه هر یو هم لکه د نورو ژبو خاوندان د سمپوهېدنې له امله د ستونځو سره نه مخامخ کیږو، نو باید راپیدایې هم نه کړو.

یوه بله یادونه: زه چې د خپلو خوانو لیکوالانو او ژبپوهان لیکنې لولم، نو باور وکړی، چې ورته خوښېږم. دوي توانمنده کسان دي او زه ورته د راتلونکې له پاره ډېر ښه لید لرم او د نورې توانمندیکېدو هیله یې لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونځي مو څه دي؟

نورې ستونځې څنګه زېږوي؟

زموږ ژبپوهان او ژبمينوال، چې سره کښېني او د خوب ته تللو وخت چرت کې لاړشي او يو څه ورته فکر ته راشي، چې بدلو يا سمون يا پيداکېدنه کې فکر لاړ شي، نو سملاسي غواړي يو څه ورته پيدا کړي او يا کله، کله يو زدکړيال يا زدکوونی ترې ديوه څه په هکله وپوښتني، نو دی بايد دې پوښتني ته يو ځواب پيدا کړي، داسې نه ورته وايي، چې دا خو د نړۍ په ټولو ژبو کې دا ستونځې شته.

يو څو بېلګې به يې دلته راوړم:

لومړي. پوښتل کيږي، چې: هغه راغئ او هغه کتاب ولوست. دا خو نو يو ډول ه ګانې دي څنګه به پوه شو، چې دا به نو څنګه سره توپير ګړو. موږ خو د عربي په برکت يو ګوډی الف لرو سملاسي دا استاد د يوې ه په سر يو ګوډی الف وروتپی.

دويم: يو ژبمينوال دشپې په چرت کې وي او فکر ته يې راشي، چې دا د فارسي صدم خو د پښتو د سلم غوندې دی، خو راځه دا سلن کړه. دلته نو ژبلار، سم اند، د شمېرپوهنې لار ته فکر نه کړي او هغه سهار بيا ټولو پښتنو خپله د ليکنې لار ګرځولې وي.

دريم: پښتانه پوهان سره کښيني او وايي، چې دا مايع خو عربي دی، دا بايد په پښتو شي( دا کېدی شي او انډول يې بايد وي، ځکه دا پيداپښتي وی دی)، نو يو وايي، چې موږ خو ورته په پکتياکې اوبلن وايو، نو سملاسي دا اوبين شي. دا ځکه چې دا ژبې مينهوال خو نه پوهږي، چې دا مايع څه پېژند لري او د فزيک له مخې يې دا پېژند څنګه ورکړل شوی دی. هغه نوم اوس ځوږ په درسي کتابونو کې هم کتل کيږي او اوبلن غاز هم وايې، بې له دې چې په اوبلن وپوهيږي او يا په مايع.

څلورم: د غلامی کړی، چې وايي ماتې کړی، نو سملاسې وايي، چې دلته خو بايد يوه يې بدله شي.

بيا دليل راوړي، چې يو غږ او دوه يېګانې. دا ژبلار نه ده دا ژبلارې په مخامخ لار ده، خو دا اوس هم زموږ هغه وتلي ژبپوهان او په ژبه کې پوهان همداسې ناسمه ناسمه ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په کړۍ او کړۍ کې ستونځه وي، خو د دې یوه په ک کې ده، چې ځانله سیلبې لري، دا خو د ی کار نه دی، خو وایي، چې د مرچو تاو له کوچو باسي. دلته خو گوره باید ک ته یو څه ورپه غاړه کړې او نه ،، ی،، په گوډي الف وزوروي.

که موږ داسې خوبونه گورو نو راځئ چې دا سې یو څو بېلگې یې راوړو:

لومړی: ولې ولې ولې؟

دلته نوموی، پوښتنوی او کړنوی دي، چې هر یو یې هر یو کېدی شي. پوښتنه به نو د درنو ژبپوهانو دا وي، چې نو موږ څنگه پوه شو، چې کوم یې کوم دی؟

په پورته کې خو ا دوه نه داچې یو ډول لیکل کیږي، یو ډول ویل کیږي هم او دادریم کې د ویلو له لارې بېلوالی شته، هلته به نو دې د پوښتنوی د و سره یو څه کوو یا به الف پرې د پاسه تپو او یا به نو نه پوهېږم.

دویم : د تره ( د پلار ورو) او تره( هغه د بادرنگ په څېر خوندور) په منځ کې به نو له ه پرته د سیلبې له لارې توپیر کوو او کوم به کوم نوم وي؟ دلته نو باید په یوهت څه و تپو، چې دواړه نومونه هم دي.

راځئ چې یوه بېلگه - زما له لورې کېدی شي یوه بې سم انده بېلکه وي - خو راوړو.

افغانستان کې لومړی الف بل ډول ویل کیږي، چې د نوښت له امله باید یو گوډی الف وربانديې سور کړو، که څنگه؟ او پرته له دې څنگه باید وپوهیږو ، چې دا ن هغه د عربو په څېر زبر لري، زور او که یا پېښ. موږ خو په شمېرونې کې همدا یو گوډی الف لرو، چې په هر توري یې سورولی شو.

دریم: د ترور ( د پلار یا د مور خور) او ترور( چې چا ته یو څه ورپېښ شي او ترور یوې او بلې خوا ته گوري) په منځ کې به هم څنگه توپیر وکړی شو؟

یوه پوښتنه: موږ وایو، چې دوه وونه لرو. ایا موږ یې چې یو ډول لیکو، د کومو ستونځو سره یې مخ کړي یو؟ چې تراوسه یې د ستونځو سره نه یو مخ کړي، نو له دې وروسته، چې موږ پسې پښتانه خو لا بنه باید وپوهیږي، دوي به نو څنگه له ستونځو سره مخامخ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه په يادو راوړنه: يوه ورځ ځوکسان سره ناست وو، چې په غبرګون خبرې شوې، نو دې يوه وويل چې ګوندې دا وی د ده له لورې روځنی شوی، دا يې نوښت وو. ما ورته وويل، که ووايو چې: ..غبرګون ونه ښوده دا به ښه وي او که ووايو چې .. څه ونه ويل، چې تل سم دئ او ترې پوهېدنه يې هم سمه ده.

پای يادونه:

زموږ د فارسي ورونه پوهيږي، چې شيری او شير سره نه بدلوي او دوي تراوسه د دې يوې ي سره ژوند کړی او له دې امله يې ځانونو ته نورې ستونځې نه دي زيږولي او همداسي د night سره انګريزي ژبو ولسونو هم کومه ستونځه نه ده لرلې او نه چا نايګټ يا نايغت او يا بل څه ويلی او دا په پېړيو همداسې ده.

زما په اند به موږ هم سور، سور او سور، سور سره نه بدلوو.

سور(رنګ)، سور (چای)، سور( د يوه پټې)، رباب سور. دا دوه دروند ،، و ،، لري او دا بل يې سپک ،، و ،،، خو بيا د دې نورو دوو سره څه کوو، چې مغه ،، و ،، لري؟

## دا پورته ليکنه مې د لاندې ليکنې له امله وکړه:

ما دا څو ورځې د مخه د پوهنتون د يوه استاد ليکنه ولوستله، چې د يوه زدکړي پوښتنې ته يې بيا په ،،ه،، ګوډی الف ترلی وو، نو دا ليکنه مې په ورزياته کړه، کېدی شي تکرار يې ډېر وي، خو غورځول مې يې زړه نه غواړي.

زه په دې اخرو وختونو کې ،، ه ، ا ، و او ی،، ګورم، يا مې ورته اوس پام را اووښتی، چې په ککره ياځنګ کې يې ورته ګوډی الف سور کړی، نو له دې امله مې داسې لړې او وړې ليکنې ته زړه راپوورته کړ، د يوه سوال سره، چې موږ د پښتو له پاره بايد نورې ستونځې ونه زيږوو.

د دې ستونځو سره مو ژوند کړی او دا د هيڅ څه مخه هم نه نيسي او ټول پرې بوهيږي. کله کله زموږ ګران ژبپوهان او نور ليکوالان ليکي، پښتو د ې د نورو ژبويونکو له پاره ساده شي. دا مو نه دنده ده او نه يې بايد دنده وګرځوو، دا څه چې لرو، دا به د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبوالاو سره هم ګډوو. لکه موږ په نور ژبو ځنګه پوهېږو، دوی هم زموږ په ژبه همداسې پوهېدلی شي. موږ ته زموږ له پاره په لومړۍ ليکه زموږ ژبه غوروالی لري.

يادونه: زه دلته داسې لږ ستونځې لرم، چې دا غوروالی او که غوره والی وليکو، خو که هرڅنګه وي هم ستونځې ورسره نه شو پيداکولی.

زما هيله همدا ده، چې راځۍ نورې ستونځې به نه زياتوو.

لکه پورته مې چې ګوته ورته ونيوله، زموږ ليکوالان او ژبپوهان او همداسې نور د اند او نظر خاوندان په دې اخرو او يا هم شايد له پخوا د غږلرونکو تورو د ليکلو سره ستونځې لري او يا ستونځې راپورته کوي. دا ستونځې د نړۍ په ټولو ژبو کې شته او دا د پرمختګ مخه نه نيسي او نه د ژبې خاوندان ورسره کومه ستونځه را پورته کوي يا لري.

موږ خو پرته له دې هم په ژبه او هره ريښه کې پوره ستونځې لرو، چې هغه بايد اوبی (حل) شي، نو له دې امله زه هم غواړم په دې ستونځو لږ دګرانو لوستونکو سره خپل اند ګډ کړم.

موږ درې غږلرونکي توري لرو ( او که ه) په ورزياته کړو، نو څلور به شي.

لومړی: ا يا الف دی. د الف غږوې شته خو به ماته له دوه ډوله شايد ډېره وبرېښي، خو وبه نيسو، چې دا دوه خو هرومرو شته او د نورو غږلرونکو تورو سره خو يې -که ورسره مل راشي- نور هم د غږډولونه ډېرېږي، نو که دا سره د ليکنې له مخې بېلوو . د بېلګې په توګه که ولرو باور( د دې سمه د غږونو روښانونه به بياداسې وي، چې د با څخه پرته وو ته هم يا الف يا يو بل څه ولېکې، چې سرې پوه شي، چې جګ ويل کيږي او نه دپېښ سره او نه د زېر سره) دا مو ژبه ده پوهيږو، چې څنګه يې لولو.

دويم: دا دوه وونه خو لرو، چې دروند وو لکه تمباکو ( که تنباکو؟) او سپک وو، لکه زانګو. دلته هم شايد ځنې پښتو پوهان يا د ويلکېدنې مينوال وغواړي، چې د يوې نخښې له لار يې سره بدل کړي.

ځنې ليکنو کې ګورو، چې په ا هم ګوډی الف ليکي او په ،،ه،، هم، همداسې په ،،و،، هم، يېګانې خو لا څه کوي، چې پنځه شوې خو دي او که دا لار وي، نو بايد لږترلږه خو اته شي.

## ايا پښتو غږلرونکي توري پرته له دې اړونده غږونو نورې دندې لري؟

يا ايا د غږ لرونکو تور په مرسته، کړنه او نوم ټاکلی شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه. نوري دندې نه لري. د دې له مخې څوک څه شی ټاکلی نه شي یا نه ټاکل کیږي، خو دوي، د ډېرګونو او یوګونو نومونو او همداسې د نارینه او ښځینه نومونو منځ کې د روښانونې دنده لري.

د دوی له لارې څه نه ټاکلکیږي. دلته ګوره د پېژندنې یا ور پېژندنې نه لیکم، ځکه دا پېژندنه بیا پخپله یوه دنده ده. دا روښانونه راته سمه برېښي. بېلګې یې: لکه د يې ګانو له لارې، چې نارینه، ښځینه، یو او ډېر روښانه کیږي یا راته څرګندیږي، که پیژندل کیږي ولیکم، نو کېدی شي دلته بیا نورې پوښتنې رامنځ ته شي، خو یو کار چې هیڅ وخت د ژبلار له لارې نه کیږي، هغه دا دی، چې د هیڅ توري یا نورهم غږلرونکي توري له لارې او همداسې ی له لارې کړنه او نوم نه ټاکل کیږي، دا په دې مانا، چې کړوال او نوموال غږلرونکي توري نه شته، چې لارې یې کړنه او نوم سره ټاکل کیږي او بېلیږي. د دې له پاره نه ټولیزه لار شته او نه د ژبلارې له لارې. دا سې هم نه کیږي، چې یو غږ لرونکی توری او دوه ډوله لیکل، دا هم ژبلار نه ده.

## د کړنو سره د کړونې بڼه بدلېدل:

په پښتو ژبه کې د کړنو ډولونو سره د تېر وخت او اوسمهال له پاره د کړونې بڼه د ځنو کړنو له پاره بدلیږي او دا هم یوه لار لري:

لومړی : هغه کړنې، چې پرې کړونې ته اړتیا نه لري، په هغو کې د کړونې بڼه نه بدلیږي. پېلکې یې: تلل، کښېناستل، درېدل او .نور

بېلګې یې ګران لوستونکي پخپله راوړلی شي

دویم: هغه کړنې دي، چې د هغو کړلو له پاره پربکړونې ته اړتیا شته. په هغو کړنو کې د اوس مهال او د تېرمهال له پاره د کوونکو بڼه بدلیږي. بېلګې یې: وهل، خوړل، او نور

پښتو ماته یوه توانمنه، خو داسې لږ د نورو له پاره ستونځمنه ژبه برېښي، خو که المانې او یا داسې ویل کیږي، روسې ته پام راواړوو، هغه هم همداسې ستونځمنې ژبې دي، خو زده کیږي او زه هم لاتراوسه په المانې ژبه د ډېرو ناسمونونو سره مخامخ کیږم. المانیان. زموږ په غم کې نه دي، چې ژبه کې نور بدلونونه راولي.

د داسې لږ څه بوختیاله پاره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله موضوع مې زړه دی، چې له تاسو سره ګډه کړم او هغه د هغه څه له امله ده، چې موږ يې دواړه لرو:

موږ لرو: ،، زما، زموږ، ستا، ستاسو،، او هم لرو: ،، دما، دموږ، دتا، دتاسو،، زموږ ورځنی شوی ،، زما او نور دي، خو ايا د ژبلار له لارې هم داسم دي او که دا ،، دما...،، سم دي؟

دما له انده او څېړنې له مخې خو ،، دما، دموږ، دتا، دتاسو،، سم دی. ليکنه مې په دې هکله په تاند او دعوت منلو خپرونو کې خوره شوې او د ژبلار کتاب ، چې په لنډ وخت کې به خور شي، هم وي..

له سرې سينې مو مننه او راته روغ او هڅاند اوسی.

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

## پښتو ته ناسم راننباسلشوي ويونه

## او له ژبپوهانو څخه هيله

دا داسې لنډ، بې له اوږدې شننې راوړم. دا ټولې ليکنې د تاند او دعوت په منلو پاڼو کې خورې شوي او هم دا کې هم کتل کېدی شي ketabton. com زما په همدې نامه کتاب په

څنګه پوهېږو، چې دا يا يو وی ولې ناسم دی؟

لومړی: يو نوم، يو وی يا کوم توری، چې د هغه ورکړ شوي نوم يا بل څه خوي ونه لري، ناسم دی.

دويم: يو نوم يا بل کوم وی، چې ټوليز نه وي او ټوليز کېدی نه شي، ناسم دی.

دريم: د ژبلارې سره په مخامخوالي کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورم: د هر څه د سم او ناسم له پاره، چې ښوونې او دلايل راوړل کيږي، بايد له مخامخوالي خپلواک يا ازاد وي

پنځم بيا د پورته لنډ: پوهنيز دليل کوم دي؟ هغه دليل، چې له مخامخوالي خپلواک يا ازاد وي.

داسې پيل کوو:

يو: سلن نه شته: د سلم له پاره سلن راوړل ناسم دی. دا د ژبې او شمېرپوهنې له لارې او ټولګيز هم نه دی او دا دې هم په ياد وي، چې دا سلنه شلګلن ناسمون دی، له دې د مخه دا ناسمون نه وو،.

دوه: اوبلن : دا هم ناسم د بهيدونکو له پاره کارول کيږي. اوبلن يواځې او يواځې د واورو خوي دی او بس.

درې : تر : په ټولو هغو ځايونو کې تر ناسم دی، چې داسې نه وي:

لومړی اړيکوی: له جلالکوټ تر کابله يا ... ترکابل پورې.

دويم ترنوی: په کوټه کې ۲۰ تر ۳۰ کسان ځايېږي.

دريم د مهال يا يو څه پای: تر نهو بجو درځم

بيا: پرته له داسې غونډالو، په بل هر ځای کې ،، تر ،، ناسم دی.

ځلور: له تر سره پرتله کونه: دا هم سوچبوچ نه شي کېدی، زما کتاب کې روښانه شوي..

پنځه: ئ: زموږ په پښتو کې داسې ،، ئ، ځای نه لري. دا ژبلار نه ده، چې غږ دې يو او ،، ئ،، دې دوه - يا ان دريو ته هم ر سېدلی شي - وي.

شپږ: سرکال تر ټولو ډېر انګور شوې، ناسمه ده. که ووايو په ټوله کې، دا يو تکيه کلام دی پروا نه لري.

اوه: تر ډېره بريده يا ... پولې، او هم يا کچې ناسم دي.

اته : کچه موږ زيات وخت ناسمه کاروو، د ستاندارد يا معيار، سطحې او سويې له پاره.

لاندې به يو څو ويونه راوړو، چې نوم او اړيکويونه دي او تل بايد په ليکلو کې پام ورته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. نوره کارونه یې د اړیکوي ده.

نهه: منځ یا منځتکی: یواځې د یوه شي یا یوه څه هندسي منځ باید وي.

نور منځ اړیکوی دی.

مخ. په مخ یې دانه ده. چې پرته له داسې کارونو، چې فزیکي مخ دی، نور کارول یې اړیکویونه دي. مخ ته ، دمخه، خو ترمخه سوچبوچ نه شته او همداسې تر مخکې. دا تر خو ناسم او دا مخکې هم کلیوالي ویېنه ده.

همداسې ځنګ او شا. په دې پوهیږو، چې کله فزیکي او کله دا فزیکي ځنګ او شا موخه تری نه ده.

دا هم ناسم دي:

روغتون، چې مورږ د ناروغانو ځای ته وایو ناسم دی. سم یې ناروغتون، رغنتون یا رغنځی دي.

رغنځی ماته ډېر ښه برېښي.

د کورنیو چارو وزارت ناموخور دی، موخوریې د دننیو چارو وزارت.

دې وګوري.

دې وګوري. Ketabton: comهغه ګران لوستونکي، د دې اونورو سمونونو سره مینه لري، نو

یوه یادونه:

دا ما ته یوه بابیزه او بې ارزښته خبره نه برېښي، دا مو ژبه ده، څوک هم چې دا ژبه ناسمه کاروي، باید سمون ته راوبلل شي

مورږ پوهنیز مرکزونه لرو. له هغو څخه غواړم، چې دا په غور وګوري او هر یو چې ناسم وو، دا په دې مانا چې که یو هم، نو دوي حق لري، چې ما ته مناسبه جزا وټاکي او سمه ستره جزا به داوي، چې دوی راڅخه د ډاکترۍ شهادتنامه واخلي او که نه، نو بیا دې راته د ژبپوهنې ډاکتري راکړي، دا پرې ارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له ټولو ليکلوست خاوندانو هيله کوم، چې د دې پرېکړې ملاتړ وکړي، دا د هر يوه کار دئ او ټول د دې ناسمونو سره ګير دي، د علومو اکادمي د پښتو څانګې او پوهنتونونو پوهنيز کادرونه دې دې کار ته راوبولی.

په پای کې دې د يوې يادونې اجازه وي او هغه دا چې: دا پوهنيزه ځانښونه نه ده، چې په يوه پوهنيزه ليکنه، د سمې او ناسمې پرېکړه وغواړو او موږ ورته چپه خوله پاتې شو، که په هر لامل هم وي.

تاسو ژبپوهان دې پرېکړې ته په مينه رابولم.

باور وکړئ، چې زما ملګري او پېژندګلوي، چې ښه عالمان او په ژبه کې وتلي کسان دي او سلنه يا بهېدونکو ته اوبلن ووايي او دا ،، تر ،، ناسم وکاروي، ډېر زورېږم. او رښتيا ډېر زورېږم. که دوي ته دا سم برېښي، نو زه به د دوي له پاره هم ارام شم، هغه دې موږ ته راوښايي، چې کوم پخواني او کوم جوړشوي دي.

. زموږ ځنې د ادب مينه وال په دې اند دي، چې زموږ ژبپوهان دي، خانونه داسې لړ د نيولوجيزم سره بوخت کړي، خو زه په دې اند نه يم. موږ دا خپل لرلي او نه مينلي ويونه، چې د مسلک په زور ومېندل، دا بهنو پورهبرياليتوب وي، ودې ته نوي ويونه پيدا او جوړ کړو. تاسو ماته يو څه وښايي، چې د هغه نوم جوړېدی شي او موږ يې نه جوړوو..

ستاسو د ټولو له سرې سينې ډېره مننه.

ډاکتر ماخان ميرې شينوارې

Pronomen نومځاينيوي ( هم: له پاره ويونه):

له دې د مخه په نوم غږيږو؛

Nomen نوم ( نومونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلیادونه: یوچا لیکلي وو، چې لیکنه مې کیدی شي د الماني د اغیز لاندې وي. په دې کې خو شک نه شته، چې زما وتونژبه الماني ده او لیکنې مې له الماني را نیسم، نو هرومروبه یې اغیززیات وي او دا خپله اغیز دی، خو زما په اند د پښتو لیکندود سره به ناسمون نه راولي. زما ټوله زده کړه له الماني ده او د الماني لیکنه بیا د پښتو د ( دلته ،،تر،، نه لیکم،ناسم دئ) اغیز لاندې ده.

په خواشینئ باید ووایم، چې موږ باید ټولې پوهنیزې لیکنې له نورو ژبو را وژباړو. په خپله ژبه کې خو مو تراوسه دومره څه نه دي کړي، چې هغه د ښوونځي ساده لیکنې هم پښتو کړو.

دا دې ځانستاینه نه وي، چې ما اوس شمیرپوهنه او داسې لږ څه فزیک په پښتو کړي.

Einleitung پیلونه:

نوم ( شی هم دئ، شي وی،ښستوی یا نوموی بللکیږي) شیان ښایي(لکه میز، کاسه)، ژوندي شیان( ښځه) اوذهني نومونه ( هوا). نومونه بیا په پښتو نارینه او ښځینه باندې وېشل کیږي.

نر- ښځېوالي نومونه **Genus**

په الماني ژبه کې د ګینوس یا نر-ښځیوالي نومونو له پاره ارتیکلونه دي، چې د هغوله مخې ن، ښ او نرښځی پیژندل کیږي. موږ په پښتو کې نرښځي نوم پرته له انسانانو څخه په نورونومونو کې نه لرو. همدا نر- ښځینوالی لرو، چې دا زیات یې له پای توري څخه جوتیږي. زرکه، سپوږمۍ، لمر، ستوری او نور.

ښځینه نومونه داسې پیژندل کیږي، چې پای کې یې دا توري وي: ې،ۍ،ه ،....

نارینه نومونه داسې پیژندل کیږي،چې پای یې یا بی – یا ناخوزنده توری وي، دا په دې مانا، چې پای یې کوم غږلرونکی توری نه وي، لکه سپک، درونډ، چینار او .....

خو دا باید په کلکه په ګوته کړم، چې د پای توري په دې اغیز نه لري، دا په دې مانا، چې ګوندې یو وی یه پایوې له دې یادو تورو ولري، نو هغه دې ښځینه یا نارینه نوم وي، دا په دې مانا،چې دا توري نومونه نه جوړوي، د تورو له مخې نر-ښځیوالي نومونه پیژندل کیدی شي او نه ټاکل کیدی.

د غږلرونکو تورو له مخې د کړنې او نومونو توپیر هم نه شي کیدی، دا په دې مانا، چې موږ نه شو ویلی، چې کړنه ده، ځکه یې د ،، ئ، سره لیکو، دا په دې مانا، چې نومیاله اوکړیاله ،، ی ،، او،، ئ،، غبرګي نه شته، دا په دې مانا، چې ،، ئ ،، نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېره بخښنه، چې د دې پورته ،، ئ ،، سره مې داسې لږ تاوتريخوالی دی. زه وايم،چې دا نه شته، نو ځکه يې په بيلګو کې زياته راوړم، چې ښايي هلته اړينه هم نه وي، خو څه وکړم؟ بيا هم بخښنه کوی.

## Pronomen نومځاينيوي ( هم: له پاره ويونه):

يادونه: ګومان مې دی، چې زموږ ژبپوهان ورته نومځري(؟) وای، خو پوره باوري نه يم او په بل نوم يې هم نه پوهيږم، داسې بخښنې راته کوی، ملامت يم، خو څه وکړم، زموږد پښتو يا بيخي په پښتو پوهنې لا تراوسه کورته نه دي راغلي، لکه دا په نوروژبو پوهنې. پوهيږو، چې داليکنې له کورڅخه بې له کتاب او کتابتون سرته رسوو. دا دې دلته په ګوته وي، چې نومځاينيوی هرو مرو د پرونوم انډول دی او همداسې دی، که غواړو او که نه ؟

## نومځاينيوي:

په الماني کې له الماني رانيولي ورته ،،له پاره،، ويونه هم وايي. پرونوم د نوم ځای نيسي، نو له دې امله نومځاينيوي هم بلل کيږي اوګردانيږي يعني بدليږي. په لاندې کې به وهڅيږو، چې څنګه موږ له الماني څخه دا پښتو رااخستلی شو اوڅنګه له دې سره مخ ته ځو.

د الماني لاندې پرونومونه يا نومځاينيوي د بيلګې په توګه څيړو:

Personalpronomen, Possessivpronomen, Reflexivpronomen, Relativpronomen او Interrogativpronomen.

**Personalpronomen** ځانيز يا شخصي نومځاينيوي

ځانيز يا شخصي نومځاينيوي دي: زه، ته، هغه(ن او ښ)، موږ، تاسو(ن،ښ)، هغوي او د هغوي بدليدونکي بڼې دي.

ګومان مې دی( د نورو په ليکلو کې مې ليکلي، چې دا ،، ګرمان مې دی،، پوهنيزه ويېنه نه ده، نو زهبهووايم، چې باور مې دی)، چې پښتو کې پرته له پورته دا لاندې هم ځانيز نومځاينيوي دي، چې دا به يې لږترلږه د الماني او فارسي سره توپيروي: ما، موږ، تا، تاسو، هغه، هغې، هغوي(ن،ښ). دا پورته په ياد راوړو، چې نومځاينيوي ځايونه سره بدلوي يا سره بدليږي.

يادونه: دلته هرومروزموږ د ژبپوهانو ليکنو ته پوره اړتيا ده، زه خو به داسې لږ سرسري مخ ته ځم، ژوره ليکنه بيا په ډېره بخښنه زه هم ژبپوهانو ته پريږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ځانیز نومځاینیوي کړی شو دا د بلل شوې نومونو په ځای ولیکو، په خپل ځان خبرې وکړو همداسې له نورو کسانوسره څه ووایو یا خبرې وکړو.

خودلته داړیینه یادونه: دا یادونه هم نه ده،دا دموضوع اړونده برخه جوړوي، چې په درې، الماني او پښتوکې يې غونډلې څنګه جوړیږي او کوم نومځانیوي ورته راوړل کیږي:

بیلګې:

په الماني کې وایو

.Ich habe *eine Katze*. *Sie* ist schwarz

زه یوه پیشو لرم، هغه توره ده

من یک پشک دارم،او سیاه است

په الماني او درې ژبو کې د هر وخت له پاره همدا Ich او،، من،، راځي او یواځې کړونی بدلیږي یا بنه بدلیږي، خو په پښتوکې داسې نه ده، چې لاندې يې راوړو:

په پښتو کې کړوني هم بڼه-بدلیږي او نومځاینیوي هم بدلیږي.

زه یوه پیشولرم = من یک پشک دارم

زه به یوه پیشو ولرم = من یک پیشک خواهیم داشت، خو

ما یوه پیشو لرله = من یک پیشک داشتم

بله بیلګه:

Das ist *mein* Koffer. (Begleiter) دا زما (دما) بکس دئ ( ورسره یا مل)
Das ist *meiner*. (Ersatz) دا زما (دما) دئ ( په بدل کې)

په الماني او درې کې ګورو، چې کړنوی بدلیږي، خو په پښتو کې نه دا چې کړنوی بدلیږي، خپله نومځاینیوی هم بدلیږي، چې دا لږ ترلږه په الماني اوفارسي یا درې کې داسې نه دي، چې زه همدې دې لیکنې ته راوبللم یا راوهڅولو.

دا به وروسته لږنوره هم روښانه کړو.

## **Possessivpronomen** خاوندوالي - یا څښتنوالي نومځاینیوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

)

دا پوسسیسیو نومځاینیوي( خوندیوالي نومځاینیوي) اړوندوالی یا خاوندوالی یعني ملکیت په ګوته کوي، موږدا دوه سره توپیروو د مل په څیر او د نومځاینیوي په څیر د په ځای په بڼه یا په څیر

بیلګه

دا زما بکس دئ او که دا د ما بکس دئ

دا زما دئ. دا دما دئ

راګرځیدوني نومځاینیوي **Reflexivpronomen**

رفلکسیو- یا راګرځیدوني نومځاینیوي موږ د راګرځیدني یا بیرته راګرځیدني سره (ځان تیرباسل یا ځان تیروتل، ځان ناسمیدل( غلتیدل(غلطیدل؟))) او رامات کړنو ( ځان پیژندل) سره کاروو
بلګه:

Ich habe *mich* verlaufen. ما ځان تیرباسه یا زه تیروتلم ( خبره په ما اوزه کې ده)
Wir kennen *uns* موږسره پیژنو

که پام وکړو، نودلته هم هرومروپښتو او الماني،همداسې فارسي بل ډول دي.

**Relativpronomen** نسبتي نومځای نیوي

د نسبتي نومځاینیوو ( هغه، دا، کوم،...) سره موږ نسبتي غونډالي په ګوته کوو.

بیلګه:

Die Polizei sucht den Mann, *der* die Bank überfallen hat.

پولیس سړی لټوی، کوم(هغه) چې بانک وهلی.

**Interrogativpronomen** پوښتنوییزیز- یا پوښتنیز نومځاینیوي

پوښتنیز نومځاینیوي ( څوک، څه شی، چاته، د چا) په پوښتنغونډاله کي د نوم په خاي راځي، د هغه پسې یا د کوم چې موږ پوښتنه کوو.

بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درې سره به لږ ستونځې ولرم، خوزه پوهېږم، چې تاسوله ما ښه پوهېږئ.

*?Wer wird das sagen* دا به څوک ووايي؟

*?Wer sagt das* دا څوک وايي

*?Wer* hat das gesagt دا چا وويل؟

*?Wer hat das gesagt gehab* دا چا ويلي وو؟

يادونه: دلته ګوره له،، څوک،، څخه ،،چا ته،،لاړه. درې سره يې پوره توپير شته.

.**Demonstrativpronomen** پام راګرځوني نومځاينيوي دي: دا،هغه ، کوم چې .
موږ پام راګرځووني نومځای نيوي هلته کاروو، چې يو څه ( د نورو له ډلې) راوباسو يا غوره کوو يا د پاموړ ګرځوو.

بېلګې:

?Möchten Sie dieses Hemd oder jenes تاسو دا کميس غواړې يا هغه؟

**Indefinitpronomen** ناټاکلي نومځاينيوي.

دې ناټاکلو نومځاينيوو پورې د بېلګې په توګه اړه لرئ يوڅه، نه،سړی، يوڅوک، هر.
موږ دا کاروو، کله چې موږ يوشی ټوليزکوو
بېلګه:

?*Kannst du* etwas *für mich tun* ( ايا) ته زما له پاره يوڅه کړی شې؟

***Deklination von Pronomen*** د نومځاينيوو بدليدنه

د لته د نومځاينيوو په بدليدنې او پوسيسيو نومځاينيووباندې پوره غږېږو:
بېلګه:

*Er* hat *seinen* Kaffee nicht getrunken

هغه خپله کافي نه ده څښلې. ( که ټکي په ټکي يې وژباړو: هغه د هغه ( د همده) کافي نه ده څښلې)

پای ياونه: د مخه مې هم ګوته ورته ونيوه، چې دا نومځاينيوي او نومونه يې له الماني رانيول شوي. زما هيله دا ده، چې پام دې ورته وکړو، چې دا په پښتو څنګه بلل کيږي اوکوم او څنګه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د نومځاینیوو په پښتو بلنه کې دې ګران ژبپوهان مرسته وکړي.

پسې لیکنه: د دري ژبو افغانانو ستونځې د پښتو (له نومځاینیوو) سره اود اوبې لارې چارې یې.(؟).

موږ په نومځاینیوو کې د ژبو په برتله ستونځې هم لرو او دا هم پیداښتي ده، چې باید داسې توپیرون وي، خو د یوه څه پیژند په ټولو ژبوکې همغه دی. داسې نه دی، چې ګوندې په الماني کې نومځاینیوی په پشتو کې نوم یا یو بل څه شي یا همداسې کړنه دې د فعل سره توپیر ولري.

## د ،،واحد،، لاندې موږ څه پوهیږو؟

موږ په دا دومره مهال کې واحد د کچونو لویو یعني متر، کیلوګرام او نورو ته وایو، چې دا ناسم دی او تل ناسم وو، خو یا مو ورته فکر نه دی شوی او یا مو د سمون په باوریوالي باندې ځانونه نشو پوهولی. زما هم له هغه وخته ورته پام شوی، چې په لیکنواو ژباړو مې پیل وکړ، چې له دې امله مې په خپلو لیکنو دې لویو ته واحد نه دی ویلی. دا پیداښتي ده، چې په نورو وتلو ژبو کې دا هر څه سم روښانه او بلل شوي، چې په پښتو انډول یې باید ولیکل شي، خو دا هم په خپله ژبه د باور کمی او هم پهځانونو دباور کمی دی، چې د سمون زورتیا مو تر اوسه نه ده کړې. واحد یوه ته وایې او بس

له مخه یو څو یادونې:

لومړی: زما وړاندیز: که څوک غواړي یو پو هنیز څه ولیکي، چې ټولنې ته یې وړاندې کړي، باید په اول کې دا د یوې وتلې دباندنی ژبې راونیسي. په پوره خوشنی باید ووایم، چې موږ لا تراوسه پوهنیز څه په خپله ژبه کې نه لرو یا پوره نه لرو او دا مو له دې امله ناسمونون سره مخامخ کوي. که دا کومه لیکنه له دباندن وتلې لکه انرېزي ژبې څخه راوژباړو، نو د انګریزي یونیټ په ځای به واحد ونه لیکو، نو له دې امله – که غواړی ښه څه ولیکې، نو یوه وتلې ژبهښه د پوره توان سره زده کړی او پهنیزې لیکنې ترې راوباړی. موږ د ټولو پیداښتي ویونو لهپاره په خپلو ژبو دپیداښت سره سم پهپښتو انډول لرو

دویم: موږ که یو څه خبرو ته رااچوو، نو پیژند یې باید راوړل شي، ښه روښانه، ټولپوهوړ او ټولپوهیز.

زیاته شننه د سړي څخه لار ورکوي، لنډ او بې له کومو زیاتونو باید هغه موخه ورکړل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم: که د بل چا لیکنو په ناسمون خبرې کوو، نو هغه لیکنه باید راوړو او بیا یې په خپل اند هغه سمون ورته وړاندې کړو.

داسې باید نه وي، چې د هغه څه مې ولوستل ښه نه وو، یا ترې سمه ګټه نه اخستل کېده. دا باید و ښوول شي، چې د هغه لیکنه کې کوم ناسمونونه وو او دا څنګه سمېدلی شي. د دې له پاره باید ښه روښانه او پوهوړ دلایل راوړل شي.

څلورم: په لیکنه کې بې له اړیینو څه باید سملاسي خپلې لیکنې باندې پیل وکړو

.

اوس راځم خپلې موخې یعنې ،، واحد،، ته.

زه چې زموږ د لیکوالانو اندونه او د واحد پیژند د دوي په اند د دوي په لیکنو کې ګورم، ورته خواشینی شم، چې له دې امله دې لیکنې ته راوهڅول شوم، که څه هم دا زما پهپخوانیو لیکنو او همدا ډول د شمېرپوهنې ویونو کتاب کې هم شته. .

موږ چې لا تراوسه واحد کاروو، نو موخه ترې تل د یوه څه د کچولو لویې لکه متر، کیلوګرام او ساعت ته ،،واحد،،(؟) وایو، یعنې که اوږدوال یا یو بل څه کچوو، نو هغې د کچونو الو یا کچون الو له لارې، چې هغه روښانه پیژند او نوم لري، دا پهدې مانا چې که اوږدوالی کچوو، نو دا په متر کوو، چې دا د کچونې واحد بولو، چې دا پوره ناسم بلل دي. په پوره خواشینی باید ووایم، چې موږ اوس هم دا پخوانی ناسمونونه همهغسې ناسم کاروو. د دې کار هغه ستر لامل دادی، چې موږ هغه د دباندنیو ژبو رانیولو څه ته هم فکر نه کوو، چې په هغو کې دا څنګه دی، خو موږ په همدې ،، واحد،، پاتې شوي یوچې زه غواړم دا لږ روښانه کړم.

زه غواړم، چې ستاسو په لیکنه کې دا ،، واحد،، لږ رڼښانه کړم او مسلکي پېژند یې له تاسو سره ګډ کړم، هیله ده، چې دا به

راته وبخښې، کوم ځانیز څه په کې نه لرم او هیله مې زموږ او ستاسو همغږیزوالي دی

.

دا په پښتو کې ورځنی شوی وی ،،و احد،، موږ له عربي ناسم رااخستی دی. د ،، واحد،، ترې پوهېدنه بل څه دي و هغه ته چې موږ ترې پوهېږو. د واحد پښتو انډول ،، یو ،، دی چې پسې دوه، درې او نور راځي او بس.. دا چې موږ ورته واحد وایو موخه ترې ،، یو،، نه دی. یو یو دی او نور څه نه وایي او همداسې لکه دوه، درې او نور هم. یو که د یوه څه سره یوځای شي، نو بیا هغه شی یو هغه څه دی، لکه یوکتاب یا یو متر، - کیلو، - بجه او نه دوه یا درې او نور..

موږ په فزیک کې ویلي، چې د فزیکي لویو د کچولول له پاره زموږ په بللو،، واحدونه،، کاروو، چې ،، واحد،، یې ناسمه نومونه یا بلل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نو څنګه سمووو؟ موږ وتلو ژبو ته ځو او د هغو څخه دا سم رانیسو:

د کچونلویو د څومرهوالي لهپاره، چې کاروو، دا په نورو

ژبو کې لکه انګرېزي کې

Die Einheitدی او الماني کې unite

او همداسې يې عربي مانا،، وحدة،، دی، چې موږ يې پوره ناسم ،،واحد،، بولو. له دې دریوارو ژبو څخه د دې پښتو انډول ،، یووالی،، دی، چې ما په خپلو لیکنو ویوون بللی، چې ګوندې دا به همدا یووالی وي او که څنګه؟

موږ ته دا یووالی، چې ما ،،یوون،، بللی، لږ بلډول برېښي، نابلد دی او ګومان مو راځي، چې ګوندې دا یووالی، خو یو بل څه دي. دا همداسې دی او نه يې بل څوک پیداکوي، که نه هغه به همداسې لکه دا ،، واحد،، ناسم وي. دا ویډول دی، دا په ټولو ژبو کې همداسې دی ،د پښتو انډول يې هم همدا دی، ما نه دی پیداکړی او نه دومره توان لرم. د دې روښانه ولو لهپاره داسې مخ ته ځو:

.فزیکي لويې څه شی دی؟

فزیکي لویې اوږدوالی، درونددوالی او مهال دي او د فزیکي لویو د څو والي او څومره والي د روښانولو له پاره یووالي متر، کیلوګرام، ساعت دی، چې لوي او واړه یووالي بیا لري. که موږ او تاسو د هر څه اوږدوالی کچوو، نو په متر به دا کار کوو او دا متر له دې امله یو یووالیز یووالی دی، چې هر ډول اودوالی پرې کچیږي او بس.

: Grad Celsius, Kelvin und Fahrenheit د تبې یووالي

دا پورته د تبې یووالي یا یوونونه دي، چې یو بل اړول کیږي یا اړولکېدی شي.

ربښتیا درسره شریک کړم هغه بل يې زما له یاده ووتلو. په پوره بخښنه .

د هرې بلې لوي له پاره د کچولو یووالی شته لکه د موټر زور، چې په اسزور کچیږي او داسې نور

اوس به نو راشو، دې د ژبپوهنې یووالو ته، چې دلته به څنګه وي؟

## ژبه معیاري کونه

معیاري ژبه نوڅه؟

معیاري ژبه باید د کلیوالي ژبې سره توپیرولري، ژبه باید خپل ګرامر ولري اووی کتابونه اود اړتیاوله پاره په معیاري ژبه یا لوړه ژبه اویا اکادمیک ژبه د لوستلو اومرسته اخستلوله پاره پوره پانګه ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراوسه چې په پښتو ژبه کې څه شوي، دا ځانله یا یو یوکس کړي اودا هرومرو ستر کار، خو ډېر کم دي.

لنډ ورځنی ژبه یا کلیوالي ژبه، چې په هغه ژبه چاپیریال کې، د ټولوینژبې سره په ویلو او لیکلو توپیر لري او لوړه یا معیاري ژبه هغه وي، چې د هغې ژبې ټول ویونکي پرې لیکنه اولوستنه کوي.

دانو په څه مانا؟

دا په دې مانا، چې د ختیز، سهیلي او لودیز افغانستان خلک په خپلو کلیوالي ژبو غږېږي، چې سره تو پیر لري، خو معیاري ژبه دا ده، چې ټول یو ډول لیکل پرې کوي.

لنډ: معیاري ژبه د هغې ژبې د خلکود پوهې لاس ته راوړنوا ړتیاوې پوره کوي.

دریم ته: پوهنیزه ژبه هغه ده، چې د اړتیا ټولې پوهنې لکه د مخه موګوته ورته ونیوله پوره کړي. دا داسې بریښي، چې دژبې سوچه کونه اود ژبې معیاري کونه په ختېه کې د ژبې پوهنیزه کیدنه ده.

پام:

د ژبې معیاري کیدنه یا کونه باید په دې موخه نه وي، چې یوخیالي – بې له کوم ژبني او سم اندیزدلیل- څه ژبې ته درواچوو، چې ګوندې یوڅه خووشو.

لکه:

،، غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کې وویل،، یا ،، ....غبرګون وښوده،،. نه پوهېږم، چې ،، په غبرګون کې وویل،، کې به د لیکونکي موخه څه وي، خوماته څه نه وایي. دا به نور کسان ووایي، چې دا یا هغه یا دغه موخه لري. دا چې موخه یې که هرڅه وي، خودا یوه سمه وینا نه ده، چې څوک ترې څه پوه شي.

داچې ژبې سره غبرګې دي اود یوې ژبې اړول په بله ژبه اوس ـ زموږ له پاره – اړتیا ده، باید دا خپلې ژبې انډول په بله ژبه هم په همغه انډول واړولی شو، چې دا مو نو د دې ،، غبرګون،، سره وران کړ.

که د غبرګون په ځای ،، ګړنګون،، هم ولیکو همدا یوډول به ترې پوه شو. نو اوس باید و اندو، چې موخه به څه یې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایو: غني د ترمپ د خبرو په هکله یا مخامخ، او یا په پلوۍ څه وویل یا غني د ترمپ د خبرو په هکله خپل اندځرګند کړ.

## دا نوښنګه کیږي؟

دا داسې کیږي، چې د ښونځي څخه نیولې تر پوهنتون اوله دې وراخوا د هغې ټولنې اړتیاوې پوره کړي، دا په دې مانا، چې ته پوهنیزې څیړنې هم باید په خپله ژبه وکړی شي.

موږلا تراوسه دې ستر کار ته پوره هلې ځلې کول مخ ته لرو، خودا کار د حکومت دۍ او په ځانله یا یو څو کسانوسرته نه شي رسیدلی

زه دا لیکنه دلته رالنډوم اود نورخبرو له پاره نوراړینې لیکنې هم شته، چې باید خبرې سره په وکړو، هیله ده چې د تاند درنه پاڼه یا خپرونه به په دې لار کې مرسته وکړي، چې ددرناوي وړ.

لاس ته راوړنه: پښتو سوچه کونه، - معیاري کونه او – پوهنیزه کونه همغه پښتو پوهنیزه کونه ده.

ایا دا کار شونی دۍ؟

پښتو ژبه د نوروژبوپه څیر پوهنیزه کیدی شي، چې پای کې یواځې دوه بیلګې د شمیرپوهنې اوفزیک څخه راوړم.

له شمیرپوهنې یا نوره هم ښه له ځمککچپوهنې څخه:

کره، قوس، قطر، وتر، قطعه، قطاع، سطحه، محیط

پښتو یې ( خو وریوري خاندۍ مه، دا همداسې دي، که زموږزړه غواړي اوکه نه):

ګردۍ،لینده، نیمی، ټوټه ونې، ټوټه، برخه، هواره، چاپیریال.

له فزیک څخه:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

په اړیینوالي نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته انډول لرواوکه نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: (بریښنا) تړونی

په کوټوکې چې بریښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وايي، وهو یا کیکاږو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوورته

انډول لټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( بریښنا) وړوني) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،تړونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو له پاره انډول همدا ،،تړوني،، دئ.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دئ او که نه یا په داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دئ، دا تړونی دئ اونه بل څه.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

# ژبه قرارداد دئ او که څنګه؟

ځنې په پښتوکې ناسم ورځنې شوي ویونه چې له چا سره خبرو ته راواچوو اوناسمون ته یې ګوته ونیسو، چې دا نومونه موخه ور نه ده، نو سملاسې اورو، چې ژبه خو قرارداد دئ، دا په دې مانا، چې که موږ یو څه ناسم ووایو اودا خلک همداسې ناسم واخلي او ورځنې شي، نو هغه د قرارداد له مخې بیا منلي ګڼل کیږي، چې بیانو باید سم وي.

موږ خو لا تراوسه د ژبسمون له پاره کومه ژمنه ټولنه نه لرو، چې دا کار سرته ورسوي اوکه وي هم، زموږد ژبې د ځوانئ له مخې کیدی شي ځنې ناسم ویونه موژبې ته راننوتي وي.

تر هغه ځایه چې زما تجربه ده، موږتراوسه ژبې ته کوم داسې وی نه دې راننباسلی، چې هغه دې د هغه وي غوښتونی خوي ورکړي.

زما تجربه – په ډېره خواشینی باید ووایم – داسې ده، چې موږ په ژبه کې یوکره پیژند لرونکي یا پیژندل شوي وی د یوه بل کره پیژندلرونکي وي - چې پیژند یې هم کره روښانه وي - په ځای ناسم ځای په ځای کوو. دا نو قرار داد نه شي کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ دې موضوع ته داسې خپل پام رااړوو:

لومړی:

هغه ویونه چې له پیداښته نوروژبو کې شته نږدې ټول یې موږ هم په خپله ژبه کې لرو، چې موږ یې باید په خپله ژبه کې راپیدا کړی شو او دا کار د مسلک اوپه ژبه پوهیدنې له امله شونی دی.

بیا: دا کار مسلکي کسان، چې د مسلک برسیره په یوه بله دباندنی ژبه هم ښه پوه وي.

که څوک داسې نومونوباندې د پښتو په انډول - د مسلک او ژبې له مخې – نه پوهیږي اودا بیا غواړي په پښتو انډول ونوموي، نو ناسمون ورسره لهپیله مل دی.

موږیې دلته یوه بیلګه راوړو:

د مایع اوبلن بلل. ایا دا به نو هم بیا قرارداد وي او که څنګه؟

یادونه له دې د مخه چې په دې بیلګه روښنایي اچوم، د فزیک له مخې د تنونو نومونه لنډ اخلم، چې په درې ټولګیو وېشل شوي، بې له زیاتې شننې:

۱ – د کلک تنونوټولګی، چې زرې یې یود بل څخه پخپله نه بیلیږي.

۲ - د تښتیدونکو تنونو یا غازونو ټولګی، چې څنګه ازاد شي یوې اوبلې لورته ځغلي.

۳ – د بهیدونکو تنونو ټولګی، چې بهیږي.

زموږژبپوهان، چې د مایع په پښتو انډول - د مسلک له مخې هم – نه پوهیدل، دا یې اوبلن وبلل، چې پوره ناسم اود مسلک څخه لرې دی.

اوبلن څه پیژند لري؟

ګوروچې اوبلن ځان ته کره پیژند لري. دا د د دوه هایدروژن اویوه اکسیجن خوي دی، چې لا اوبه هم نه دي او په کلکو بدنونوکې ګډل کیږي.

اوبه واوره کیږي، چې کلک بدن یا تن دي، دا واوره بیا اوبلنه کیږي، چې نرمیږي،خولا تراوسه کلکه ده او اوبه شوې نه ده.

که د دې تودوخي نوره هم جګه شي، نو دا اوبلنه واوره بیا اوبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ته دي د ګرانو لوستونکو پوره پام وي، چې دا يواځې او يواځې د اوبو خوي دئ او د تنونو د کوم ټولګي خوي نه دئ، دا په دې مانا، چې شرومبې يا شيدې نه اوبلنيږي او نه کوم غاز يا تېښتيدونکی اوبلنيږي. دا په دې مانا، چې اوبلن غازنه شته.

نو لنډ: ټول هغه تنونه چې بهيږي بهيدونکي تنونه دي او نه اوبلن. دا بهيدنه يې ګډ خوي دئ.

دا نوقرارداد نه دئ، چې نوم د بل نوم ځايناستی کيږي او ان د يوه ټولګي تر نوم پورې.

د پيدابښتي نومونويا ويونويوه بله بيلګه: سلم ته سلن ويل هم ناسم دئ، دا د ځنو کسانو د يوه ناسمې مينې په بنسټ همداسې بې له پرې پوهيدنې او کوم دليله منځ ته راوړل شوي.

دا هم کوم قرارداد نه دئ او نه قرارداد کيدی شي.

دويم:

ځنې داسې نومونې لرو، چې د هغې له پاره له پيدابښته سم نوم، د نورو ژبوپه مرسته لرودی شو، خو دا چې زموږ د ژبې سمه وده له څه باندې شپيته کاله را په دې خوا ده، چې له دې امله ځنې ناسمونونه په کې راغلي، چې اوس ښه بريښي، خو د ناسمو نومه ونو په ډله کې بايد راشي.

بيلګه ۱ :

روغتون ته په ټولو ژبوکې د پښتو انډول ناروغتون يا رغنتون يا رغنځی ويل کيږي، چې له خوي او ژبې له مخې يې همدا سمه نومه ونه هم ده.

دا هم قرارداد نه دئ، خو دا چې موږ ډېر يا له سره داسې بللی، اوس يې بله نومه ونه راته پردئ برېښي.

بيلګه ۲ :

د کورنيوچارو وزارت، چې بايد د دننيو چارو وزارت بلل شوی وي، خوموږداسې بللی. د کورنيوچارو وزارت هم بايد ولرو، چې د کورنيو چارو سره سر اوکار لري.

يادونه: په دې ناسمونو کې دليل نه شي ويل کيدی، چې دا روحياتو له امله ښه يا بد برېښي، په ژبه کې هر څه شته، چې ځنې به په ځنو کسانوښه او په ځنو بد اغيز لري.

دا هم د قرارداد سره سر اوکار نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم:

هغه نومونه چې د انساني ټولنې د ودې سره د پرتلې له امله منځه ته راغلي:

زه يې دلته يادونه کوم. زما په بله د مخه تيرې ليکنه کې شته اوبواځې نومونه يې اخلم، کره پيژند لري او پر ځاى يې د يوه بل کره پيژند وى تاسم کارول کيږي.

بيلکه:

ستاندارد، سطحي، سويې، ... ته کچه ويل پوره ناسم دي.

زموږ په ژبه کې خودا ټول ناسم بلل شوي ويونه د يوه کس د شپې د چرت څخه راوتلي او سهار بيا دا نورو کسانورااخستلي او ټوليز شوي.

د ژبو د اسانتياو له پاره د نورو ژبو پوهان هم د ليک بڼه بدلون اونورونوښتونو له باره کار کوي.

دا څو کاله دمخه د المان دولت له خوا پنځه ميليارده يورو وټاکل شو، ځنې بدلونونه په ژبه کې راغلل، چې د نوې بڼې ليکنو له پاره پنځه کاله وخت ورکړشوى وو، چې په ښوونځيو او نورو دفترونو کې دا نوې بڼه ورځنۍ شي. په دې کې ورسره سوېس اتريش او ليښتنشتاين هم ګډ وو.

ز ه يې يوه بيلګه راوړم:

پخوا دوي فيل Elephant ليکه او اوس يې Elefant ليکي.

که ګران لوستونکي مرسته کوي او د قرارداد په توګه سم نومونه غوره شوي وي، هيله ده، چې ويې ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

## ایا موږ پیداښتي پوهنې پښتوکولی شو؟

موږ لا تراوسه چې په پیداښتي پوهنوکي پوهنیز څه لولو،هغه عربي دي. پوښتنه دا ده، چې ایا موږدا پوهنې په پښتو لیکلی شو، دا په دې مانا، چې ایا موږ د دې پوهنو پوهنیزو ویونو ته هم پښتو انډول لرو او دا پیدا کولی شو. دا نومونه پیدا کوو نه، خو پوښتنه دا ده، چې ددې له پاره نومونه په پښتو شته اوکه څنګه؟

دا پوښتنه به په هوځواب کړو، ځکه چې هره ژبه د پوهنیزه کیدوتوان لري، خولومړی باید ځان په هغه پوهنه پوه کړو او بیا په هغه وي، چې د باندنۍ ژبه کې شته اوپښتو انډول یې پیدا کوو.

په همدې ځای کې دې اجازه وي، ووایم، چې ما په شمیرپوهنه کې نږدې څلوېښت کتابونه په پښتو کړي، دا په دې مانا چې هغه مسلکي نومونه مې په انډول پښتو کړي، بې له ستونځو او همداسې مې په فزیک کې درې کتابونه ژباړلي، چې یوله هغود ښوونځي د کتابونوسرلیکونه دي، هغه فزیکي ویونه مې نه د ډکشنري په بنه، خو په پښتومې د الماني ویونو ته انډول پیدا کړی یا میندلی

دا په پښتو یا د پښتو نومونوسره مو پوهنه هم ساده کیږي، چې دلته د یوڅو بیلګو سره ستاسو لنډ پام را اړوم. دا په ورزیاته کړم، چې ما هیڅ وخت نوم له ځانه نه دئ پیداکړی او انډول مې لټولی او پیدا کړی دی.

په دې هکله اوږدې خبرې نه کوم، لنډ یوڅوبیلګې له تاسوسره ګډوم.

## مشبوع به نوڅه وبولو؟

مشبوع داسې پیژند لري:

-- هغه محلول چې نور همغه څه په ځان کې نه شي حل کولی، مشبوع بلل کیږي.

موږ وایو: یو څوک چې ډېرخوراک وکړي هم ورته وایي، چې مشبوع شوی اومیږي، چې ډېر واښه وخوري. نو وایو چې میره ټنده شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څوک چې نوره مړی نه شي خوړلی، خوموړوي او همداسې نور ژوي مړيږي.

کوچنيانو ته هم چې موردېر خواړه ورکړي، راګرځوي يې.

ځنې خواړه دي، چې سړی يا څوک بنه په مړيږي، نو وايو، چې دا خواړه مړوونکي دي. ګومان مې دی، چې د کلي خلک وايي مړوخه دي، نه پوهيږم سم به وي او که څنګه، ځکه چې مړوخه ګومان مې دی هغې بنځې ته هم وايي، چې ميړه لري.

په همدې توګه مو محلول يا حل ،،اوبی،، بللی، نومشبوع ته به څه ووايو؟

لکه چې ژوي مړيږي، خو همداسې يو اوبی هم مړيږي.

موړ نو پورته پيژند اوس په پښتو دا سې ليکو:

هغه اوبی چې نورڅه ځان کې نه شي اوبی کولی ( دا ګوره اوبه کولی نه بولو) موړ وي.

مشبوع = موړ

بيا وايم، چې دا بل ډول نه شي بلل کيدی، دا په دې مانا، چې نومونه به نه جوړوو، هغه خپل نومونه به رابرسيره کوو يا له کټلاندې څخه راباسو.

## له شميرپوهنې څخه يوه بيلګه:

ما خو نږدې ټوله شميرپوهنه په پښتو ليکلې، خو بيا به هم يوه بيلګه له تاسو سره ګډه کړم:

دايره، چې د دايرې د منحني يوه لږه برخه قوس بولو او وتر او قطر لرو او داسې نور.

په پښتو يې:

ګردۍ ( موږيې په هسکه مينه کې ګردۍ بولو)، هغه وړه د ګردۍ د کږې برخې ته ،، لينده،، وايو.

دايره = ګردۍ

قوس = لينده

وتر : هغه کربنه ده، چې له ګردۍ يوه ټوټه بيلوي، نو دا له دې امله ټوټه وونی ( ټوټوونی) بولو( بولويې نه،دا ټوټوونی دي).

وتر = ټوټوونی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټه یا چې قطعه ورته وایو: د ګردۍ هغه هواره ده، چې د لینديې او ټوټوونې منځ کې پرته ده.

قطعه = (ګردۍ) ټوټه

نیمۍ: هغه کرښه چې ګردۍ نیمۍ نو دا به نیمۍ نه وي؟

قطر = نیمۍ ( اړیین نه ده چې کرښه ورسره یاده کړو، پوهیږو چې دا کرښه ده).

ګردۍ برخه یا قطاع ( دا د قطاع نوم هم ډارونکی دۍ): دا د ګردۍ برخه ده، چې د دوه وړانګو او ګردۍ لينديې منځ کې پرته ده.

قطاع = (ګردۍ) برخه

وړانګه =شعاع

## له فزیک څخه

سیم یا څه، چې برېښنا وړي، نو هغه هرومرو ،، (برېښنا) وړونې دي او له دې امله يې برېښنا وړوني یا لنډ وړونې بولو

دا د ښوونځي د فزیک نږدې ستره برخه مې پښتو ته را اړولې. په دې هکله مې لیکنې په کتابتون. کوم کې کتلی شۍ.

دا د ګرانو لوستونکو له پاره یو څه وړاندې کیږي، چې کتل او اندونه سره یو کول نه، سره نږدې کول يې زما هیله ده او نه بل څه.

نومونه یا ویونه باید پیدا نه شي. هر څه چې په پیداښتې توګه په بله ژبه کې شته، په پښتوکې هم شته.

دوه پوښتنې دي:

لومړۍ: یو څه ته په پښتو نوم ایښول ( دا به د خبرو وي)

دويم: د یوه څه په مانا ځان پوهول ( دا باید وي)

نو که د دې ویونو مانا ولیکویعنې مخکتاب، نړیوال جال، ملفون، شمیرونی، دا به اړیین وي. دا چې څنګه يې وبولو، دا باید په پام کې نیولشوي وي، چې تخریب په کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګې:

۱ - موږ په کورونو اوکوټوکې یوجوړښت لرو، چې برېښنا پرې روښانه کوو اومړه کوو. دا جوړښت د یوه واړه اړمګوټي یا یوې تختې او یا د یوه څرخ په څېر وي. دې ته انګرېزي سویچ، الماني شالتر وایي. ددې دنده داده، چې برېښنا وړوني یا سیمونه سره یوځای کوي اوبیلوي. د یوځای کیدوسره برېښنا په برېښنا وړونو یا سیمونوکې بهیږي اوڅراغ روښانه کیږي اود بیلیدوسره برېښناګروپ مړکیږي. دا نو (برېښنا) تړونی بولو اودا نوم همداسې دی.

۲ – پورته موبرېښنا وړوني نوم ولیدل، دا هکپک کیدونکی نوم نه دی، دا برېښنا له یوه ځایه بل ځای ته وړي، نووړوني دي.

ګورو،چې زموږ ژبه د پوهنیزه کیدو توان لري او هره ریښه په پښتو کیدی شي او هغه داسې، چې هرڅوک پرې ښه وپوهیږي.

زما اخرني وړاندیزدادی، چې نومونه به له ځانه نه جوړوو اویو کره پیژندل شوی وی به د بل کره پیژند لرنکي وي په ځای نه ځای په ځای کوو.

قرارداد زما، یما، دما دا درې نومځاینیوي د همغه یوه نومځاینیوي له پاره ویل کیږي، پوښتنه داده، چې ایا دلته یو قرارداد اړیین دی؟ نه. ځکه چې دلته هم د ژبلار له لارې هغه سم ترې راوباسو. دا به نو څنګه وي؟

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

## پرتلنه او پرتله کونه او د عکس العمل پښتو

د ځنو لیکوالانو لیکلو کې مې پرتلنه ولوستله او دا مې م ک کې خورهکړه، چې پرتلنه او که پرتله کونه. ځنو ملګرو او همداسې په یوه ناسته کې دژبمینوالو او ژبپوهان سره په خبرو کې دا ویونه رامنځ ته شو، چې دا پرتلنه او که پرتله کونه یا پرتله ونه سم دی او همدا ډول دا هم رامنځ ته شوه، چې عکس العمل ته به په پښتو

څه وایي، یعنې د پښتو انډول یې؟

زیات وخت، چې د پښتو ویونو باندې خبرې راځي، نو زما د پېژندګلوی له ډلې د ځنو په ژبه کې ورځني مګر د پردیو ویونو د پرېپوهېدنې پوښتنه کوي، چې یوه ورځ یوه درانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند هم راځخه وپوښتل، چې نو د ستونځو حل ته به څه ووایو، چې زما ځواب ورته سملاسي د ملګوبي څخه خولې ته راغی او ستونځوبی مې ورته وویل، چې اوس یې همداسې لیکم هم. اوس راځو خپلې موخې ته:

د شنني په بنسټ زما پربکړه دلته له دې امله نه ده، چې ګوندې دا د عکس العمل پښتو انډول دې ورځنی شي یا وکارول شي، خو موخه دا ده، چې وپوهېږو، د دې انډول په پښتو کې شته او که وي، نو هغه به څه وي وي؟

دا دوه څېړنیزې موضوعات به داسې پیل کړو:

لومړی: پرتلنه که پرتله کونه؟

الف: پرتلنه: د تلل نوم تلنه ده. شیات تلل کیږي، خو انډول یې، چې برابر دي او په څه کې برابر دي او که برابر نه دي. دا تلل شوي شیان سره پرتله کېدی هم شي، چې ګډ خویونه ولري. دې ته به کېدی شي د پسې موضوع څخه بیا ښه روښانه شي.

ب : پرتله کونه: دا وی یواځې د دې له پاره نه کارول کیږي، چې د شیانو دروندوالی سره پرتله کوي، چې کوم دروند دی او څنګه سره پرتله کیږي یعنې پرتله سره ایښول کیږي.

پرتله کونه په دې پرېیوهېدنه ده، چې دوه یا ډیر شیان په هغه کډ خوي کې سره برابر دي او که څنګه. د دې روښانولو له پاره د هر یوه خوي هغه انډول کچوونی یا کچ اله په کار ده، چې دا هغې کچونې وروسته بیا کتل کیږي، چې سره برابر دي او که څنګه.

یو: که چېرې وغواړ وپوهېږو، چې دوه یا ډېر کسان په جګوالي کې سره برابر دي او که نه، نو څنګ په څنګ یې سره دروو او بیا یې په برابروالي پرېکړه کولی شو. که د یوځای درولو شونتیا نه وي، نو بیاهر یو د اوږدوالي کچ اله باندې، چې یووال یا یوون یې متر دي په کچه کوو او دا روښانونه یې بیاګورو.

دوه: که چېرې وغواړو وپوهېږو، چې ایا د ګلاب ګل،کستېرې او که د خوږ چ بوي سره همغه دی، که توپیر لري، نو بویوو یې او بیا پرېکړه پرې کوو.

درې: که وغواړو، چې یوه منه او یو ناک سره پرتله کړو، په خوند، دروندوال او همداسې په پلنوالي کې، نو دا د پېلابېلو لارو له لارې کیږي، چې بیا یې په هر یوه موږ پرېکړه یا قضاوت کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای یې: ګورو چې پرتله کونه د تللو سره یواځې سراوکار نه لري. ځنې دپرتله کونې شیان د پرتلې له پاره تلل کیږي او دا نور یې بیا د بېلابېلو لارو له لارې کچول کیږي، چې د ټولو دا پورتنی نوم بیا پرتله کونه ده. له دې څخه دا پوهېږو، چې پرتله کونه سیده د تللو سره نهشو شو برابرولی.

نو له له دې امله پرتلنه د پرتله کونې له پاره ناسم بلل دي.

بل غوره بېلووالی یې په دې دی، چې تله نوم دی، چې له دې امله یې د مخه اړیکوی ،، پر،، راتللی شي یا ښه یې په تله کې یا پر تله باندې اچول کیږي او تلل کیږي، نو لهدې امله تلل یو کړنوی دی، چې د مخه یې د ،، پر،، لیکل نه شته، دا په دې ترې پوهېدنه چې دا ،،پرتلل،، نه شته، نو همداسې پرتلنه هم نه شته.

یادونه: زموږ ځنو د ادب خاوندانو ته دا ،، کونه،، لږ ښه نه برېښي، خو په ژبه کې ښه او نا ښه، ښکلې او ... ټول شته، دا دچا د اند او خوند سره سر او کار نه لري، دا ژبه، ده، چې څنګه ده.

یوه یادونه: زموږ ژبپوهان او د ژبې مینوال باید - که چېرې دپښتو ډکشنري منځ ته راتله- د پښتو شننیزه ویکتاب یا ډکشنري کې هم هر یو وی داسې روښانه کړي. او همداسې دا لاندې.

بیا لنډ: تلل کړنه ده او د کړنې د مخه اړیکوی، دلته ،، پر،، ځای نه لري او همداسې پرتلنه هم سمه نه ده. خو تله یوه اله ده، چې د مخه یې ،،پر،، ځای نیولی شي یا راتلی شي او همداسې پرتله کول او لهدې امله پرتله کونه سم دي.

اوس راځو زموږ دې بلې د خبرو موضوع ته:

دویم:

# عکس العمل

پوښتنه: عکس العمل ته به په پښتو څه ووایو، یا به یې څه وبولو؟

د عمل او عکس العمل الماني، انګریزي او لاتین یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Aktion ;Reaktion; actio, reaction; actio; reactio

موږ به دا لومړی: د یوه ویکتاب څخه له الماني په عربي او پښتو وژباړو، چې وپوهیږو، دوی یو ویکتاب څنګه لیکي، چې موږ هم باید بیا د یوه شننیزي ډکشنري له پاره ترې زده کړه وکو. دویم به بیا موږ دا د فزیک او نور پوهنو په بنسټ هم داسې لړ روښانه کړو.

لومړی د Reaktion عربي ترې پوهېدنه چې عکس العمل دی او په څنګ کې دا لاندې هم.

استجابه ، رد فعل، ردود

کیمیاوي کارونو کې تفاعل

سیاسی رجعه

په عربي خو نه پوهېږم، خو دا د الماني غنډالي، چې پهعربي ژباړل شوي، زه یې الماني څخه پښتوو ژباړم، چې داسې لړ هکپککونکي به وبریښي، ځکه چې ورسره بلد نه یو.

.Reaktion Das ist eine unglaublich primitive emotionale

إنّه ردُّ فعلٍ بنسبةٍ واحدٍ من مليون

دا له باور لرې ساده احساساتي عکس العمل (په ښتکړنه ( کړنغندنه)) ده

---

.richtig Reaktion Vielleicht war die erste

ربّما رد الفعل الأوّل كان حقيقيّاً كناً فقط شخصين على مقربة

کېدی شي لومړی په رد عمل (په ښتکړنه) سمه وي

د الماني عربي څخه مو یو څه پښتو کړل، چې په پام کې یې ولرو. نور هم په دې هکله د لیکلو پوره څه شته، خو هغه دې ګرانو د ژبې مینه والو پاتې وي. اوس راځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ته: د عکس العمل فزیکي پېژبند:

که یوه غونډوسکه په دیوال ولو، نو هغه دیوال دا غونډوسکه په څټ رالیږي یا په څټ راولي.

دا په دیوال وېشتل عمل دي، چې پښتو انډول یې کړنه ده او دا په څټ وېشتل یې عکس المل دي، چې پښتو انډول یې په څټ کړنه ده.

له دې څخه نو د عکس العمل پښتو انډول په څټکړنه شوه.

بله بېلګه یې ارواپوهنیزه ده: که څوک په څېړه ووهې، هغه یا تا بېرته په څپېړه وهي او یا که دا کار نه شي کولی، نو مخ به یې د وینو په څېر سور شي. دالته دا وهنه عمل او له دې امله کړنه شوه او دا په څټ وهنه او یا د مخ سره کېدل یې په څټ کړنه ده.

موږ دلته په همدې بسیا کوو. له دې څخه دې موخه دا نه وي، چې ګوندې همدا بلد دې نه وي، خو دا کار مو باید کړی وي، وپوهېږو، چې له عکس الملا څخه په پښتو څه پوهېږو.

ځنې ملګري او یا په م ک کې هم ډېر کم د م ک ملګري دا لیکي، چې لیکنې مې ستونځمنې دي او ځنې راته وایي، چې لیکنې مې د الماني اغیز لاندې دي، چې ترې پوهېدنه ستونځمنه کوي. زه پوهېږم، چې زما لیکنو کې به ستونځې ځکه وي، چې د باندني ویونه کم لري او داسې څه په کې هم راځي، چې موږ ورسره بلد نه یو. زما په دې لیکنه کې هم څو ځایه داسې ویونه راغلي، چې ما ورته پهبلد ډول باید معنا یا معنی لیکلې وي، خو له دې معنا څخه په څنګ تېرشوی یم، چې ښایي شتاسو به ورته پام رااوښتی وي.

له بلې خوا د ځنو لوستونکو له لورې پوره ستایل شوي.پرېپوزېشنونه

( ګومان مې دی، چې موږمختړي... نومولي،خو په ختګه کې مخ ته دي، چې د مهال، ځای او یو څه مخ ته یا ځنې شا ته(؟) راځي.

ایا د اړیکوی له پاره د نوروژبو څخه ګټه اخستل کیدی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرومرو. ګورو، چې په هره ژبه کې د بلې ژبې انډول پ شته کیدی شي، چې په یوه ژبه کې زیات وي، خوبیا د هغوزیاتو څو له پاره په بله ژبه کې یوپ شتون ولري، لکه د الماني aus;ab ; von،... له پاره په پښتو کې یو پ شتون لرې اوهغه ،،له،، دی، خو دا ګومه ستونځه نه ده.

# اړیکویونه Prepositions

پیلیادونه: له دې ځایه زموږ لهپاره یاد پښتو ژبط لهپاره هغه غورهبرخه لهدې امله پیلیږي، چې ما تراوسه داسې د دې اړیکویو یاوختاړو، ورستاړو او ... داسې ښې لیکنې د خپرونو له لارې هم ونه لیدې.

د ځای، مهال، نومونو او شیانو منځ کې د اړیکو څرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړیکویونه.

یادونه: باوروکړئ، چې دا ټول کارما د ،، تر ،، په خپلوپولوکې د رابندولو له امله وکه، چې یواځې او یواځې د مهال،ځای او ...پاي په ګوته کولوله پاره راځې اونوریې هر ځای کې راوړل ناسم دي اود ژبې د ټولولاروسره مخامخ.

## مختړي(؟) نسبتي ویونه یا (و) ته ویونه

## د پرېپوزیشن لاندې چې څه د پوهیدلودي

### مخ ځاینیوي اوپسې ځاینیوي، خو ښه یې اړیکویونه

یاودنه: پرېپوزېشن ـ لکه د نوم څخه یې چې روښانه ده- مخځاینیوي ته وایي،چې په زیاتوهندو و اروپایي ژبوکې همداسې ده،خوپه پښتوکې دا د مځځاینیوي سره غبرګ یې ډېر پیسیځاینیوي دي.زه دا له دېامله مخځانیوي اوپسې ځاینیوي بولم یا مختاړي اووروستاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ويونه، چې نور ويونه يو د بل سره اړيکوکې راولي اويو ټاکلی( ځايز، وختيز اوداسې نور، بې له بدلون) نسبت ورکوي، نسبتوي د بيلګې په توګه په، باندې، ورسره، له پاره،، له امله، ته.

پرېپوزيځيون( له لاتين څخه، چې ما له الماني رانيولې، مخ ته ځای نيوی يا همغه مختړی او يا نسبتي وی او يا و.. ته) د ښوونځي ګرامر کې اړيک وی يا مخ ته او پسې وی هم بلل کيږي اوګرامري ادبياتو کې ځای ويونه يا حالت زياتووني برخې بلل کيږي د ويونو ډولونه دي، چې يو بند – يا تړلی ټولګی جوړوي چې منځ پانګ ويونو او ګرامري ويونو په نخښونو ته ورننوتې.

دا لاندې يو پوره ليکنه چې ګرانولوستونکوته وړاندې کوم، زماډېره ښه راغله.

يادونه: وتونزبه الماني او موخه ژبې انګرېزي او پښتو دي

يادونه ۲ : پ په ځنو ژبوکې زيات او په نوروکې بيا د څو پ له پاره يو پ په موخه ژبه کې شته وي، خوانډول سره لري، يعنې په ژباړه يا د بلې ژبې څخه په ګټه اخستنه کې ستونځې نه پيښيږي.

که څوک دا له انګليسي پښتو کړي کيدی شي څه بدلون په کې راشي، خو موخه همهغه ده.

د يوه پښتون او نه ژبپوه له پاره او هم د ژبپوه له پاره فکر کوم دا يوډېر اړخيزه اوپيچلې د خبرو موصوع ده، خو زه به وهڅيږم، چې هغه اړيين څه له تاسوشره شريک کړم يا هغه څه چې ماته اړيين برېښي اود توانه مې پوره دي.

دا وس يې چې له تاسوسره شريکوم، د الماني سره د انګرېزي پ پرتله شوي يا د الماني پ په انګرېزي اړول شوې، چې زه يې په پښتو اړوم، چې ناسمونونه به په کې وي، خوهغه به ستاسوپه مرسته سم کړو.

زه ـ په خواشينۍ بايد ووايم- تراوسه نه پوهيدم، چې دا د پ لمن به دومره غزېدلې وي، زما پرابلم يواځې دا ،، تر،، وو، چې ټولواک شوی، خو دا ليکنه راته ښه وبرېښيده اودا دئ ستاسومخ ته يې ږدم.

اړيکويونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځای، مهال، نومونو او شیانو منځ کې د اړیکو څرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړیکویونه.
پرېپوزېشن د غوښتني حالت سره سم یا د مانا پرېپوهېدني سره سم ټولګیزاو ډلیزکیږي

## دِغوښتون حالت ټولګیزول

پرېپوزیشن د نومیناتیوسره prepositions with the nominative:

...als (= than)و. ته

یادونه:دا پورته ..و...ته ما د دوه شیانود پرتلې له پاره لیکلی لکه ب و پ ته یا ب نسبت و پ ته.دلته ما دا اړین ونه ګڼل چې نسبت دې ورسره ولیکم او زه په دې اند یم، چې دا ب و پ ته بسیا کوي او د عربي نسبت پوره کوي.

یادونه: زه چې پرېپوزېشن لیکم،نودپښتوموخه به ترې اړیکویونه وي.

پرېپوزیشنونه د داتیوسره prepositions with the dative

ab (= from له) , außer (= other پرته له than) , aus (= out ( وتلی) , ( )
bei (= by ورسره opposite) , gegenüber (= ( مخامخ) , mit (= ( ,
with( د ) ... سره nach (= after , (پسې since) , seit (= له ( د وخت پیل , ())
von (= from له ... ( څخه) zu (= to , ( ( و) ته(

پرېپوزیشن د اکوزاتیوسره prepositions with the accusative

bis (= تر until) , durch (= ترڅ through) , für (= له پاره for) ,

um (= شاوخوا around) , gegen (= مخامخ against) ,

ohne (= without بې) , entlang (= ( اوږدوالي along)

یادونه: دلته ،، تر،، ګوره ټولواک نه دی اوهمدا یو ځای لري او بس.

prepositions with dative or accusative

an (= on په) , auf (= on (پر)) , in (= in باندې) ( (په) کې , (

über (= over د پاسه) , unter (= under (لاندې , (

vor (= in front of مخ ته) , hinter (= behind ( وروسته , (

(c) ketabton.com: The Digital Library

)(کې ( ځنګ) , neben (= next to(کې) منځzwischen (= between

prepositions with the genitive

ترڅ ( , während (= while/duringامله ( له )wegen (= due to
( , په ځای ( , statt (= instead پسې ( , infolge (= as a result (کې)

)(له دې ( سرهtrotz (= despite

## Classification by meaning

د مانا سره ټولګیزول

د ځای پرېپوزېشنPrepositions of place

دالاندې هم تکرار اري، خو باور کړی، پهغورځولو مې زړه نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

prepositions with dative or accusative

پرېپوزيشن له داتيو او اکوزاتيو سره

an

on

په ( باندې)

am (an + dem) Hauptplatz

on the main square

په ميدان  (باندې)

in

in

(په).. کې

in der Straßenbahn

on the tram

(په) کوڅه ګاډي کې

auf

on

(پر) باندې

auf dem Spielplatz

in the playground

پرلوبځای باندي او انګرېزي يې په لوبځای کې

يادونه: پورته به د الماني انډول ،،پر،، او د انګرېزي به ،، په،، وي، خو په لاندې کې بيا دواړه ،، پر،، دي.

auf dem Schloßberg

on the castle hill

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پر) غره- ماڼۍ باندې

über

over

د پاسه

über der Stadt

over the city

-(د)..ښار د پاسه

unter

under

کښته( لاندې)

unter dem Schloßberg

below the castle hill

د ماڼۍ کښته (لاندې)

vor

in front o

مخ ته

vor dem Brunnen

in front of the fountain

د چینې مخ ته

( کیدی شي ځنې یې ولیکي: ،،تر د مخه،چې ناسم دئ)

hinter

behind

شا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

hinter dem Café

behind the cafe

د کافي شا ته

zwischen

between

منځ (کې)

zwischen dem Brunnen und dem Rathaus

between the fountain and the town hall

د چینې او ښاروالۍ منځ کې

زموږ ځنې ادیبان ،، ترمنځ،، لیکي، چې ناسم دئ ( ،، تر،، وګورئ)

neben

next to

څنګ ته ( په ) څنګ کې یا - ته

neben der Oper

next to the opera

د اوپرا څنګ ته ( ،، تر څنګ ناسم دئ)

In answer to the question "where?" (where is something located? where is something moving?), the noun after the preposition is in the dative.

پوښتنې ته په ځواب کې،، چیرته؟،، ( ( یو) شی چیرته ایښودل شوی؟ یو شی چیرته خوزښت کې دئ؟ )

Verbs which denote position:

کړنویونه چې ځای اړوندوالی په نخښنه کوي

- liegen (= to lieپرېوتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- stehen (= to standدرېدل)
- sitzen (= to sitکښيناستل)
- hängen (= to hangځوړندېدل يا ځوړندول)
- stecken (= to stick)چوخول

| | | |
|---|---|---|
| Wo liegt die Zeitung? – Auf dem Tisch | = Where is the newspaper? – On the table. | خبرونی( اخبار) چیرته پروت دی؟ پر میز یا پر مېز باندې. |
| Wo steht der Koffer? – Hinter dem Schrank | = Where is the suitcase? – Behind the cupboard. | سفر بکس چیرته دی؟ د الماری شا ته |
| Wo sitzt deine Freundin? – Vor der Dame da | = Where is your girlfriend sitting? – In front of ithe lady there | ستا ملګرې چيرته ناسته ده؟ - د هغي ميرمن مخ ته. |
| Wo geht ihr am liebsten spazieren? – Im (in + dem) Wald. | = Where do you like to go walking? – In the woods | تاسي چيرته په مينه چکر ته ځی؟ ځنګله کي(چکر ته ځو) |
| Das Geschirr steht auf dem Tisch. | = The cuttlery is on the table | لوښي پر ميز باندې پراته دي. |
| Die Messer liegen hinter dem Herd | = The knives are behind the hob | چاړه د داش شاته پرته ده. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Die Schuhe liegen unter dem Bett. | = The shoes are under the bed | بوټان د کټ لاندې پراته دي. |
| Die Weinflaschen stehen neben dem Abfalleimer. | = The wine bottles are next to the bin | د واین بوتلونه دغور- ځوني یا ناولني ځنګ کې ( ته) پراته دي. |
| Blumen stehen vor dem Fenster. | = Flowers are in front of the window | ګلان د کړکۍ مخ ته دي. |
| Zwischen Büchern liegen Socken | = Socks are lying between books | سوګلې د کتابونومنځ کې پرتې دي. |
| Über dem Spiegel kleben Kaugummis. | = Chewing gum is stuck above the mirror | د هندارې د پاسه ژاولې سلیبښ دي. |
| An der Wand hängt der Spiegel. | = The mirror is hanging on the wall | په دېوال -- - یا دېوال باندې هنداره ځوړنده ده |

In answer to the question "where (to)?" , the noun after the preposition is in the accusative.

Verbs which indicate a "change of place":

- legen (sich) (= to lay ایښول)
- stellen (sich) (= to place ځای په ځای کول)
- setzen (sich) (= to sit کښیناستل)
- hängen (= to hang ځوړندول)
- stecken (= to stick ننباسل،چوخول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Wohin legst du die Zeitung? – Auf den Tisch . | = Where are you laying the newspaper? - On the table. | ته ورځپاڼه چیرته ږدې؟ - میز باندې |
| Wohin stellst du den Koffer? – Hinter den Schrank | = Where are you placing the suitcase? - Behind the cupboard. | بکس چیرته ږدې؟ - د الماری شاته( تر شا ناسم دی). . |
| Wohin setzt sich deine Freundin? – Vor die Dame da | = Where is your girlfriend sitting? - In front of the lady there. | ستا ملګرې چیرته ناسته ده؟ - دلته د دې میرمن مخ ته. |
| Wohin geht ihr heute spazieren? – In den Wald | = Where are you going walking today? - Into the forest. | تاسو نن چیرته چکر یا ګرځېدا ته ځی؟ - ځنګله ته |
| Das Bett kommt in die Ecke | = The bed goes in the corner. | کټ ګوړ کې راځي. |
| Der Kasten kommt neben das Bett. | = The box goes next to the bed | الماری د کټ څنګ ته راځي |
| Den Schreibtisch stellen wir vor das Fenster | = We will place the desk in front of the window. | لیکنمیز د کړکی مخ ته ږدو |
| | = We will place this lamp on the desk. | دا څراغ په میز باندې ږدو. |
| | | غواړې چې غالی د لیکنمیز لاندې خوره کړې؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Diese Lampe stellen wir auf den Schreibtisch.<br><br>Möchtest du den Teppich unter den Schreibtisch legen?<br><br>Den Spiegel hängen wir an die Wand<br><br>Über den Spiegel hängen wir die Uhr<br><br>Biegen Sie in die Herrengasse ab. | = Would you like to lay the carpet under the desk?<br><br>= We hang the mirror on the wall.<br><br>= We hang the clock above the mirror<br><br>= Turn into Herrengasse. | هنداره په دیوال زوړندوو.<br><br>د هنداري د پاسه ساعت زوړندوو،<br><br>د هرن(هیرېن) کوڅه کې وګرځه. |

prepositions with the dative

aus

out

له...(څخه)

.Nimm die Kleidung aus dem Schrank

.Take the clothes out of the wardrobe

کالي له الماری څخه را وباسه.

bei

by

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د)... سره

.Sie bleibt schon seit einer Stunde bei dem Arzt

.She has already been with the doctor for an hour

هغه(ښځينه) له يو ساعت را په دې خوا( د) ډاکتر سره ده.

Zuerst haben wir uns bei der Ausländerbehörde im .Stadthaus erkundigt

First we informed ourselves at the foreign office in the .town hall

لومړی موږ په ښاروالۍ کې د دباندنيو دفتر سره معلومات د لاسه کړ .

nach

after

پسې ( دلته يي مانا ،، ته ،، ده)

.Wir fahren morgen nach Linz, nach Österreich

.We will drive to Linz tomorrow, to Austria

موږ سبا ته لينځ، اتريش ته خوزو( موټرکې).

.Ich fliege nach Russland

.I am flying to Russia

زه روسيې ته الوزم.

von

from

له....( څخه)

.Sie wohnen nicht weit von uns

.They do not live far from us

دوي له موږ څخه لرې نه اوسيږی.

!Nimm deine Füße vom (von + dem) Tisch

!Take your feet off the table

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښې دې له ميز څخه لرې کړه.

.Er kommt gerade von seiner Freundin

.He is coming directly from his girlfriend

هغه همدا اوس د هغه له ملګرې څخه راغی.

Sie ist vor kurzem von der Türkei nach Deutschland .gezogen

.She recently moved from Turkey to Germany

هغه لږ مخ ته له ترکيې څخه جرمني ته کډه شوې ( راغلې).

.Dann musst du zum (zu + dem) Schloss gehen

.Then you must go to the palace

ته نوبايد مانۍ ته لاړ شې.

.Ich muss zum (zu + dem) Arzt

.I must go to the doctor

زه بايد ډاکتر ته لاړ شم.

.Man hat uns zum (zu + dem) Arbeitsamt geschickt

.One sent us to the employment office

يو چا موږ د کار دفتر ته واستولو.

(before or after anoun, always before a pronoun)

.Ich wohne gegenüber dem Park

.I live opposite the park

زه پارک ته مخامخ اوسيږم.

.Ich wohne dem Park gegenüber

.I live opposite the park

زه د پارک مخامخ اوسيږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.Er sitzt mir gegenüber

.He sits opposite me

هغه ماته مخامخ ناست دی.

Am besten tankst du bei der Tankstelle dem .Freizeitzentrum gegenüber

It would be best for you to fuel up at the petrol station .opposite the leisure center

ښه به وي که ته د ازاد وخت پارک مخامخ ټانکځای کې ټانک کړې.

in phrases of direction involving names of countries which include the definite article, the preposition 'in' is used with .the accusative

.Ich fliege in die Türkei

Ich fliege in die USA

Ich fliege in die Schweiz

زه ترکيې، متحده ايالات، سوېس ته الوزم

prepositions with the accusative

durch

through

منځ کې ( د يوه تونل يا ورته څه)

.Wir fahren durch den Tunnel

.We are driving through the tunnel

موږ د تونل منځ کې ځو( موټر بيايو).

.Wir fahren durch die Stadt

(c) ketabton.com: The Digital Library

.We are driving through the town

موږ په ښار کې ( د ښار منځ کې) ځو(موټر بیایو).

.Dann fährst du durch die Unterführung

.Then you drive through the underpass

بیا د ځمکلاندې لار کې ځې ( موټر بیایې).

über

over

د پاسه،په باندې، ..

.Wir gehen über die Straße

.We go across the street

موږ په کوڅه (باندې) پورې وځو یا موږ د کوڅې د پاسه ځو.

.Du fährst über die Brücke

.You drive over the bridge

ته په پله ځې یا ته په پله پورېوځې.

entlang

along

اوږدوالی

.Entlang den Fluss gibt es schöne Wege

.There are beautiful paths along the river

د سین په اوږدوالي ښکلي لارې شته

.Du fährst den Heidensee entlang

.You drive alongside the Heidensee

ته د هایدن ډنډ په اوږدوالي ځې

:Preposition + noun + preposition / adverb

(c) ketabton.com: The Digital Library

an + Dativ + entlang

اوږدوالي +داتيو+ په

.Ich gehe oft am (an + dem) Fluss entlang spazieren

.I often go walking alongside the river

زه زيات د سين په اوږدو چکر(ګرځيدا) ته ځم.

.Du fährst am (an + dem) Heidensee entlang

.You drive alongside the Heidensee

ته د هايدن اوبو يا ډنډ په اوږدوالي ( ښه يي : اوږدو) ځې.

An + Dativ + vorbei

له ...تيرېدل + داتيو + په

.Ich komme oft an dem Museum vorbei

.I often pass the museum

زه زيات د موزيم له مخه تيريږم.

.Du fährst am (an + dem) Hafen vorbei

.You drive past the harbour

ته د بندر( د اوبو) له مخه تيريږې.

Gegenüber von + Dativ

.Ich wohne gegenüber von dem Park

.I live opposite the park

زه د پارک مخامخ اوسيږم.

Am besten tankst du bei der Tankstelle gegenüber vom .(von + dem) Freizeitzentrum

It is best if you fuel up at the petrol station opposite the .leisure center

ښه به وي، که ته د ازادوخت پارک ته مخامخ ټانکځای کي ټانک کړې.

Bis zu + Dativ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پورې + داتيو

.Gehen Sie bitte bis zur Kreuzung

.Carry on to the junction

هيله ده تر څلورلارو پورې لاړ شه

.Dann fährst du bis zum (zu + dem) Supermarkt

.Then you drive as far as the supermarket

بيا ته تر سوپرماركيټ پورې لاړ شه.

يادونه: ګران لوستونکي دې د ،، تر،، پ ته ځانګړې پاملرنه وکړي، چې دا ټولواک نه دئ اويواځې اويواځې په ځېل ټاکلې ځای کې راځي اونه زيات.

um + Akkusativ + herum

په + اكوزاتيو + ګرد چاپيره

.Wir fahren um die Stadt herum

.We drive around the town

موږ په ښار ګرد ګرځو

.Dann fährst du um den Supermarkt herum

.Then you drive around the supermarket

بيا ته په سوپر ماركيټ ګرد ګرځې

*Prepositions of time*

prepositions with the dative

پرېپوزېشن د داتيو سره

| | | |
|---|---|---|
| an<br>on<br>په | date<br>day<br>time of day<br>نيټه، ورځ، د ورځې وخت | Ich bin am (an + dem) 06.07.1975 geboren.<br>I was born on 06.07.1975<br>زه په ۶ ـــم د ۷-مي ۱۹۷۵ زېږېدلی يم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | Am (an + dem) Morgen schlafe ich lange.<br>I sleep in in the morning<br>سهار اوږد بيدېږم يا اوده کيږم.<br>Am (an + dem) Sonntag arbeite ich nicht.<br>I do not work on Sundays<br>زه په يوه نیکار نه کړم |
| bei<br>by<br>سره | simultaneity | Bei der Arbeit kann ich nicht telefonieren.<br>I cannot telephone at work.<br>په کارکي تلفون نه شم کولی<br>يا: (زه) د کارسره.... |
| in | later | In einer Stunde bin ich bei dir.<br>I will be with you in an hour<br>زه به په يوه ساعت کي (د) تاسره وم. |
| in | months<br>seasons | Was hast du im (in + dem) September gemacht?<br>What did you do in September?<br>تا په سپتمبر کي څه وکړل؟<br>Im (in + dem) Winter fahre ich oft Ski.<br>In winter I often go skiing |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | په ژمي کې زيات شيخغاستي ته ځم. |
| | at night | In der Nacht muss sie arbeiten.<br>She must work at night<br><br>په شپه کې باید کار وکړم. د شپې باید کار وکړم.<br><br>Nach zwei Stunden ist er zurückgekommen.<br>He came back after two hours.<br><br>Schon nach einer Woche konnten wir die Ergebnisse sehen.<br>We could see the results after just one week. |
| nach<br>after<br>وروسته،پسې | Afterwards | موږ وکولای شود د یوې اونۍ وروسته لاس ته راوړني وګورو |
| vor<br>in front of<br>د مخه<br>یا ته | | Vor dem Schlafen geht sie baden.<br>Before sleeping she bathes.<br><br>له خوب د مخه هغه لامبي<br><br>Es ist 5 vor 7.<br>It is 5 to 7.<br><br>پنځه اتوته پاتي دي |
| | Beforehand<br><br>vorher<br>before | Es regnet seit gestern.<br>It has been raining since yesterday. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| seit<br>since | | له پرونه وریږي<br>Seit gestern bin ich wieder fit.<br>Since yesterday I have been well again.<br>له پرونه بیرته تازه یم |
| ab<br>from | refers to the past | Ab heute rauche ich nicht mehr.<br>I will not smoke any more from today on.<br>له نن څخه نور(سګرت) نه سکوم.<br>Ab November arbeite ich am nächsten Abschnitt.<br>I will work on the next section from November.<br>له نومبر څخه په بله برخه (وخت) کي کار کوم |
| | refers to the present and the future | von 8.00 Uhr bis 10.00 Uhr<br>from 8 o'clock until 10 o'clock<br>له ۸ بجوتر ۱۰ بجو<br>Von Montag bis Freitag bin ich an der Uni.<br>I attend university from Monday to Friday<br>له دوه نی تر اونی زه په پوهنتونکي یم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| von<br>from<br>pr with the accusative<br>bis<br>until<br>تر<br>um<br>around<br>په<br>په (شاوخوا) | with 'until'<br>د ،، تر،، سره<br>with 'from' | prepositions with the accusative<br>von 8.00 Uhr bis 10.00 Uhr<br>from 8 o'clock until 12 o'clock<br>له ۸ بجو تر ۱۲ بجو(پورې)<br>Von Montag bis Freitag bin ich an der Uni.<br>I attend university from Monday to Friday.<br>له دوه نۍ تر اونۍ زه په پوهنتون کې یم<br>Ich habe heute nur bis 15.00 Uhr Zeit.<br>I only have time until 15:00.<br>زه نن تیک تر ۱۵ بجو وخت لرم.<br>Um 7.30 Uhr fährt meine S-Bahn ab.<br>My train leaves at 07:30.<br>په ۷ اودېرشو زما بس ځي<br>Um 15.30 Uhr habe ich einen Termin.<br>I have an appointment at 15:30<br>زه په ۱۵ اودېرشویوه وعده لرم<br>prepositions with the dative |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| mit<br><br>with<br><br>سره | د،، له،، سره<br><br><br><br><br><br><br><br><br><br>clock time | Ich schreibe gern mit dem Bleistift.<br>I like to write with a pencil.<br><br>زه په مینه (د) پنسل سره لیکم<br><br>زه په مینه په پتسل لیکم<br><br>Ich fahre oft mit dem Bus.<br>I often take the bus.<br><br>زه زیات د بس سره ځم<br><br>Ich fahre nicht gern mit dem Auto.<br>I do not like to drive the car.<br><br>زه د موټر سره په مینه نه ځم یا زه د موټر د بیولو سره مینه نه لرم. |

ه

دا لاندې برخه به لږ او ډېر تکار وي، خو کېدی شي نوي څه هم ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اړیکویونه د غوښتنې حالت سره سم یا د مانا سره سم ټولګیزاو ډلییزکیږي

**Nominativ** نومیناتیو (له لاتین څخه، نومونه) په ګرامر کې د یوه حالت نومونه ده، چې د هرڅه له مخه په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تیپیکي دی چې د یوه شي د خپلواک کارونې له پاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې مانا چې بې د بل له واکه). لنډ: دا حالت دی، چې د ،،څوک-حالت،، بلل کیږي، د یوه حالت سیستم په توګه رامنځ ته کیږي، چې دا نومیناتیو – اکوزاتیوسیستم بلل کیږي.د څوک- اود څه شي حالت.

د نومیناتیو یا د ،، څوک،، او ،،څه شي،، حالت.

مور کار ته ځي.

څوک کار ته ځي؟ ځواب: مور

کالیمینځونی خرابیږي.

څه شی خرابیږي؟ ځواب:کالیمینځونی

---

یادونه: ماته هم دا نومونه توکلي د لیکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهیږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمینځي،کالیمینځی، کالیمینځونی یا کالیمینځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مینځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

### جینیتیو Der **Genitiv**

جینیتیو د الماني ګرامردویم حالت دی.دا حالت د ملکیت حالت یا د چاحالت په نامه همیادیږي.

بیلګې: ،،د ګاونډي کور،،. ،، د یوه لرې زنګ غږ،،.

د جینیتیو په څه شي حالت

هغه په غلا تورن دی.

هغه په څه شي تورن دي ؟ ځواب: په غلا

---

### داتیو Der **Dativ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتيو د المانيژبې دريم حالت دی یا په جمله کې دريم حالت په ګوته کوي. داتيو  د چاته حالت هم بلل کيږي.

د داتيوله پاره په الماني پوښتنه پوښتنه کيږي، چې چا ته؟

بيلګې: زه دې ميرمن ته د يادښت کتابچه ورکوم. چا ته د يادښت کتابچه ورکوم؟ ځواب: ميرمن ته.

هوګی سوغات سپين ته ورکړ.

هوګی سوغات چا ته ورکړ؟ځواب: سپين ته

زه زماملګري ته يوکتاب سوغات ورکوم.

چا ته سوغات ورکوم؟ځواب: زما ملګري ته.

---

## اکوزاتيو Akkusativ

اکوزاتيو يوګرامري حالت دی. په ورځني الماني ګرامر کې دا د څلورم حالت سره ترتيبيږي. د دې د روښانتيا له پاره په الماني کې پوښتنه کيږي، چې څه شی یا څوک او که د چا؟؟؟، نو دا له دې امله د څوک حالت هم بلل کيږي.

اکوزاتيو: د ،، چا - یا څه شي حالت

ښاغلی سپين خپلورور ګوري

ښاغلی سپين د چا ليدنه کوي؟ ځواب: د خپل ورور

زه خپل ملګريته يوکتاب سوغات ورکو.

زه خپل ملګري ته څه شی سوغاتوم؟ ځواب: يوکتاب

دلته له هرڅه د مخه يوه يادونه ده، چې بايد پام موورته وي:

ما دلته سربل ليکلی یا پ،دلته د پښتو اوسربلونه زيات دي او همداسي کيدی شي سيرکوميوزيشنونه هم وي،چې هغه به ګران لوستونکي په اړونده ځای کې ولوستلی شي.
د نه کارڅخه نيمګړی کار هم هرومرو ښه دی، په ډيره بخښنه، که دا کار موستړي کړي.

## دِ غوښتون حالت تولکيزول

اړيکويونه د نوميناتيوسره prepositions with the nominative:

ته ...و. als (= than)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه:دا پورته ..و...ته ما د دوه شيانود پرتلې له پاره ليکلی لکه ب و پ ته يا ب نسبت و پ ته.دلته ما دا اړين ونه ګڼل چې نسبت دې ورسره وليکم او زه په دې اند يم، چې دا ب و پ ته بسيا کوي او د عربي نسبت پوره کوي.

يادونه: زه چې پرېپوزېشن ليکم،نودېښتوموخه به ترې سربل وي يا يې کله ليکم مخځاينيوی او پسې ځاينيوی وي.

اړيکويونه د داتيوسره prepositions with the dative

( , aus (= out (له)پرته ) , außer (= other thanڅخه (له)ab (= from
) , gegenüber (= ورسره ) , bei (= by څخه (له) وتلی
) , nach (= after سره ... ( د) ) , mit (= withمخامخopposite
() , von (= from له ( د وخت پيل ,seit (= sinceپسې
)ته (و) ) , zu (= to)څخه ( له ...

پرېپوزيشن د اکوزاتيوسره prepositions with the accusative

for) , له پاره through) , für (=ترڅuntil) , durch (= ترbis (=
against) ,مخامخaround) , gegen (= شاوخواum (=
along)اوږدوالي ) , entlang (= بېohne (= without

يادونه: دلته ،، تر،، ګوره ټولواک نه دئ او همدا يو ځای لري او بس.

prepositions with dative or accusative)))) *durch, für, gegen, ohne, um* ««««
( , کې (په) ) , in (= inباندې (په)) , auf (= on پهan (= on
) , لاندې) , unter (= under پاسه دüber (= over
) , وروسته ) , hinter (= behind مخ تهvor (= in front of
)( کې ( څنګ) , neben (= next to(کې) منځzwischen (= between

prepositions with the genitive

ترڅ ) , während (= while/duringامله ( له )wegen (= due to
) , په ځای ) , statt (= instead پسې ) , infolge (= as a result (کې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

trotz (= despite سره ( له دې)(

Classification by meaning

د مانا سره ټولګیزول

Prepositions of place د ځای پرېپوزېشن

prepositions with dative or accusative

پرېپوزيشن له داتيو او اکوزاتيو سره

an

on

په ( باندې)

am (an + dem) Hauptplatz

on the main square

په ميدان (باندې)

in

in

(په).. کې

in der Straßenbahn

on the tram

(په) کوڅه ګاډي کې

auf

on

(په) باندې

يادونه۱ : پر ميز، ميز باندې اوپرميز باندې. په دې دريو کې به نوڅه وو ايو. اندونه موکه څرګند کړی، مرسته به مووي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه ۲ : لکه پورته همداسې: په کور، کور کې او په کورکې.

auf dem Spielplatz

in the playground

په لوبځای (کې؟)

auf dem Schloßberg

on the castle hill

(پر) غره- ماڼۍ باندې

über

over

د پاسه

über der Stadt

over the city

-(د)..ښار د پاسه

unter

under

کښته( لاندې)

unter dem Schloßberg

below the castle hill

د ماڼۍ کښته (لاندې)

vor

in front o

مخ ته

vor dem Brunnen

in front of the fountain

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چينې مخ ته

)کيدی شي ځنې يې وليکي: ،،تر د مخه،چې ناسم دی(

hinter

behind

شا ته

hinter dem Café

behind the cafe

د کافي شا ته

zwischen

between

منځ (کې): دا لږ پاملرنې ته اړتيا لري، چې بل ځای کې به را اوړلشي.

zwischen dem Brunnen und dem Rathaus

between the fountain and the town hall

د چينې او ښاروالی منځ کې

زموږ ځنې اديبان ،، ترمنځ،، ليکي، چې ناسم دی ( ،، تر،، وګوری)

neben

next to

څنګ ته ( په ) څنګ کې يا - ته

neben der Oper

next to the opera

د اوپرا څنګ ته ( ،، تر څنګ ناسم دی)

بيا لنډ:

اړيکويونه کيدی شي د خپلې کارونې له مخې سره توپير- يا بيل شي:

ځای اړوند اړيکې/ پوښتنويونه: چيرته ، چيرته( په کومې لور)، له کومه (کوم ځاي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: زه د داسې لیکنې سره په لومړي ځل مخامخ کیږم. د ټولو هیوادوالومرستې ته اړتیا شته.

ته چیرته اوسیږې؟ په خوست کې.

ښاغلی سپین چیرته ځي؟ ډاکټر ته

دا کتاب دې له کومه کړی؟ له کتابتون څخه.

وخت اړونده اړیکویونه:

کله،په څو بجو، تر کله (پورې)، له کومه وخته یا له څه وخته،

د پوکال پایلوبه کله ده؟ په راتلونکې یوه نۍ.

فیلم په څو بجو پیلیږي؟ په اته اوپنځلس بجو

له کومه ( وخته) الماني زده کوې؟ یا له کله الماني زده کوې؟ له څلورومیاشتو( را په دې خوا)

مودال، حالت، ونه ......./ پوښتنې: څنګه، ولې، د څه له پاره.

ته پرون ولې موږسره را نه غلې؟ د خرابې هوا له امله.

الماني د څه له پاره زده کوې؟ د مسلکودې( کریرې ) له پاره

کله خراب بیدیږې؟ د پوره سپوږمۍ سره

د یوه څه له پاره میل لرل: سپین د څه سره میل لري؟ ټیک د موټرو سره.

څه باندې خندل: په څه باندې خاندې؟ - د هغه په ټوکه.

له ژوند کول: زده کړی له څه ژوند کوي؟ د خپل پلار له پیسو.

و .. ته چمتوپاتې کیدل: ته د څه له پاره تر اوسه چمتو نه یې؟
د واده له پاره
ته څه ته چمتو نه یې ؟
واده ته.
په باندې په قهرېدل: په چا باندې هیڅ وخت نه شې بدېدلی یا قهرېدلی؟ زما بچیانو باندې.
څه ته چمتوکیدل: هغه څه ته توانمند نه دئ؟ کارکولو ته.
نظم ته راوړل: دا بیرته نظم ته راوله! دا بیرته په نظم ته راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارام پرېږده: هیله ده ما په ارام پرېږده.
پای ته لاړ شه: هرڅه یو وخت پای ته ځي.
یو اړیکوی هیڅ وخت ځا نله نه وي. تر لړو ځانګړو پورې دا ( یعنې اړیکوی) د یوه نسبتي وی د مخه (مخ ته) یا پسې راځي.

یادونه: په پورته غونډله کې ماته ،، دمخه،، څخه ،، مخ ته،، سم برېښي.

ځني څو کربنې نورې هم د لیکلو وې، خو د یوې خوا یې زه په هغه ګرامري مانا نه پوهیدم، نولومړی مې باید ځان په پوه کړی وی، بیا مې هر ګرامري نوم باید د پېژند سره څیرلی وی، چې دا لیکنه بیا نوره هم غزېده.

دا دې په یاد وي،چې داهم یوه اوږده موضوع ده، چې ګران ژبپوهان پرې پوهیږي او د ژبپوهنې میونوال په دېلارنورهم هڅیلی شي.

په پای کې یوه هیله: دا کاراونوربه زموږډیروپوهانوله ما څخه د مخه هم کړی وي، خودا دې له ماڅخه نه زړه بدي کیږي نه. زدکړه خو باید د هرچا حق وي اوکه څوک له ماسره مرسته کوي، نوله ماسره دې زما په ناسمه زدکړه اولیکلوکې د سمون مرسته وکړي اونه د زړه بدی.

پسې لیکنې:

کیدی شي د دې پورته لیکنې لړتکرارراشي اوځنې اړیکویونه ښه روښانه شي، چې پسې به هغې خپلې اړي موخې یعنې د ،،تر،، د خپل سری مخه نیول او دا چې ،، تر،، د پرتلې سره سر اوکار نه لري.

# von' with surnames،

Von' with surnames indicates possession or origin of things or people'

Von 'mit Nachnamen zeigt Besitz oder Herkunft von Dingen oder Personen an

دا د شیانو او کسانو د لومړي نوم سره خاوندتوب یا خاونوالی او یا کورنیوالی(نسب) ښایي

| | | |
|---|---|---|
| Thomas Mayr ist der Vater von Hana, Laura und Niklas<br><br>Jolana Mayr ist die Mutter von Hana, Laura und Niklas. | = Thomas Mayr is the father of Hana, Laura and Niklas. | توماس مایرد هانا،لاورا او نیکلاس پلاردی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Das ist die Bluse von Katrin.<br>Das ist das Bild von Botticcelii.<br>Das ist die Kaffeemaschine von Tchibo. | = Jolana Mayr is the mother of Hana, Laura and Niklas.<br>= That is Katrin's blouse.<br>= That is the photo of Botticcelii.<br>= That is the coffee machine from Tchibo. | جولیانا مایر د هانا،لاورا او نیکلاس مور ده<br>دا د کاترین کمیس دی.<br>دا د بوتیچلي (کښلې) ځیره ده.<br>دا دچیبوکافي ماشین دی.<br>دا د کافي ماشین له چیبو څخه دی. |

بیا لنډ:

پ کیدی شي د خپلي کاروني له مخي سره توپیر- یا بیل شي:

<u>Lokale Präpositionen</u> / <u>Fragewörter</u>: wo, wohin, woher

ځای اړوند پ/ پوښتنویونه: چیرته ، چیرته( په کومې لور)، له کومه (کوم ځاي)

یادونه: زه د داسي لیکني سره په لومړي ځل مخامخ کیږم. د ټولو هیوادوالو مرستي ته اړتیا شته.

ته چیرته اوسیږې؟ په خوست کي.

ښاغلی سپین چیرته ځي؟ ډاکتر ته

دا کتاب دې له کومه کړی؟ له کتابتون څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Temporale Präpositionen / Fragewörter: wann, um wie viel Uhr, bis wann, seit wann

وخت اړونده پ: کله،په څو بجو، تر کله (پورې)، له کله( له کومه وخته یا له څه وخته)،

د پوکال پایلوبه کله ده؟ په رتلونکې یوه نی.

فیلم په څو بجو پیلیږي؟ په اته اوپنځلس بجو

له کومه ( وخته) الماني زده کوې؟ یا له کله الماني زده کوې؟ له څلورومیاشتو( را په دې خوا)

Modale, kausale, finale, konzessive Präpositionen, / Fragewörter: wie, warum, wozu,

مودال پ ......./ پوښتنې: څنګه، ولې، د څه له پاره.

ت پرون ولې موږسره را نه غلې؟ د خرابې هوا له امله.

الماني د څه له پاره زده کوې؟ د مسلکودې( کریرې ) له پاره

کله خراب بیدېږې؟ د پوره سپوږمۍ سره

Verben mit Präpositional-Ergänzung: / Fragewörter: womit, worauf, wozu, ...

د یوه څه له پاره میل لرل: سپین د څه سره میل لري؟ ټیک د موټړو سره.

څه باندې خندل: په څه باندې خاندې؟ - د هغه په توکه.

له ژوند کول: زده کړی له څه ژوند کوي؟ د خپل پلار له پیسو.

:Adjektive mit Präpositionen
و .. ته چمتوپاتې کیدل: ته د څه له پاره تر اوسه چمتو نه یې؟
د واده له پاره
ته څه ته چمتو نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واده ته.
په باندې په قهرېدل: په چا باندې هيڅ وخت نه شې بدېدلی يا قهرېدلی؟ زما بچيانو باندې.
څه ته چمتوکيدل: هغه څه ته توانمند نه دی؟ کارکولو ته.
Nomengefüge
نظم ته راوړل: دا بيرته نظم ته راوله! دا بيرته نظم ته راوړه!
ارام پرېږده: هيله ده ما په ارام پرېږده.
پای ته لاړ شه: هرڅه يو وخت پای ته ځي.

يو پ هيڅ وخت ځانله نه وي. تر لږو ځانګړو پورې دا ( يعنې پ) د يوه نسبتي وی د مخه (مخ ته) راځي.

يادونه: په پورته غونډله کې ماته ،، دمخه،، څخه ،، مخ ته،، سم برېښي.

ځنې څو کربښپنورې همد ليکلووې، خو د يوېخوا يې زه په هغه ګرامري مانا نه پوهيدم،نولومړی مې بايد ځان په پوه کړی وی،بيا مې هر ګرامري نوم بايد د پيژند سره څېړلی وی، چې دا لکنه بيا نوره هم غزېده.

دا دې په ياد وي،چې داهم يوه اوږده موضوع ده،چې ګران ژبپوهان پرې پوهيږي؟

تر || ډاکتر ماخان ميږی شينواری

# ،، تر ،، until

د اړيکويونو سره مې اړيکې له دې امله ونيولې، چې د سربل ،، تر ،، سره مې داسې لږ څه جنجال ته نيت وو او داسې لږڅه ګوته ورته نيسم اويوڅونور هم همداسې غوره يې يا هغه چې ماته لږ د شنلو وړ برېښي لږ غزول يې ستاسو مخ ته ږدم.

دا خبرې به داسې لږڅه اوږدې شي، خودا چې کاغذ نه لږيږي او چاپوم يې هم نه نوګومان مې دی، چې تاسو به هم را څخه ورسره ونه زوريږی.

د انګريزي ژبې څو پرېپوزېشنونه راوړم د الماني ژباړې سره او بيا يې د پښتو سره پرتله کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوس دپاره به دا درې بسيا وکړي او که نور يې په دا منځ کې راغلل، هغه به هملته په ګوته کړو.

With; from; until

الماني يې: mit; von; bis

پښتو يې:

له ... سره، له ... څخه ،تر يا د (له) ... سره، له ...(څخه)، تر

زه لومړی د جرمني څخه دbis (انګرېزي: until)، چې د پښتو معنا يې تر (... پورې) ده يو څو جملې د ،، تر ،، لپاره راوړم، په دې هيله، چې ګران لوستونکي به يې بيا د ( دلته ،،له،، نه ليکم، چې وروسته پرې غږېږو) پښتو سره پرتله کړي، نه داسې نه چې پرتله يې کړي, بلکه وګوري، چې پښتو يې هم همداسې سمه ده او که څنګه او په هغه خپل وخت کې بيا دا نور دوه هم د څېړنې ( موږ بلد يو چې تر(سم نه دئ) څېړنې) لاندې ونيسو.

په ژبه کې د ،، تر،، کارونه :

اړيکوی تر: له دې سربل ،، تر ،، سره موږ د يوڅه يعنې پيښې، نوم، مهال او همداسې د ځاي پای په ګوته کوو، يعنې دا په هغه وخت کارولکيږي، چې دا پورته ياد څه پوله ولري يا پولې ته ورنږدې کيږي.

لنډ: د پيښې، مهال همداسې ځای او يو څه اخرني ټکی يا پوله په ګوته کونه.

**يادونه:** دا دې دلته بيا هم په کلکه وويل شي، چې په بل هرځای کې کارونه يې ناسمه ده، لاملونه يې راوړو.

يادونه: که داسې لږځير شو، نو څه چې پای لري يعنې ،،تر،، .. وي، نوهغه به هرومرو يوپيل هم لري، که دا څرګند او يا نا څرګند وي.

که وايوچې: سپين تر کابله پورې لاړ، نودا هرومرو له يوځای څخه، چې پيل دئ، تللی. که په دې هکله تکرارولرو، نو راڅخه زړه بدي کيږی مه، وايي، چې تکرار د زده کړې مورده او يا د پام بنسټ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادي څو الماني انګرېزي اوپښتو غونډالي د **سربل تر Bis سره**

(*US*) through ,to ,(*temporal*) until

*.Meine Tochter ist **bis** zwei Uhr in der Schule*

.My daughter is at school **until** two o'clock

زما لور تر دوه بجو په ښوونځي کي ده.

*.Ich war von Montag **bis** Freitag krank*

.I was sick from Monday **to** Friday

زه دوه نۍ تر **جمعي** پورې ناروغ وم.

(*temporal*) by

*.Die Aufgabe muss **bis** Donnerstag fertig sein*

.The task must be complete **by** Thursday

پوښتني باید تر څلورني ( چهار شنبې) پورې تمامي وي،

all the way to ;(*local*) to

*.Der Zug fährt **bis** Köln*

.The train goes **to** Cologne

ګاډی تر کولن (پورې) ځي.

په لاندې توګه مخ ته ځو:

١ – تمپورال یعني: اخر ټکی ښایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په مخه ښه کې هغه د بیا لیدلو وخت ډېر یا لږ پوره: تربیا پورې.

۳ – ځای: اخرنی موخه ښایی.

۴ – له ...څخه ... تر ... د وخت یا ځای واټن په ګوته کوي.

۵ – د یوه غزېدا سور، د یوه سپکتروم ( د یوې څېرې یا څه برېښیدته، د دې په پښتو معنا لږ ستونځمنه ده، خو په نورو ژبو کې کټل ښه دي او په فزیک کې راځي)، د یوې پورته – او یوې کښته پولې ورکونه.

۶ – د په خوښه اړیکوی سره

۷ – bis zu د الماني په څېر پرېپوزیشن په پښتو کې نه شته، دا هم همغه ،،تر ... پورې،، دی: پورته پوله په نخښه کوي، یو پوله ارزښت

۸ - bis auf : یو اخر شي چې سړی ردوي

لکه چې وایو ټول خلک میلمانه دې ترسپین پورې( یعنې پرته له ...)

د دې په څېر: ټو ل میلمانه دې د ... په ګډون پورې.

په پښتو کې موږ تر ... پورې لرو.

دوي دا هم معلومه کړې، چې دا وی کله ژبې ته راننوتی دی، چې هغه یې زه دلته نه راوړم.

بیلګې:

—– تر بلې میاشتې (پورې) باید کور جوړ وي.

– هغه تر بلې میاشتې (پورې) نه شته

– تر اوسه(پورې) هرڅه ښه دي.

– څوک چې سره بیلیږي یا مخه ښه اخلي: تر وروسته پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ،،ښه اوسه، تربیا پورې،،

– ،، په مخه دې ښه، تر بلې اونی (پورې).

— تر دې ځایه(پورې) او نه وړاندې.

(،،پورې،، ته دې پام وي، چې ورڅخه (موږ دلته هم کله لیکو، چې ترې..(هغه زموږ په کلیوالي خبرو کې وایو، چې تر نه تیریدلی.. دا ترنه معنا ورڅخه دي او نه تر)) تیریدلی هم شو).

– تر جلال اباده پورې موټر نیسو، وروسته بیا باید په پښو لاړ شو.

— ستا مور له سهار څخه تر ماښام (پورې) په پخلنځي کې ولاړه وه.

— دا یو سفر دی، له جلالاباد څخه تر کندهار پورې.

— سپینه له پاسه (څخه) تر کښته (پورې) لمده وه. یا له سر څخه تر پښو پورې لمده( که لنده) وه.

،، تر،، Bis د تړنوي Conjunction په دنده کې

برابرارزښته جملې- برخې سره تړي.

سپین په میلمستون کې ناستوو، تر هغې چې میلمانه کوروته ولاړل.

یو څوالماني انګریزي او پښتو غونډالې:

- (*subordinating*,*temporal*) until

*.Wir warten hier, **bis** das Gewitter vorbei ist*

.We'll wait here **until** the thunderstorm is over

موږ دلته تمیږو، **تر** څو جکړ تیرشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. (*coordinating*)to

*.Ich arbeite 40 **bis** 50 Stunden in der Woche*

.I work 40 **to** 50 hours a week

زه په اونۍ کې ۴۰ تر ۵۰ ساعته کار کوم.

*.Ihre Haare sind braun **bis** dunkelbraun*

.Her hair is brown **to** dark brown

د هغې ویښتان نسواري تر تیاره نسواري دي

دا نورې غونډالې دې هم ورسره وي:

– اسمان له برګ ښخه تر شین وو.

— سپین ۲۵ تر ۳۰ کسان میلمانه کړي.

( دلته دې پام وي، چې ،، له ۲۵ تر...، نه لیکم، ځکه چې هغه بیا خپله موخه بدلوي)

— په دې لمنځتون کې دې ۳۰۰ تر ۵۰۰ کسان ځای شي؟

— زه په اونۍ کې زیات وخت ۵۰ تر ۶۰ ساعتو کار کوم. ( پام دې وشي، له یې مخ ته راشي او که نه، په الماني ورسره له نه شته. نه ! داسې نه ده. له ورسره نه راځي، ځکه چې دی له تر کارنه کوي دی له ۱ تر ۵۰ یا ۶۰ ... یعنې له ۱ تر ۵۰ یا له ۱ تر ۶۰ ساعته پوري کار کوي، نو له دې امله ۵۰ تر ۶۰ ساعته پورې او نه له ۵۰ تر ۶۰ ساعته...دلته دا خبره راځخه لږ ستونزمنه کیږي، له ۵۰ تر ۶۰ ساعته په دې مانا دي، چې دی خوله ۱ تر ۵۰ کار کوي، خو به یې داسې ولیکو، چې له ۱ ت ۵۰ او همداسې کله کله له ۵۰ ښخه ور اوړي تر ۶۰ پورې. ګران لیکونکي دې هم په کې خپل فکر وځغلوي. (بیا: تکرار د زده کړې مورده ).

— سرې کړی شي چې هغه تر اخره پورې وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

—— سپین کړی شي چې هغه په رڼو اوبو کې تر ځمکې تل پورې وګوري یا د ځمکې تر تل پورې....

—— موږ ناوخته د شپې تر دننه ( تر منځ) پورې خبرې وکړې.

—— ژوبن هره ورځ تر زر کسانو پورې ګوري.

—— سپین په ښار کې تر نوي کیلو متره پورې په بس کې ځي.

—— د سندرغاړي ټولې سندرې پېژنم – تر اخرنۍ پورې دلته تر په دې معنا دی، چې اخرنۍ سندره یې نه پېژنم..

خبر و استعمال یا کارونه:

تر زر، تر بیا، له پښو تر سره، تر ګیډې، تر لاس خوزونې( په مخه ښه کې)، تر څو چې نور امکان نه وو.

ترې رابیل ویونه:

تر وروسته، تر وروستنې، ترغزونې، تر اوسه.

لنډ: تر په هغو جملو کې راځي، چې د ،، تر،، سره ،، پورې،، مل وي یا مل کیدی شي، یوائې همدې ته دې په لیکنو کې پام وشي، سم دې وکارول شي یعنې تر...(پورې)، بل ډول کارونه یا استعمال یې ماته ناسمه برېښي، چې ګران ژبپوهان دې هم ورته پوره پاملرنه وکړي، دا د ما سره هم مرسته ده او د دې مرستې د غوښتنې اجازه دې وي.

د تر مخامخ اړیکوی له... څه دی، دا په دې مانا، چې د هغو څه چې تر یې پای په ګوته کوله، د ،، له ... څخه،، یې پیل ښایي.

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

،،له ... څخه،، ، ،،د ... سره،، with، from

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پورته سیرکومپوزېشنونه د سربل ،،تر،، مخامخ یا په څنډ او که غواړئ معکوس دي:

په پورته کې مو روښانه کړل، چې تر د یوه ځّه، ځای، مهال اونومونو پاي په کوته کوي اونه بل څه.

دا اړیکوی د بل ځای ناستی نه شي کیدی اونه بل څه یا اړیکوی د ،،تر،، ځای ناستی کیدی شي. دا همداسې لار ده اوبس.

اوس راځو دې پورته ته، چې زما په ګومان او که داسې وي، د پیژند سره به سیرکومپوزېشنونه وي.

د افغانستان په ځنو ځایونو کې وایو:

،،له ... څخه،،، ،،له ... سره،، او ځنو ځایونو کې بیا وایو: د ... څخه ، د... سره.

انګرېزي یا ( او ) الماني یې لیکو او بیایې د پښتو د ژباړې سره پرتله کوو. ما دا له الملني څخه ژباړلې او الماني مې له انګرېزي څخه را نیولې یا ښه یې: راژباړلې.

پیل له ،، له .. (څخه)،، کوو او داسې مخ ته ځو:

د انګریزي سربل from په الماني کې هغه غوره دا لاندې درې سربلونه دي: ab ، aus ، von ،

دا درېواړه په پښتو کې هم د ،، له ...څخه،، په معنا دي. که وایو چې له هسکې مینې څخه، نو د ژبلارې سره سم دا سیرکومپوزېښن دئ یا که غواړئ پښتوشي، نوزما په اندبه دا بیا غیرکې نیوی وي. دې په الماني ab راځي، که وایو له سپین څخه... ، نو von راوړل کیږي، که وایو له اوسپنې جوړ دی، نو وایو ... aus.

که ،،له ... څخه،، وایو، نو له یو څه څخه یو څه رابیلیږي، یاې د یو څه، مهال او له ځای څخه یو څه رابیلیدل.

لنډ: دا د یو څه له ځای،مهال،کس یا یو شي څخه د یوڅه پیل دی،له دې امله د،،تر،، په څنډ یا مخامخ سیرکومپوزېشن دئ.

لکه: له سپین څخه مې کتاب واخست.

دا جمله داسې ویلی شو: له سپین مې کتاب واخست یا له سپینه مې کتاب واخست او یا له سپین څخه مې کتاب واخست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې: سپین څخه مې کتاب واخست.

خو سم يې: له سپين څخه مې کتاب واخست:

،، له ،، بې له ،،څخه،، او همداسې ،،څخه،، بې له ،، له ،، دی او که دواړه؟.

وړانديز: که ،،څخه،، ورسره وي او که نه خو ،،له،، دې وي او يا ،،له... څخه،، او يا دا دواړه.

پورته مو وليدل: له هسکې ميني څخه...، له سپين څخه... او له اوسپنې څخه....

دا په دې معنا، چې: له يو ځای څخه ځي، له يو چا څخه څه رانيسي او له يو څه څخه يو شی جوړ دي، له يو څه څخه څه ساتي، د يو چا( له خوا ) څخه څه درکول کيږي.

ور څخه در څخه، راڅخه، او داسې نورو ته دې هم پام وي، ترې څخه اوداسې نور هم.

په دې هکله به هم لږ تر لږه څه بيلګې راوړو

د پوښتنې په ځواب کې: تا له سپين څخه کتاب واخست؟

نه! ورڅخه اخلم يې.

يا داسې: له سپين څخه کتاب اخلم. او داسې نور.

دلته دي ،،ورته،، يعنې ،، هغه ته ،، هم پام وشي.

اوس راځو with ته، چې الماني يې ...mit دی :

موږ يې د الماني درې اندول اړيکويونه يا سربلونه را ا خلو: mit، <u>bei</u> ، Dabei.

څه وکړو؟

،،له ... سره،، او که ،، د ... سره،،؟

که ،، له،، هغه د مخه تير اړيکوي سره وي ، نو بيا خو يې دلته نه شو راوړی، هغه ،،ترې لرې کيدل،، دي او دا ،،ور سره يوځای کيدل دي،، يا ،، نښلول،، دي. دلته اړيو، چې ،، د ... سره،، وليکو او نه ،، له... سره،،. دا ګوره يو وړانديز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. په الماني ژبه کې ،،د... سره،، لږ تر لږه دا درې اړيکويونه کارول کيږي: که ووايو، کتاب د... سره دی، نو دلته يې الماني mit دی. که ووايو، چې سپين د برگ سره دی، نو دلته يې بيا bei راځي او که ووايو، چې هغه ورسره دی، نو دلته د Dabei راځي.

نومونه: دا ،، د ...سره،، به هم لکه ،، له ... څخه،، سيرکومپوزيشن يا غيرکې نيوی وبلل شي.

دا گوره زما وړانديزونه دې اود وړانديزاجازه دې راته وي، زه په خپلې ليکنې تيگارنه کوم.

دلته دې بيا هم د ورسره ، درسره، را سره ته هم پام وي.

دلته به په دې بسيا وکړو او زما وړانديز گران لوستونکو ته دا دې، چې د نورو زده ژبو څخه دې گټه واخلي، دا دې هغه ژبې وي، چې يو څه وده يې کړې وي.

بيا لنډ: ،، تر،، د مهال، ځای،نوم او يا يو څه پاي په گوته کوي.

،، له ...څخه،، د مهال، ځای،نوم،يا يوڅه څخه لرې کيدلدي.

او،، د ... سره،، دمهال،ځای،نوم او يا يوڅه سره يوځايکيدل يا يوځای والي دی.

Nimm die Kleidung aus dem Schrank.

Take the clothes out of the wardrobe.

کالي له الماری څخه را واخله

Sie bleibt schon seit einer Stunde bei dem Arzt.

She has already been with the doctor for an hour.

هغه(ښځينه) له يو ساعت را په دې خوا د ډاکتر سره ده.

Zuerst haben wir uns bei der Ausländerbehörde im Stadthaus erkundigt.

First we informed ourselves at the foreign office in the town hall.

لومړی موږ په ښاروالی کې د دباندنيو دفتر سره معلومات د لاسه کړ( د لته تر لاسه نه ليکو).

They do not live far from us.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي له موږ څخه لرې نه اوسيږي.

Nimm deine Füße vom (von + dem) Tisch!

Take your feet off the table!

پښې دې له ميز څخه لرې کړه.

Er kommt gerade von seiner Freundin.

He is coming directly from his girlfriend.

هغه همدا اوس د هغه له ملګرې څخه راغی.

Sie ist vor kurzem von der Türkei nach Deutschland gezogen.

She recently moved from Turkey to Germany.

هغه لږ مخ ته له ترکيې څخه جرمني ته کډه شوې ( راغلې).

Schon nach einer Woche konnten wir die Ergebnisse sehen.

We could see the results after just one week.

موږ وکولای شو له يوې اونۍ څخه وروسته لاس ته راوړنې وګورو

Vor dem Schlafen geht sie baden.

Before sleeping she bathes.

له خوب څخه د مخه هغه لامبي

Es regnet seit gestern.

It has been raining since yesterday.

له پرونه څخه وريږي

Seit gestern bin ich wieder fit.

Since yesterday I have been well again.

له پرونه (څخه) بيرته تازه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ab heute rauche ich nicht mehr.
I will not smoke any more from today on.

له نن څخه نور هیڅکله (سګرت) نه سکوم.

Ab November arbeite ich am nächsten Abschnitt.
I will work on the next section from November.

له نومبر څخه په بله برخه (وخت) کې کار کوم

von 8.00 Uhr bis 10.00 Uhr
from 8 o'clock until 10 o'clock

له ۸ بجو(څخه) تر ۱۰ بجو پورې

Von Montag bis Freitag bin ich an der Uni.
I attend university from Monday to Friday

له دوه نۍ (څخه) تر اونۍ پورې زه په پوهنتون کې یم

von 8.00 Uhr bis 10.00 Uhr
from 8 o'clock until 12 o'clock

له ۸ بجو څخه تر ۱۲ بجو(پورې)

Ich habe heute nur bis 15.00 Uhr Zeit.
I only have time until 15:00.

زه نن تیک تر ۱۵ بجو وخت لرم.

Um 7.30 Uhr fährt meine S-Bahn ab.
My train leaves at 07:30.

په ۷ اودېرشو زما بس ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Um 15.30 Uhr habe ich einen Termin.
I have an appointment at 15:30

زه په ۱۵ اودېرشويوه وعده لرم

prepositions with the dative

Ich schreibe gern mit dem Bleistift.
I like to write with a pencil.

زه په مينه (د) پنسل سره ليکم

Ich fahre oft mit dem Bus.
I often take the bus.

زه زيات د بس سره ځم

Ich fahre nicht gern mit dem Auto.
I do not like to drive the car.

زه د موټر سره په مينه نه ځم.

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

## منځ(کې)، دمخه، څنګ کې او شاته

موږ په پښتو کې( دما(زما) د پام ته راتلنې سره ) لږ تر لږه دا لاندې څلور ويونه لرو، د دوه ګونو ماناو يا ترېپوهېدنو سره، چې هم نومونه دي او هم اړيکويونه او دا منځ، مخ او څنګ او همداسې شا دي، چې له دې امله هم کله کله په غونډالو کې د دې د کارونو له امله له ستونځو سره مخامخ کېږو. دلته بايد ډېر پام وشي، چې موږ د نوم او که د اړيکوي سره سراو کار لرو. لږ تر لږه دا سې څه په الماني نه شته او د دې هر يوه له پاره ځانله ويونه لري.
که وو ايو، چې په مخ مې دانه راختلې، نو دا څرګند نوم او که وو ايو، چې په لاره تور سپی مخې ته راغی، نو دلته موخه سملاسې اړيکوی ترې پوهېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په دې برخه کې یو په بل پسې څلور اړیکویونه څیروچې په همدې مهال نومونه هم دي:
لومړی: منځ اومنځ. دویم: مخ یا مخ ، دریم: څنګ او څنګ او څلورم : شا او شا

## لومړی: منځ او منځ

موږ په پښتو کې دوه منځ لرو، چې دا یویې منځټکې بللکیږي، چې اندول لنډیز یې منځ دی او تل منځ لیکل کیږي او دا بل منځ یې اړیکوی دی.

منځ (کې) : Zwíschen, between

یوه ورځ په م ک کې د منځ او مینځ په سر څه خبرې وې. زه هم په کې هکپک شوم، چې دا اوس مینځ دیاوکه منځ؟
موږ ورته په شینواروکې مینځ وایو، خوما زیات منځ لیکلی، چې کومان مې دې، له پخوا څخه ورسره ډېر بلدیم.

منځ (کې) : Zwíschen, between

دا پوستپوزېشن، اوستربل یا پسې ځاینیوی دی، چې زه یې اړیکویونه بولم . په نورو ژبوکې (انګرېزي.الماني) مخ ځای نیوی( پرې پوزېشن) دی.
۱ - د یو چا، یوه شي شتون، چې د یوې د دوه پولو رابندې په نخښه شوې فضا په ګوته کوي.
،، هغه هلته د خپل پلار اوخپل ورور منځ کې ولاړ دی،،. دا یوه بنده فضا ده ددوه کسانو منځ کې
۲ – له دوه رابندوټکو دننه له یوڅه ( څخه) ،، د کورونومنځ کې واټن، د ټکو ،،ا او ب،، یوه غزونه په ګوته کوي.
دا منځ هغه هندسي یا جغرافیوي منځ یا منځټکی نه دی

بیا یې مانا:

۱ – دواړو یا ډېرو خواو ته داسې په نامه شیانو یا کسانو لرل.

۱ الف – د داتیوسره، ځای اړوند:د یوه ځای تشریح، یوې پوښتنې ،، چیرته،، د یوې پوښتنې جوړښتبرخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ب : د اکوزاتیو سره، ځای اړوند: د یوه لور شننه، د ،، کومې لورته،، پوښتنې د یوه ځواببرخه.

۲ – د داتیوسره: د یوې په ګوته شوې ډلې یا ډېرۍ برخه.

بیلګه:

۱ – د یوه پښوتوپلوبې (فوټبال) د نیم وخت منځ کې پنځه دقیقې تفریح ده.

۱ الف: د منځنۍ امریکا او افریقا منځ کې لویې اوبه اتلانتیک دۍ.

۱ ب : ځانمینځی د پخلنځي او اوسیدکوټې منځ کې دۍ یا ځای لري.

۱پ: د یوې ۴۰۰۰۰ کیلومتره ساعت کې چټکتیا، چې زموږ،،هوابیرۍ یې دا اوس د ځمکې او سپوږمۍ منځ کې، کیدی شي نږدې ۴ پربښنا کلونه زموږ د لمر ګاونډ ځای په ځای ستورې ته ۱۰۰۰۰۰ کاله ونیسي.

۱ ب : هغې دا لیک د خپل مینې کتاب منځ کې کیښود.

۱ ب :تفریح یې د اول او دویم اکت ( تیاتر کې) منځ کې راوسته.

۲ – د دومره ډېرو خلکو منځ کې موږ د چا پام ته نه راځو.

همداسې خبروکې راوستل

د کربښو منځ کې لوستل
د لیکو منځ کې درېدل
د کلونومنځ کې

یادونه: سربل او اوستربل یا د نومن او یا پرونومن څخه د مخه اویا پسې راځي او نه د سربل اواوستربل سره څنګ کې، نو له دې امله د اوستربل منځ (کې) سره څنګ کې نه راځي. له دې اوستربل ،، منځ کې او نه ،،ترمنځ،، چې بیخې ناسم دۍ.

موږ ورسره ډېر بلد یو، چې د منځ یا منځ کې دمخه ،،په،، لیکو یعنې ،،د دوه کسانو په منځ کې مینه ده،، او کله ،،ترمنځ،، هم. دا ناسم دي.

لومړۍ خو تر د پیژند له مخې هم ناسم دۍ او له بلې خوا ګورو، چې ،،تر،، او،،په،، هم سربلونه دي، چې بل اړیکوي سره مل نه راځي یا نه شي راتللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منځ یا منځټکی Die Mitte oder Mittelpunkt or center

منځ یا د منځټکي لنډونه: موږدلته بل بدیل نه لرو، چې بل څه یې ونوموو. دلته موخه هغه هندسي منځ یا منځ ټکی دی.

بېلګه یې: د ګردی منځټکی.

یا د غونډوسکي منځ ټکی.

یا د یوې کربښې منځټکی یامنځ

دا اړیکوی نه دی، دا ځای دی. دې ته دې تل پام وي، چې موږپه خبروکې له کوم منځ څخه غږیږو.

سربل او اوستربل مانا:

سربل او اوستربل یو ټاکلي نسبت یا ټاکلي اړیکې د دوه شي اړیکو منځ کې په نخښه کوي. د نسبت د ډول یا رقم سره سم کیدی شي سربل او اوستربل په څلور بیلابیلو ټولګیو وویشل شي.

یادونه:

ډېر سربلو نه ځانله یا ټیک یوه ټولګي پورې اړه لري. دا کړی شي د اړیکو توپیرکیدونکي ډولونه افاده کړی شي یا وویلی شي:
بیا: منځ یا منځټکی د لاندې له پاره ځای په ځای دی:

- منځټکی، په ځمککچپوهنه کې

- سیاسي منځ، یو سیاسي اند یا نظر چې د ټولوسیاسي اندونو په هندسي منځ کې ځای لري یعني د ښي اوکیڼ لورو.

مانا:

۱ – د منځټکي له پاره لنده بڼه

۲ – د یو شي لنډ چاپېریال

۳ – د یوې کربښې نیمایي، د وخت نیمایي اونور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور تري را جوړ ویونه:

- د تن منځ، د ښار منځ، د سین منځ، د یوه کلي منځ

- د کال منځ، د اونۍ منځ، د میاشتې منځ، د ژوند منځ

بیلګې:

١ – په یوه ګردۍ کې د غاړې ټول ټکي له منځ څخه همغه یا برابر واټن لري.

٢ – د دې کوټې په منځ کې یومیز او څلورچوکۍ شتون لري یا شته

٣ – دا په اخر کې له تا بلل شوی نرخ ( بیعه؟) زما له پاره تر اوسه جګ دی، زه به وړاندیز وکړم، چې ته اوزه به دې منځ ته سره راشو.

## دویم: مخ،د مخه یا مخ ته

دا اړیکوی لوریزوالی لري.

مانا:

١ – د وخت د نظم سره:

٢ – په فضایي نظم کې

٣ - داکوزاتیوسره. په فضایي لوریزوالي کې د یوه ځای پسې

۴ – د یوه شي حالت د بنسټ یا دلیل په نخښه کونه.

مخامخ وی:

پسي، وروسته

بیلګې:

١ – زاړه وختونه له منځنیو پیړیو د مخه راغلي

١ – یو ساعت د مخه ورینګي وربډله

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – اته دقیقې د اتو دمخه

۲ – بوټان د ننوتون ( دروازې)  مخ ته پراته دي یا --- د مخه پراته دیـ (؟).

۲ – تا سپین د لمنځتون د مخه یا مخ ته ولید ( زموږ ځنې ژبپوهان ترمخه لیکي او دا ناسمه لیکنه ده)

۳ – بوټان د ننوتون مخ ته کیږده. ځنې یې یا لیکي: --- تر د مخه پراته دي او دا ناسمه لیکنه ده.

۳ – تا موټر د لمنځتون د مخه یا مخ ته درولی.

۴ – له ډارځخه د مخه هغه نوکان خوري.

۱ – ۶۵ میلیونه کاله د مخه

یادونه: دلته هم ګران لیکونکي تر لیکي، خودا هم سوچبوچ ناسم دی، ځکه چې د یوه اړیکوي د مخه یا وروسته بل اړیکوی ځای نه لري.

تر د مخه او مخکې ناسم دي.

لولو:
س**ل کاله مخکې د افغانستان د**

سل کاله د مخه ...

کتاب مې مخ ته پروتدی

سپین له ما د مخه راغی او سپینزما یادما مخ ته ولاړ دی.

فزیکي مخ. د هغه پهمخ دانې راختلي.

د سپین په یا پر مخ ږیره راټوکېدلې.

## دریم: ،،څنګ ،،

مانا:
۱ – فضایي پوله شریک
۲ –  له دې سره ورزیات یا پرته له دې ورسره نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – د یوڅه سره په پرتله
بیلګې:
۱ - دواړه کوټې یود بل ښنګ کې پرتې دي، سړی په دې یوه کوټه کې اوري، څه چې په دې بله کوټه کې ویل کیږي.
۲ - د دې په ګوته شوو دلایلو څنګ کې باید سړی دا هم په پام کې ونیسي، چې ....
۳ - ،، د جین تخنیکي تغیر یا بدل شوو بوټو د ډولونو ډېرډولوالي ریزیکو څنګ کې څنګیزې اغیزې لکه په نباتاتو کې د نویو ناغوښتلو خویونو منځ ته راتلل، مګر دا ترې کاراخستونکو یا استعمالکونکو کې حساسیت پیداکیدونکې پیښې هم.
۳ – د سپین څنګ کې ته هم یو ښه اغیز اچوې.

بیا:
اړیکوی ،، څنګ،، لاندې ماناوې لري:
ځای اړوند:
۱ - یو ځایڅرنګوالی په ګوته کوي: د ... په خوا، د ... تولي ګاونډتوب کې.
بیلګه: هغه یه څیره (عکس) کې زما څنګ کې ولاړدی.
۲ – پرته له: په همغه وخت د پرته له سره.
بیلګه: د خپلې بډایۍ څنګ کې هغه تقاوت هم لاره.

فزیکي څنګ: سپین ژړل، ما په څنګ کې ونیوه.

## شاته:

سپې دې شا ته پروت دی، ته زما شاته روان یې، ته ما پسې روان یې. ما پسې مه راځه.
زما شاته مه راځه.
په څټ لور، په بل مخ، غونډالې یې پخپله لوستونکې جوړې کړې.
کتاب د الماری شاته لوېدلی، دا تغر بلمخ کړی، کمیس دې په څت اغوستی.
د کور شا ته.

# دا پورته لړ څه بیا او کتل یې اړین بولم

د ِغوښتون حالت ټولګیزول

پرېپوزیښن د نومیناتیوسره prepositions with the nominative:

(c) ketabton.com: The Digital Library

als (= than)... و. ته

- ( و... ته): سپين ( و) سهر ته خواريکښ دی.دا ،، ته ،، يا ،، ته ....ته،، د ،،نسبت،، لهپاره دی، څه په کې وايی.

پرېپوزيشنونه د داتيوسره prepositions with the dative

ab (= from له) , aus (= out پرته ) , außer (= other than وتلى ) , bei (= by ورسره ) , gegenüber (= opposite مخامخ ) , mit (= with (د ) ... سره ) , nach (= after (پسې ) ,

seit (= since له ( د وخت پيل ) , von (= from () له ...( څخه) , zu (= to ( (و) ته(

پرېپوزيشن د اکوزاتيوسره prepositions with the accusative

bis (= until ترځ) , durch (= through ) , für (= for له پاره ) , um (= around) , gegen (= against شاوخوا) ,ohne (= without مخامخ) , entlang (= along بې) اوږدوالي (

- له: ،، له ،، کابل ترجلال اباد( پورې) . د له سره يو څه پيليږي او ،، تر ،، يې پای په ګوته کوي. د ،،تر،،بل هرځايکې راوړل ناسمدي، ناسم دي اوناسم دي.

- پرته (بې) : نن ټول کسان ميلې ته لاړل، پرته (بې) له سپين.

- وتلی: توپ له ميدانه وتلی.

سپين د خرابې لوبې له امله له لوبې وتل .

مخامخ: ماته مخامخ کس مې ملګری دی.

(د) سره: سپين سره کتاب زما دی.

پرون مې (د) سپين سره وليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره وروسته شننیز هم کتلی شی.

پسې یا وروسته: سپین له ما کور ته پسې (وروسته) راغی.

von (= from ) له ...( څخه) : له اتوبجو څخه وروسته مې کتاب ولوسته.

د ،، له،،له پاره په الماني څلور په شتون لري،چې زه خبرې نه پرې کوم. بل ځاي کې شته.

(و) ته نسبت : سپین ته زړور تیز بري. نسبت سپین ته زړور تیز برېښي. و سپین ته زړور تیز برېښي. نورهیې ستاسي خوښه چې څنګه یې سموئ اویا سمه ده؟

پوښتنه دا ،،(و).. ته،، د نسبت له پاره سمه ده او که څنګه.

prepositions with dative or accusative

an (= on پهauf (= on , (پ)ه (په) باندې in (= in , ( (په) کې über (= over , ( د پاسه unter (= under , (لاندې vor (= in front of , ( مخ ته = ) hinter (= ) behind وروسته zwischen (= between , (منځ (کې neben (= next , ( to څنګ ( کې)(

پر (په ) : کتاب پر میز پروت دي. زه په (پر) سرک روان یم.

پیزي په ( پر) کوټه باندې پروت دئ. کتاب په میز باندې پروت دئ.

(په)...کې : زه نن په کور کې یم. زه نن په کور یم. زه نن کورکې یم. (خبرې دې په وشي)..

د پاسه : نن د ښار د پاسه الوتکه تیټه والوته.

لاندې:ستا پنسلد چوکۍلاندې پروت دئ.

مخ ته : سپین ستا مخ ته ولاړ دئ.

شا ( ته): سپین ستا شاته ولاړ دئ. سپین ستا تر شا پورې ولاړ دئ. تر سره پورې شته.

منځ: د سرک منځ کې دربدل زیان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګ: سپین ستا څنګ ته ناست دی. ستا ترڅنګ ناست دی،هلته سم دی،که موخه ،،تر څنګ پوری،، وي.

prepositions with the genitive

له امله: زه نن د سپین د ناروغی له امله درس ته نه ځم.

ترڅ (کې) یا په ترڅ کې: زه د ښوونکې د خبرو (په) ترڅ کې له ټولګې ووتم.

پسې: د کتاب لوستلو پسې په خپلو ستونځو وپوهیدم، چې څنګه اوبی شي.

په ځای: زه نن د کرځیدو له پاره د پغمان په ځای بابر باغ ته لاړم.

سره له دې: زما په خوست کې کار وو. سره له دې چې زه خوست ته تللی شوم، خو موخه مې غزني ته تګ له امله بدله کړه.

wegen (= due to( له ) امله , während (= while/during ( ترڅ (کې) , infolge (= as a result ( پسې ) , statt (= instead ( په ځای ) , trotz (= despite ( سره ( له دې)(

Classification by meaning

د مانا سره ټولګیزول

Prepositions of place د ځای پرېپوزېشن

دا لاندې بیا څه تکراردی،خولوستل یې ماته اړیین برېښي.

پ او پس او حالتونه:

هر پ یا پس یو ټاکلی حالت غواړي، چې په هغې اړونده وی ( نوم،پرونومن ارتیکل(پیژندنخښه) ) ، باید وکارولشي.

په یوه نی (داتیو) د یوه موټر د خرابی له امله ( جنیتیو) بې د هغه له موټره (اکوزاتیو) له کار څخه کورته راغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ (کې) Zwíschen, between :
پسې ځاینیوی. په نورو ژبوکې (انګ.الم.) مخ ځای نیوی( پرې پوزېشن) دی.
۱ - د یو چا، یوه شي شتون د یوې د دوه پولو رابندې په نخښنه شوې فضا په ګوته کوي.
،، هغه هلته د خپل پلار اوخپل ورور منځ کې ولاړ دی،،. دا یوه بنده فضا ده ددوه کسانو منځ کې.
۲ – له دوه رابندوټکو دننه له یوڅه ( څخه) ،، د کورونومنځ کې واټن، د ټکو ،،ا او ب،، یوه غزونه په ګوته کوي.
دا منځ هغه هندسي یا جغرافیوي منځ یا منځټکی موخه نه دی

یادونه: مخځاینیوی اوپسې ځاینیوی یا د نومن او یا پرونومن څخه مخ ته اویا وروسته راځي او نه د مخ – یا پسې ځاینیوې سره څنګ کې، نو له دې امله د پسې ځای نیوي منځ (کې) سره څنګ کې نه راځي. له دې د پسې ځاینیوي ،، منځ (کې یا ته) ترمنځ چې بیخې ناسم دی اونه ،،په منځ کې)،ځکه ،،تر،، او،،په،، هم مخ ځای نیوي دي.

Die Mitte oder center

منځ: موږدلته بل بدیل نه لرو، چې بل څه یې ونوموو؟ دلته موخه هغه هندسي منځ یا منځ ټکی دی. دا پسې ځانیوی نه دی، دا ځای دی. دې ته دې تل پام، چې موږپه خبروکې له کوم منځ غږیږو.

د مخځاینیوي او پسې ځای نیوي مانا:

پ او پس یو ټاکلي نسبت یا ټاکلي اړیکې د دوه شي اړیکو منځ کې په نخښنه کوي. د نسبت د ډول یا رقم سره سم کیدی شي پ او پس په څلور بیلابیلو ټولګیو ووېشل شی:

یادونه:

ډېر پ نه ځانله یا ټیک یوه ټولګي پورې اړړه لري.دا کړی شي د اړیکو توپیرکیدونکي ډولونه افاده کړیشي یا وویلی شي:

ځایز Lokale: کاشغ- غابنی په الماری کې پرتې دي.

وخت اړوند Temporale: موږبه په ۲۰ دقیقوکې درشو(راشو؟)

مودال Modale :دا ډېر په بیړه وو

ځاییز:. هغه د ننوتونې( دروازې) مخ ته ولاړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت اړوند  : ته باید له مړی د مخه لاسونه پرېمینځې او که ته باید له مړی څخه مخ کې لاسونه پرېمینځې.

کوزال Kausale: هغه له قهره  تکشین وو یا بې ځانه وه

پ داسې هم کارول کیږي، چې ناشونی دی، دا له دې څلور ګروپونوڅخه یوه ګروپ کې راووستل شي یا ترتیب کړی شي. پ او پس نورې اړیکې هم په ګوته کوي

Präpositionen werden oft auch so verwendet, dass es nicht möglich ist, sie in eine dieser vier Klassen einzuordnen. Präpositionen bezeichnen auch andere Verhältnisse. Oft sind sie sogar „leer“, d. h., sie dienen nur dazu, Wörter syntaktisch miteinander zu verbinden. Dies gilt insbesondere dann, wenn die Präposition fest von einem Verb oder :einem Nomen abhängig ist

زیات وخت دا ،،تش،، دي، دا په دې مانا چې، دا یواځې په دې چوپړکې دي،چې ویونه سینکتیکي یود بل سره وتړي. دا په ځانګړي توګه هلته باورلري، چې پ اوپس په کلکه د یوه کړ یا نومن په واک کې وي.

یوچا ته انتظاربېدل
له یوڅه خبرې کول

د ازادی حق

یوچا سره مینه، پهیوه چا برګیدل یا په قهرېدل

دې لاندې ته مې همدا نن د اکتوبر اول ۲۰۱۸ پام شو

د پرېپوزېشنونو یا  وروستړو سره د پښتو ژبې ستونځې:

دا د انګرېزي ، الماني پ زموږ پښتو کې زیات یې مختړي په ځای وروستړي دي،چې که وخت پیدا شو سره بیل به یې کړو،که نه دا کاردې ګران لوستونکي وکړي.

منځ (کې)zwischen; between، څنګ (کې) ، شا (ته) او داسې نور زموږ ژبه کې وروستړي دي اونوروژبوکې لړ تر لړه الماني کې پ دي، خو موږ  د الماني Mitte او انګرېزي center ته هم په پښتو منځ وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرو: د ا او ب (په) منځ کې zwischen مینه( کینه،خپلوي...) ده.

د کورپه منځ کې in der Mitten...چینار ولاړ دي.

په پورته کې لومړی وروستړی دیاودا دویم ځای دی، نو دا ،،په،، په دواړوکې سم نه دی.دا چې،، په،، پخپله پ دی، نو د وروستړي ،،منځ کې،، سره دا ،،په ،،نه راځي،ځکه چې دوه مختړي یا ورستړي څنګ په څنګ نه راځي، نوله دې امله لومړی غوندله داسې لیکو:د ا اوب منځ کې مینه.....ده.

یا سپین د برګ څنګ کې ناست دی. ،،...په څنګ کې... نه لیکو.

یا سپین د برګ شاته ولاړ دی.(پام:زموږزیاتلیوالاند دې پورته سره ،، تر،، لیکي، چې نام دی.

زما د اکتوبرپه اول ۲۰۱۸ دې ته پام شو، ځکه ډېر ورسره بوخت یم. اوس دا تاسو ته مخ ته ږدم.

لومړی:

.Zwischen A und B ist die Liebe( freundschaft ......)

.(................) Between A an B is love

د ا او ب منځ کې مینه (ملګرتوب.........) ده.

دویم:

.In der Mitte des Hauses Steht ein Baum

...........center......

د کورپه منځ کې ونه ولاړه ده.

په لومړي کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Between ،Zwischenاو منځ کې د دې نورو ژبومځځاینیوي او په پښتوکې پسې ځاینیوی دي، نوله دې امله په پښتو کې ،، په،، منځ کې نه لیکو، ځکه چې دوه پسې ځای نیوي ښنګ په ښنګ نه راځي. او،، تر ،، خوورسره تیری هم دی.

په دویم کې:

center ،Mitte او منځ کې ځای دی، نوله دې امله پ ،، په،، ورسره لیکل کیږي.

هیله ده خبرې پرې وشي، ځکه چې دې ته مې تازه فکر شوی. دلیل ما راوړی،چې ولې. هیله ده تاسوبه هم دلیلونه د جملوسره راوړی.

center ،Mitte یا منځ:

اول:

الف : د یوه څه برخه یا ټکی، کوم چې له ټولو هوارو یا رابندو په برابر واټن لرې دی.

ب : وختټکی، وختفضا، چې له دوه بندپدیزونو ( پولو) نږدې برابر واټن لرې وي.

دویم: (سیاست) حزب، دلې د ښی او کیڼ په منځ کې.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

# نه دی، نه کوم، له خوا اوکه ندی،نکوم... څنګه لیکو؟

انجنیر صیب ستانه میر زهیر شینواری چې په م ک کې هم خورا هڅاند دی او زیات وخت پوښتنې رامنځ ته کوي، چې سړی یې و ځوابونو یا نوره هم ښه څیړنو ته را هڅوي.

پوښتنه نږدې داسې وه، چې: له خوا، نه دی، نه کوم، سره بیل بیل او که ګډ لیکل کیږي.

زه نه پوهیږم، چې په داسې موضواتو به خبرې شوې وي اوکه نه، خوپه هرصورت، دا د ټولوکاردی اوزه دا خپل اند له تاسوسره شریکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چې دا موضوع داسې ساده ونه نیسو او لږ یې سره وشاربو. وایي، چې له خبرو خبرې راوځي.

زه هم دې پوښتنې دې ته راوهڅولم، چې فکر په وکړم.

له دې د مخه ( ما لیکلي وو: د دې له مخه، خوزر مې ورته پام شو، چې دا ناسم دئ، نو سم یې له دې(څخه) د مخه دئ) چې د خپلې لیکنې موخې ته راځم، یو دوه وړاندیزونه:

۱ - کله چې موږ د داسې پوښتنو سره مخامخ کیږو او څه په لیکو، نو په هغه باید وپوهیږو.

۲ – داسې دلایل نه راوړو، چې ګوندې هغه یې لیکي اوکوم لیکوال یا پوه یې داسې لیکي یا هغسې، بې د هغه له دلیله، چې د موضوع د سمون له پاره یې راوړی وي، یعنې ولې ګډ یا ولې بیل. دا څرنګه لیکل یې هرومرو یو ژبنیز لامل یا ژبنیزه لار باید ولري، چې د هغې په بنسټ موږ اړ یو، چې هغه راوسپړو.

اوس خپلې موخې ته راځو:

باید و پوهیږو، چې دا څه شی دئ او موږ یې د ځواب یا څیړنې په هکله څنګه مخ ته ځو؟

موږ دا موضوع په دوه برخوویشو:

لومړی: نه دئ (ندئ)، نه کوم(نکوم)

دویم: دا له خوا او که لخوا دئ.

لومړي ته:

موږ د لته اړ یوچې دې لومړي ته دوه برخې ورکړو یا په دوه برخو و وېشو:

لومړی الف: نه والی، چې په نه سره ښوول – یا لیکل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ب : مخامخوالی یا که غواړئ تضاد، چې به نا سره لیکل کیږي

لومړي الف ته: ،، نه ،، د یوڅه یا یو وی نه والی ښایي لکه: ځم، نه ځم، دا هغه سړی دی، --- نه دی، هغه غلا کوي، --- نه کوي، زه هم غلا نه کوم.

دویم ب ته: موږ په ډېرو ویونو او په ځانګړي توګه خویونو مخامخویونه په نا سره لیکو او دا نا د هغه څه سره یوځای لیکل کیږي، لکه: هغه وي سره په نوکانو کې یې هغه مخامخ وی لیکو، لکه: سم ( ناسم)، روغ ( ناروغ) جوړه ( ناجوړه) [ جوړه اوناجوړه ته: هغه ګڼونه، چې په دوه پوره وېشل کیږي،جوړه ګڼونه دي او هغه،، چې پاتې یې ۱ راځي، هغه ناجوړه ګڼونه دي] جوړه ګڼونه لکه: ۴ ، ۱۲ ، ۱۸، ۵۰ اونور او ناجوړه ګڼوندي، لکه: ۱۱ ، ۱۵ ، ۲۱، ۱۲۳ او نور. نورې بېلګې:ارام( ناارام)، رښتیا( نارښتیا).

یادونه: دې ته باید په ګډه فکروکړو، چې نارښتیا اودروغ سره توپیر لري اوکه نه؟

څوک چې نارښتیا وایي ایا هغه هرو مرو دروغ دي؟

بله پوښتنه: ایا نه روغ اوناروغ یوڅه دي؟

داسې هم لرو: دا نه سړی دی او دا سړی نه دی، چې ترې پوهیدنه یې سره ډېر توپیر لري.

دویم ته: راځئ چې وګورو، له ځوا څنګه په خبرو کې کارول کیږي. زما، ستاءد هغه، ... یا د یو څه له خوا یو څه کیږي یا یوڅه سرته رسیږي. که زیر شو، نو د لته د یوڅه څخه یوڅه بیلیږي، چې دلته خوا ده، یعني د یو څه یا یو چا له خوا.

دا ،، خوا،، ادورب دی یعني یو څه یا یوشي څرګند یا ذهني ښایي یا په ګوته کوي. که ،، له،، ورسره مل شي، نوداسې د ویونوپرلپسې ترې لاس ته راځي، لکه د دولت له خوا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زما له خوا یا د دولت له خوا یا د بل څه له خوا وویل شي، نودا وینا نه ده اوڅه نه په ګوته کوي، خو که ووایو چې:

زما له خوا داسې وویل شو او یا د دولت له خوا داسې قوانین اینبول یا لیکل شوي، نو دلته یوه وینا بشپړه شوې.

دلته د وینا څڅه هم روښانه ده،چې دا ،،له( څخه ) دئ اودا یواړیکوی یا په دې حالت کې ،،څیرکومپوزېشن،، دئ. د اړیکوي له پاره په تاند کې زما لیکنه شته،هغه کتل کیدی شي. دا نوپه خټه داسې دي.

غونډالې داسې جوړیږي: زما له خوا څخه تا ته کتاب درکړل شو. د دولت له خوا څخه لارې جوړیږي.

ما د ،، له... څخه،، له پاره هم یوه لیکنه کړې اوهغه په تاند کې خپره شوې.

دې ته باید زړه تنګ نه کړو، چې ګوندې دا موضوع څومره وزېده.

هیله ده، چې په داسې څه به ګران لوستونکي هم خپل اند روښانه اوروښانه دلایل راوړي. ژبه همداسې پوره کېږي او همداسې وده کوي.

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

## د پښتو سره دنوروژبو زده-کوونکوستونځې:

ګرانو لوستونکو!

که ما دا لیکنه یو ساعت د مخه سرته رسولې وی، بل ډول به وی، خوداسې بیا د خوب ته تګ وروسته یا بیا خوب ته د تګ وخت کې ورته هکپک هم شوم او د لیکنې بڼې یا خوندیونې هم بڼه بدله کړه. زه دې کار ته لږ هکپک هم شوم، چې پښتوربښتیا په څنو برخو کې د نوروژبو سره پوره توپیرلري او غزېدلې ده، چې له دې امله د نوروژبو ویونکو له پاره یې زده-کړه لږستونځمنه ده.

زما دې خوب ته تګ کې فکر شو، چې زموږد پښتو غونډالو د کړنو د ډول سره څنګه نومځاینیوي بدلیږي؟

دا اوس لږروښانه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته به له سره داسې يوځه هم راوړو، چې زموږد نورو ژبو ياپه ځانګړې توګه درې ژبې افغانان ولې اوځنګه له پښتو سره ستونځې لري اودا ځنګه روښانه کولی شو، چې دا ستونځې اوبی کړو؟

زما دې ته پخوا فکرنه وو، ما غوښتل، چې په نومځاينيوو څه وليکم، نو دې ته مې راپام شو.

په نورو ژبو يا لږترلږه په درې اوالماني کې د کړوني له پاره په رول کې د راتلونکي-، تلوني- لنډ – او اوږد تير وخت له پاره بدلوننه راځي، خوپه پښتوکې دابل ډول دی، چې دلته لږرڼا په اچوو.

درې بيلګې به راوړو، بيا به خبرې پرې وکړو.

لومړی بيلګه: تلل

زه ځم.

زه به لاړ شم

زه لاړم.

زه تللم

زه تللی وم.

په دې بيلګه کړنه وخت-اړوند بدليږي او کړونی نه بدليږي.

د دا ډول کړنو ډولونه او کوموالی بايد وڅيړل شي اوروښانه شي، چې کوم او ځنګه بدليږي (ګردانيږي).

پوښتنه: په تلنه اوتک کې به څه توپيروي؟

دويمه بيلګه: ليدل، کتل، که دا سره په ګډه بڼه بدل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ګورم.......... زه وینم

زه به وګورم.... زه به ووینم

ما کتل .......... ما لیدل

ما وکتل........ما ولیدل

ما کتلي وو.... ما لیدلي وو

دا ښی او کین د دویمې لیکې وروسته سره بدلیدلی هم شي.

په پورته کړنو ،، لیدل،، او هم ،،کتل،، کې ګورو، چې دا د نورو کړنو غوندې بلدې ګرامري لارې نه لري، چې له لیدل څخه ګورم او کتل راځي. موږباید نورداسې بیلارې کړنو ویونه هم پیدا کړو او هغه ځانګړي وڅیړو.

پوښتنه: داسې ویونه په نوروژبوکې هم شته، خوهلته یې موخه سره بیلیدلی شي. پوښتنه دا ده، چې ایا ،، لیدل،، او ،،کتل،، همغه څه یا کتمټ دي اوکه څه توپیر سره لري؟

د دې روښانه-ونه راته لږ اړیینه برېښي او بیا دا لټول یا پلټل سره ځومره نږدېدي؟

دریمه بیلګه: غونډالې د کړنې، کړوني او (پرې) په کړوني سره.

بخښنه دې وي، چې د وهلوبیلګه راوړم، دا وهل موپه ذهن کې داسې کلک ناست دی، دا وهل او ...، خو اوس مې لیکلي اوبیایې سمون راته لږ ستونځمن برېښي.

دریم الف- د لومړي کس له پاره:

١ - زه تا وهم Ich schlage dich

٢ - زه به تا ووهم،خو Ich werde dich schlagen ,

٣ - ما ته ووهلې Ich habe dich geschlagen

۴ – ما ته وهلې Ich schlagte dich

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – ما ته وهلی وې  Ich hatte dich geschlagen

د پورته او لاندې درې تاسوولیکې، د وړاندیزونو سره

دریم ب – ددویم کس له پاره
ته ما وهې.

ته به ما ووهې.

تا زه وهلم.

تا زه ووهلم.

تا زه وهلی وم.

دلته نو کومه ژبلارده، چې لومړي کې یواځې کړنه بدلیږي او نومځاینیوی نه بدلیږي اوپه دې نوروکې بیا وخت-اړوند نومځاینیوي او کړنه دواړه بدلیږي؟ خبره څه کې یا چیرته ده؟

دا د نومځاینیووبدلیدنې له پاره هم کړنه ونډه لري یا د کړنې په غاړه دئ.

موږ دا بدلون د دې ډول کړنو په بنسټ کوو:

لومړی: کړنې، چې هغه یوڅه ته اړنه وي، دا په دې مانا، چې دا کړنې پرې کیږي، که ووایو، چې خپلواکې وي.

دویم: هغه کړنې دي، چې هغه یوبل څه ته یا د یوبل څه له امله دي.

لومړي ته: د دې کړنوبیلګې دي. تلل، بیدېدل، پاڅیدل. دلته یواځې کړونی دئ اود هغه کړنه.

دویم ته: د دې کړنو بیلګې دي: لیدل،وهل، اورېدل. دلته کړنی دي او د کړنو سره مل یو بل څه ونډه لري، که یاد یې شوی وي یا نه، په دې مانا، چې یوڅه به ګورې، یوڅه به اورې، یوڅه به وهې، که یو په -کړونی وي اوکه نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرې بلې ژبې کسان، چې پښتوزده-کوي،ستونځې يې په څه کې دي؟

دا خبره مو پورته ځواب کړه، چې په پښتو کې ګړن-اړوند نومځاينيوي هم بدليږي.

په پورته کې ګورو، چې د پښتو د نومځای نيوي کاروني سره پوره توپير لري.

داسې لږ څه ګډې وډې به راشي:

ګورو چې د الماني نومځاينيوو کې بدلون نه دی راغلی يا نه رځي، خو په پښتو کې

ګورو، چې په راتلونکي او تلن وخت کې د کړوني اوپرېکړوني رول د لنډ - - اواوږد تير وخت سره توپير لري اوپه نوروژبو يا لږتر لږه الماني اودري کې داسې نه ده.

دا هم بايد په ګوته شي، چې د کومو کړنوله پاره.

د هرڅه د مخه بايد په ياد ولرو، چې هرد بلې ژبې زده-کوونکی(ردکوونی) خپله لومړی ژبه په دويمه ژبه ژباړي. هغه غونډالې، چې دوی په دويمه ژبه وايي، د هغې له پاره دا غونډاله په خپله ژبه لږترلږه په فکر کې وايي اوبيا يې په دويمه ژبه اړوي. دا کار تر هغه وخته کيږي، چې دويمه ژبه هم ښه زده شي اوپه ژبلار يې هم ښه وپوهيږي يا د غونډالو جوړولو په لار.

تل په فکرپسې فکر راځي: کړل کيدل دي او که کيدل؟؟؟ يوه کړنه ده، چې کړونی يې نا څرګند دی او په يو چا څه کيږي. ايا دا په-کړونی دی اوکه څنګه؟ ووهلم؟ دلته زه وهلکيږم  دلته وهل کيدل اووهل، دا هم بيا بله لار ده، چې يوه څه کيږي او يو څه کيدل کيږي، دې ته هم بايد په کړنو کې پام وشي........

زه ليدل کيږم. ته ليدل کيږي. زه ليدل شوی يم. دلته بيا ټاکلی کړونی نه شته.

يادونه: دا ما ته نه دهروښانه چې زه دلته په کړونی دی اوکنه.

نوايا دې ته اړيو،چې په  پښتوکې د ليدلو او کړلوتوپير  هموکړو،که څنګه؟

ايا دا کړنه او کيدنه په نوروژبو او پښتو کې څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الماني او همداسې په فارسي کې دوي باید داسې ووايي. دوي فکرکوي، چې ګوندې په ټولوغونډالډولونو کې د کړوني له پاره د درې ،، ما،، له پاره زه راځي، خو داسې،

۳ ـــم يو : زه تاته وهم

۴ ــ م يو : زه تاته وهلی یم

دا ځکه چې دوي دا څه له خپلې ژبې پښتوته را اړوي.

د پښتو پوهانودنده: دوي باید دا روښانه کړی شي او لارې چارې يې سمې روښانه کړی شي. دې تغیرته باید دوي له پیله پام وکړي او دا د پښتو زده کوونکو ته له ښوونځي روښانه کړي.

ګران لوستونکي به راته دا بخښنه کوي، چې زه ددې لیکلو څه یادونه کوم. دا به یا د مخه روښانه او لیکل شویوي او که نه، نو ما لږ ترلږه دا لارورته پرنیسته.

دا هره موضوع د يوه پوهنيز كار ليكنه ده، چې پوره روښانتیا ته اړتیا لري او دا هم ښه روښانه شي، چې دا د بلې ژبې کسان دا څنګه اسانه او ښه زده-کولی شي.

یادونه: دا بدلونونه باید دښوونځي نصاب کې راشي او د نورو ژبورده-کوونکوله پاره باید له پیله دا بدلونونه په ګوته شي، چې هغو همغه له پیلهورته پام اوبلد شي، خو:

دا باید له پیله ټول وڅیړل شي او ژبلارې ته د ژبلارې له يوې لارې برابرشي، چې د خپلې پوهې برسيره، نورهم ښه پرې وپوهول شي.

ډاکتر ماخان میرړی شینواری

# ګڼونه په شمیرنیزه ښه او په تورو لیکل.

یادونه: د دې نامه لاندې مې يوه ليکنه ولوستله، نو له دې امله دا لیکنه.

موخه ترې ګڼونه په ادبي او نور  لیکنو کې څنګه لیکل کیږي، ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یوه لنډه ننوتنه.

ما دا اوس هم پرته له سلنې، چې ناسمه ده، د لیکوالانو زیاتو لیکنو کې د ګڼونو لیکلو سره یو ډول نه یو ډول ستونځې ولیدلې، چې له امله یې غواړم د یوه مسلکي په څېر دا لو روښانه کړم.

یادونه: که رښتیا درته ووایم، زه پهډې درجو او طبقو نه پوهیږم، خو موږ، چې د ګڼونو ځومره والی غواړو راته څرګند کړو، نو د هغې کورونو ره سر او کارلرو، چې دا یویز، لسیز، سلیز ، زریز او اداسې نور دي.

موږ په شمیرپوهنه کې د دوه ډوله شمېرنیزو کارونو سره سر او کار لرو. ګڼل او شمیرل.

یادونه: موږ د ګڼلو کارونه له پام غورځولې او دې ګڼلو ته شمیرل وایو، چې دا به په همدې لیکنه روښانه کوو.

پیل:

١ – ګڼل: د ګڼلو د وي سره موږ له همغه کلې بلد یو، وایو چې دا خلک و ګڼه چې څو دي یا

دا پیسې وګڼه!

د ګڼلو سره موږ دوه څه روښانه کوو:

الف: د یوې لویې څو – یا څوموالیوالی

د ګڼلو دنده: ............ څو منه، ـمتره،-ساعته

لومړی: د څه ټاکلو غوښتونو شیانو د څووالي، څوموالي او څومره والي ټاکل دي

دا په څه کیږي. په دې کې شیان ګڼل کیږي او دا په ګڼونو کیږي.

ګڼونه (پیداښتي -):٠ ١ ٢ ٣ ۴ ۵ ....١٠٠ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستل: یو، دوه( دوې)، درې، څلور، پنځه، ....

لومړی الف: لکه په یوه لوښي کې د منو ګڼل (شمیرل نه لیکو، وروسته یې روښانه کوو)، چې څو منې دي.

لومړی ب: د شیانو څوموالی: لکه په یوه لیکه کې ولاړ کسانو یو ځانګړی سړی د بېلګې په توګه سپین څوم سړی دی، چې له ګڼلو وروسته روښانیږي، چې د بېلګې په توګه سلم سړی دي یا سلم ځای لري یعني سلم دی ( هیله ده، چې د سلم په ځای د سلن ناسمون به مو اوس سم کړی وي).

په ترتیب داسې لیکو:

۱ – م، ۲ – م، ۳ – م ، ۴ – م، ۵ – م ، ....، ۱۰۰ – م (نه ۱۰۰ - ن)

یوم(لومړی) ، دوهم ( دویم)، دریم، څلورم،پنځم، ....، سلم(نه سلن)

یادونه: په پورته کې که دوه وي، نودوهم اوکه دوې وي،نودویم دی. دریم سم دی. زموږ ځنې لیکوالان یې په دوه اوځنې یې په درې بیګانو لیکي،چې ناسم دی.

ګڼل. د یو څه څووالي اوڅومره والي له پاره هغه څه ګڼو، چې کړ یې ګڼل دي او هغه څه چې پرې ګڼو یې هغه ګڼونه ( یو یې ګڼ) بلل کیږي.

شمیرل: ګڼونه چې د کړنو یا د ښېلوننخښنو له لارې سره ونښلي یا وتړلشي، لکه زیاتون(جمع)، کمون، ځل اونور، دې ته شمیرل ویل کیږي.

موږ د ګڼونویا عددونود لیکلو له پاره کورونه ( کوټه ګی یا ځایونه) لرو، چې هغه څنګه لولو بیایې همهغسې لیکنه هم ده.

موږ د ګڼونو له پاره (ارزښت ) کورونه یا ځایونه لرو، چې لومړی کور یا ځای کې له صفر تر نه ولیکل کیږي او له دې امله دا ځای یویز بلل کیږي. دویم ( ځای ارزښت) کور یا ځای لسیز بلل کیږي، چې په هغه کې، که نور ګڼونه پسې را نه شي یا بل ځای ونه لري، نو ۱ څخه تر نهه( ۱ – ۹ ) په کې لیکل کیږي او لس، شل، ...،نوې ځایارزښت لري، نوله دې امله د ځای ارزښت له مخې دا داسې ګڼو:

یویز، لسیز، سلیز، زریز او ... کورونه لرو چې ارزښتځایونه هم ورته ویلی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيلګه: ۶۱۸ دا شپږ سوه اتلس لولو، چې همدا يې ليکنه ده.

په پورته کې د سليز کور کې شپږ،د لسيز کور کې يو او د يويز کور کې اته دي.

مات يا کسر:

که ولرو: ۸/۳ لولو:درې پر(په) اته، يعني له اتوبرخوڅخه درې برخې يا د يوه يوون ( واحد،چې ناسم دئ) څخه چې په اته برخو ټوټه شي، درې برخې واخلو. دا داسې لولو: درې پر اته،چې همدا يې ليکنه يا ليکبڼه هم ده.

که د چا پيسې زياتيږي، نوواېي، چې پيسې مې دوه برابر يا يونيم برابره يا درې برابره شوې. دا چې ځوک يې ناسم واېي، د هغې ناسم ويلو يا بللو له پاره، نو موږپه ژبه کې کومه لار نه لرو او نه برابروو.

لسميز يا عشاريه:

که ولرو: ۳.۰۸۲ نو دا داسې لولو: درې لسميز (عشاريه) صفر، اته دوه او همدا يې ليکنه هم ده.

موږ په تورو د ګڼونو د ليکلوسره ستونځې نه شو لرلی، دا يوه پيداېښتي پروسه ده اودا زموږ په ژبه کې هم لرو.

که ولرو: ۶۳۵.۸۰۴ نو دا په سليز کورکې شپږ، په لسيزکور کې درې په يويز کور کې پنځه لري او په لسميز کور اته په سلميز کور کې صفر اوپه زرميرکورکې څلورلري اوداسې يې په تورو ليکو: شپږسوه پنځه دېرش لسميز اته، صفر، څلور. ګورو چې په کوم ځای کې په تورود ليکلو سره ستونځې نه لرو.

په سلنه مې يوه ليکنه کړې، چې ناسمه ده او سمه يې سلمه ده.

لنډ بيا د پام وړ: موږهر ګڼ بې له کوموستونځو په تورو يا د توروسره ليکلی شو. څنګه چې يو ګڼ دئ، نو همهغسې يې ليکو.

ګران ليکونکي دې پوره پام وکړي، چې د پيداېښت سره په خپلو ليکنو کې ځان د مخامخوالي سره مخامخ نه کړي. زه دلته درې ګڼونه په ګوته کوم، چې له پيداېښته څنګه دي، نو ولې يې بيا بدلوو؟ موږ ل دې امله دژبې سره بوخت نه يو، چې يو څه نويوالی مو راوستی وي. ژبه هغ په خپل پسداېښتي جوړښت کې نويوالي ته اړتيا نه لري او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې د نویوالي اړتیا لري، هغه بیا پیداښتي د ګڼونو اړوند څه نه دي، هغه بیا چې نوي څه ګڼونو کې راځي هغه دی او باید سره بدل وي.

بیا: دریم په دوه یا دری یېګانو یعني دریيم او یا درېيیم، لیکل همداسې ناسم دي، لکه چې د سلم له پاره د سلن لیکل.

ستونځې لرو او دا هره ژبه، خو د هغو ستونځو سره موږ له پیداښته بلد یو او دا بیا بلدې ستونځې دي او وي به او موږ به همداسې ورسره بلد پاتې شو.

# د ژبو پیدا ښت، چې غبرګې پیدا شوي:

د ژبوپیداښت:

زه ژبپوه نه یم، خوداسې په اند یم - په دې هکله مې په ن ج کې هم د پوهیدلو هلې ځلې وکړې، خو اند مې همدا پاتې شو-، چې په ژبه پوه یم او دا اند تاسو سره ګډوم:

د پیداښت څخه ټولې ژبې یو د بل سره غبرګې دي. که په انګرېزي کې until ولرو، نو د پښتو انډول یې ،، تر،، دی. که موږ وغواړو په ،، تر ،، ښه وپوهیږو اود کاروني ځای یې راته ښه څرګند شي، نو د انډول لکه until یا د الماني bis د کتنې څخه ګټه اخستلی شو. دوی په خپلوژبوکې ډېر کار کړی او هر څه یې څو لسواره څیړلي. څنګه چې د یوه څه، وخت یا ځای پای په ګوته کوي، په همدې ډول ،، تر،، هم، چې دا یې یواځې او یواځې د کاروني ځای دی او بس. همداسې دا ،، تر،، باید د ،، له،، او همداسې د نورو ځایناستی نه شي.

یو څه چې پیلیږي، د هغه له پاره ،، له ،، راځي او یوڅه چې پای په ګوته کوي، د هغې له پاره ،، تر ،، راځي، یود بل ځای ناستی باید نه شي.

بیا یې تکرار.

دا د نړی ژبې چې منځ ته راغلي یو د بل سره غبرګې - په همغه وخت یا یوپه بل پسې - د همغو یا ورته ستونځو په هکله منځ ته راغلي، یعني د ژبو په منځ کې یو غبرګون یعني موازیت Parallelity شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره ژبه کې د هغې بلې ژبې د وی(لغات) لپاره انډول یا برابر او که غواړۍ معادل وی یا لغات شتون لري او که نه نو انډول یې یا د بلې ژبې رانیسي او یا یې په خپله ژبه کې په مناسب ډول ورته دا انډول پیداکوي.

که یو وی (لغات) ورځنی نه وي یعنې کورنی شوی نه وي او غواړو پښتو یې ورته پیدا کړو، نو د نورو زده او پرمخ تللو ژبو څخه په همغه موخه یا برابر دا په پښتو کوو.

لکه د بیلګې په توګه زموږ د کار مسؤولو لیکوالانو د عربي ،،مایع،، په اوبلن ژباړې یا مایع یې اوبلن بلله، چې دا ژبې سره تیری دۍ اوله مسلک سره خوهیڅ بلدتیا نه شته. په هیواد کې یې واورې هم شته او په دې هم پوهیږي، چې د شیانودا ټولګی بهیږي او دوي یې د خپلې ناتوانی سره اوبلن بولي. دا نور د اوبلن لیکنه کې روښانه دۍ.

په دې لاندې څیړنه کې ځان داسې لږد ګرانولوستونکود جنجال سره مخامخ کوم، چې اړیین راته بریښي. ( مخ له مخه دې راته بخښنه وي.).

که یو څه دې له بلې ژبې څخه رانیولي وی موخه ناسمه شوه، نو وی، خوي اوکه نوم وي نو هم بیا ناسم دی. د بیلګې په توګه، که موږ مو په هیواد کې لا تراوسه ( پورې) شفاخانه یا بیمارستان یا د الماني Krankenhaus نه لرودی یا تراوسه نه وی نومولی، نو د دې لپاره به موږ هم په پښتو کې د ژبې په بنسټ او سم اندیز اړونده نوم لرودی یا ورکولی، دا چې دا د ناروغانو ځای دی، نو موږ به دا ناروغتون بللی وی. یا دا چې دا د شفا ځای دی، کیدی شي رغنتون مو هم بللی وی.

دا نوموني موږ له دې د باندنی ژبو څخه نه رانیسو، بلکه دا زموږ په ژبه کې همداسې دي یعنې ناروغ لرو او د ناروغ لپاره باید ځای ولرو، چې دا به ناروغتون شوی وی،. زموږ مشرانو دا په هغه وخت کې دا د روغانو ځای نومولی. دې ته دې پام وي، چې په ولس کې مو په پیداښتي یا طبیعي ډول داسې نوموني نه شته. که دا زموږ د پوهانو کار نه وي او په ولس کې منځ ته راغلی وی، نو باور وکړي، چې دا به د ناروغانو ځای یا ناروغتون او یا رغنتون بلل شوی وی، خو دا زموږ د لیک لوست خاوندانو د شفاخاني او بیمارستان په ځای نا سم لیکلی یا راوړي.

داسې څه، چې نا سم ونومول شي، نو بیایې سمه ونه ډیر زور غواړي. له دې امله باید وهڅیږو، چې هغه څه هغسې ونوموو، چې څنګه دي یعنې د نوم څخه موخه یا شی باید روښانه جوت شي یا نوره هم ښه نوم باید له خوي څخه روښانه وي.

یوه بله بیلګه: زه چې د کورنیوچاروزارت کله کله خبروکې وایم،نوزه ورته تلد،،دننیوچاروزارت،،وایماودا ځکهچېد کورنیوچاروزارتد کورنیوچارودندهباید په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه ولري اود ،، ننني‌وچاروو‌زارت،، د دنننيوچارو دنده په غاړه لري. زه نهپوهيږم،چېموږد کورنيوچاروو‌زارت څه بولو؟

بيا وايم: پښتانه چې څه ژبې ته را ننباسي بايد دليل يې راوړي. د کومې ژبې په پښتو کې راننوتي څه چې په پښتو کوو، نو په هغه پردۍ ژبه هم بايد پوه وو او بيا لږ تر لږه په هغه وي(لغات) موخه باندې هم له هره اړخه بايد وپوهيږو.

داسي کيدی شي، چې يو څه يا يو شی يوه ځای کې وی په يوه بل ځای کې نه وي، ځکه چې هلته به يا دا ستونځې نه وي او يا دا د شيانو څرګنديدني، نو بيا د بل ځای نوم بايد وکاروو.

کيدی شي، چې يو څه په بيلو بيلو ځايونو کې په بل نوم نومول شوي وي، چې دواړه يې سم دي او دا په ټولو ژبو کې داسې شته.

بله بيلګې

د دننيو چارو وزارت ته د کورنيو چاروو‌زارت وايو، چې ناسم دی.

بله بيلګه:

له سلو ديرش له پاره اوس زموږ ژورنالستان په ډېر ناسم ډول دېرش سلنه کاروي، چې د ژبې تخريب دی. دې ته تل دېرش سلمه ويل شوی او همداسې يې ژبنۍ او شميرپوهنيزه بلل هم دي، ولې نو دا د نږدې شلوکالو راپه دې خوا سلنه شوي؟ اونورو هم په همدې ناسم ډول خپله کړې؟

دا په خپل اړوندځای کې روښانه شوي.

**بله بيلګه يې: د ستاندار يا معيار لپاره په پښتوکې نوم نه لرو، نو موږ ورته بيا په پښتو کې نامناسب انډول ګورو، چې په رښتيا کې بل څه دی( په بل ځای کې خبرې پرې شوې.**

# ليکنې مې ځانګړې دي

له پيله يوه اړيينه يادونه: دا څه چې ما ليکلي، دا مې له الماني ژبې څخه رانيولي او راټول کړي، دا په دې مانا، چې زه نه دومره هوښيار يم او نه دومره پوه، خو يوه وتلې ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماني مې زده او د هغې په مټه او ليکنو مې ليکنې وداني دي. دې ژبې راته دا توان هم راکړی، چې د پښتو ناسمونونو ته مې پام را اوښتی او سمونونه يې د دې ژبې په مټه کوم.

بسې:

په دې کې خو زه هم کوم شک نه کورم، چې ليکنې مې ځانګړې دي او په ډېرو ځايونو کې ان ترديې، ستاسو د ليکنو مخامخ دي، خو تراوسه مې دا اند دی، چې د ژبلارې سره بېلارې نه دي.

زما په ليکنو کې د هغه پوهنيز څه شننو او څېړنو پرته کوم نومونه يا نور ويونه ما نه دی جوړ کړي، هغه څه چې دي، هغه مو په زبه کې شته. دا چې موږ په ښوونځيو کې څه لولو او نه پوهيږو، چې ترې پوهېدنه به يې څه وي، نو د دې پوښتنه هم نه کوو، چې دا به نو په پښتو څه وي او ونايي، نو هغه ښوونکی او يا بل پوه يې هم نه پوهيږي، چې څه ترې پوهېدنه لري.

موږ تراوسه- دا په خواشينی وايم- پوهنه هم خپله کړې نه ده، دا مو له نومونو سره راپور کړې، دا په داسې ترې پوهېدنه، چې فکر پرې نه کوو او يا نه شو کولی، چې د بېلګې په توګه دا کره چې لولو وايو، دا بهنو پهپښتو څهوي.

هغه څه چې ما دژبې په توان اندول نومولي، دا همداسې ده او په پښتو کې ورته بل څه نه شو ويلی. دې ته مو فکر نه دی کړی چې پښتو هم همداسې يوه ژبه ده، لکه دا نورې ژبې. په نورو ژبو کې چې څه وي، هغه زموږ په ژبه کې شته، خو ميندل يې د لومړي ځل له پاره داسې لږ ستونځې غواړي.

موږ چې کومه پوهنه راپور کړې، نو د هغې هغه خونديونه مو راپور کړې، هغې نومونه مو راپور کړي او خپل نومونه يا و يونو ترې پوهېدنه مو راته پردي يا نا بلد دي.

که د کرې په ځای غونډوسکه يا غونډاری ووايې، نو هغه ناست لوستي کسان درپورې خاندي.

له همدې امله ده، چې که اوس زموږ ژبپوهان له عربي زموږ له پاره ورځني کوم نوم له پاره پښتو نوم غواړي پيدا کړي، نو هغوي دا کار بې له دې کوي، چې د هغه نوم په خوي ځان وپوهوي، په دې هکله مې ليکنه شنه، چې،، پښتو ناسم راننباسلي نومونه،، سر ليک لاندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره به نه اوږدوم، اوس به راشم هغې خپلې موخې ته، د ښوونځي لیکنې ځنګه دي او دا زما لیکنې، چې له دې امله ځانګړې دي.

د ښوونځي له زده کړې زدکړې په بنسټ به ولیکو :

په دایره کې تعریف شوي د داېرې توکي:

داېره، محیط، سطحه،قطعه،قطاع،قطر،قوس،وتر.

دا د ښوونځي نومونه دي، خو زموږ لوي او واړه نه پرې پوهیږي او موږ هم نه پرې پوهیږو، چې دا به نو څه وي، خو په هغه ځمککچپوهنیز پېژند يې پوهیږو. په مثلث نه پوهېږو، چې په پښتو څه ترې پوه شو.

دا پورته عربي نومونه که واورو، نو نور پرې نه پوهیږو، خو دومره پوهیږو، چې دا په یوه یا یوه پوهنیزه ریښه اړه لري. له بلې خوا دا موږ ته هغه له پیله ځکه ورځني او بلد برېښي، چې لیکلوست مو په دري کړی- لږ تر لږه هغو پخوانیو- او دا نومونه راته بلد دي یا د دې نومونو سره بلد یو. دا چې په هغه وخت کې او اوس هم زدکړې او لا تراوسه هم په پوره توګه په عربي یا دري دي، نو پښتو ته يې چا فکر هم نه کاوه، ان تردې چې هېڅ چا به له ښوونکي پوښتنه هم نه وي کړي، چې ایا د بېلګې په توګه دې کرې او مثلث ته په پښتو هم نومونه شته او که نه او همداسې يې په پښتو انډول کې ښونکو هم فکر نه دی کړی..

ما د دې په پښتو نومونه میندلي – دا په دې ترې پوهېدنه، چې ما نه دې ټاکلي او نه يې د ټاکلو توان لرم او نه په دې هکله د شپې خوب ګورم، چې د راپاڅېدو سره سم مې بیا نوم ورته پیدا کړی وي- او هغه دالماني ژبې په مرسته. د داېرې له پاره به داسې ولیکم یا مې داسې لیکلي:

ګردی، چاپېریال، هواره، ټوټه، برخه، ټوټووني، وړانګه، نیمی.

که دا د لومړي ځل له پاره واورو، خو ورسره بلد یو، د خپلې ژبې نومونه مو دی، خو که ووایو، چې دا په ځمککچپوهنه کې راځي، نو بیا به ورته هکپک، ځکه شو، چې هغه ورسره بلد ځمککچپوهنیز نومونه نه دي.

که د دې هغه ځمککچپوهنیز پېژند ورکړ شي، نو بیاله چا نه هېرېږي، خو دا به دا اوس هم دموږ له پاره څومره هکپک کوونکی وي.

راځئ چي یو څه له یوه بلې ریښې هم راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په یوه مرطبان کې یو ممبران نصب ( که نسب) کړو او د ممبران یوه طرف ته یو د مالګې رقیق محلول واچوو او بلې لور ته یې غلیظ محلول، چې دا رقیق محلول مشبوع هم وي، نو دلته به دا د اوبو حرکت له رقیق محلول څخه د غلیظ مشبوع محلول په طرف وي.

ګورئ، چې دلته به د پښتو په کې څه وي؟

پرته له هغه ترنویونو به نور څه په کې په پښتو ونه ګورو.

یوه یادونه دې همدلته وي: که چېرې همداسې مونږ دا پور شوي ویونه وکاروو، نو لرې نه ده، چې همدا به مو د ژبې نومونه وګرځي او د پښتو انډول به نور خپله د ورکېدو لار ونیسي.

راځئ چې اوس دا په پښتو ولیکو:

که چېرې په یوه بوتل یا ساده یې لوښي کې یوه پرده کېږدو او د پردې یوه لور ته د یو نرې ملګوبې واچو او بلې لور ته یو موږ تینګ ملګوبې واچوو، نو د اوبو خوزښت به د نري ملګوبې څخه د ماړه تینګ ملګوبې په لور وي. دې باندې به ګوره هغه کلیوال پښتون هم پوه شي او زده کړه به یې هم اسانه وي، ځکه چې په لومړي پېژند کې خو باید محلول، رقیق، غلیض، مشبوع هم زده کړې و دا پوره ستونځمن نومونه دي.

زه په مشبوع هلته پوه شوم، چې په کوم ځای کې مې په لیکلو دا نوم راغی، چې له الماني څخه مې یې بیاپه پښتو انډول ومینده.

# زما لیکنو او ژباړو ځانګړنوالی:

لومړی: ما چې نږدې څلوېښت د شمېر پوهنې کتابونه په پښتو لیکلي، ما هڅه کړې، چې هیڅ یو نوم هم جوړ نه کړم او دا نومونه مې د پښتو ژبه کې میندلي او شته. دا دې ځانله د شمېرپوهنې مینه وال نه، بلکه د پښتو مینه وال هم وګوري، چې د ژبې له مخې څنګه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: ما درې د فزیک کتابونه هم ژباړلي او هغه هم د هرڅه سرهپېښتو دي او دا هرڅه پېښتو کې شته، د کېدوني یا شوني پولې پورې.

دریم: ما شپږ او که د مخه ور سره کړو نو اوه کتابونه او څو مجلې په پښتو لیکلي، له ډلې یې یو د فلسفي کتاب ژباړه ده، چې ماته په زړه پورې برېښي او هرو مرو به د نورو ژباړو او لیکنو سره پوره ډېر توپیر ولري. په دې مې دوه دمخه چې لیکلي وو، هغه مې پوره وغزول، نو له دې امله دوه غزول شوي دي.

په دې کتابونو کې د ګرامر کتاب لا تراوسه ن ج ته نه دی پورته شوي، خو د ټولو لیکنې د تاند او د دعوت درنو خپرونو کې لا د مخه خورې شوي، چې ګرانو مینوالو به لوستې وي.

د پښتو په لار کې د ګرامر لیکنې، چې د الماني ژبې په مټ مې کړې، هم ماته دپام وړ برېښي، خو هغه زه یې چې دګرانو لوستونکو څخه د لوستلو هیله کوم- سره له دې، چې دا به هم تاسو د مخه هم په پورته یادو درنو خپرونو کې لوستلې وي – چې دا بیا هم ولولي.

دا د ،، په پښتو کې ناسم ننباسل شوي ویونه،، کتاب دی: دا لیکنه ـ په ډېره بخښنه – ستاسو د ټولو په مخامخ یوه لیکنه ده، او دا ویونه، چې ما په پښتو ناسم بللي، دا نږدې زموږ ټول لیکوالان لیکي، نوله دې امله

هیله: ګرانو ژبپوهان او ژبمینوالو! زه په دې لیکنو سوچ بوچ ځانله یم. دا بدبختي او دا نامنندویه دنده لوي ښتن یوائې زما په برخه کړې. د کتاب په سر کې مې لیکلي، چې: که چا راته دا وښووله، چې دا دې ناسم دی، نو له ما څخه دې د ډاکترۍ شهادتنامه واخستل شي، که نه د پښتو ژبې ډاکتري دې راته راکړي، چې بیا دا دومره هڅې په دې ارځي.

زما هیله له ټولو لوستونکو بیا په ځانګړې توګه ژبپوهانو څخه دا ده، چې زما لیکنې ولولي او ماته بیا له هغې وروسته په ګوتنیونې ډول خپل اند وواېي یا ولیکې. که دا ساده نیسی، نوزه به داسې ترې وپوهېږم، چې یا مې لیکنې بې ارزښته دي او یا تاسو دې لیکنو ته پوهنیز ځواب نه لرئ او خولهپه پټوئ، چې په دې حالت کې بیا دا پوهنیز اخلاق نه دي او هرومرو به پېره یاستی.

ډېره بخښنه غواړم، چې ځړه ژبه مې وکاروله، خو ځان راته په حق برېښي او یا یې تاسو راته داپهڅېټ یامخامخ وښایاس. بیه هم په بخښنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان علومو اکادمي پښتو څانګې محتورم رياست او لږ تر لږه د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي محترم رياست ته په ډېر درنښت.

موږ د ولس په ژبه يا مو ولسي څه ته زيان رسول، که د هر چا له لورې وي، بابيز ګورو اونيسو، خو که زموږ ځانيز زيان په کې وي، نو بيا دزيانرسونکي سره له مريو نيسو.

هرڅوک چې ناروا کوي او دا د ولس سره نو زموږورسره په ښتکړنه نه شته. له دې امله زه غواړم، زما په تن، بدن او اند د دې کار سره لږ تر لږه په داماته په زړه پرته مسئله کې د پای ټکی کېږدم، له دې امله دا ليک:

د افغانستان د علومو اکادمي پښتو څانګې او د افغانستان د پوهنتونونو د پښتو پوهنځيو محترمو رياستونو او په ځانګړې توګه د کابل پوهنتون د پښتو پوهنځي محترم رياست ته په خورا درنښت غواړم خپله غوښتنه په لاندې ډول وړاندې کړم:

ما ستاسو او زياتو پوهانو له خوا ليکنو کې ناسم ويونه راټول کړي او په هکله مې ليکنې د تاند او دعوت او نورو زياتو خپرونو کې خورې شوي او همداسې مې د ،، پښتو ته ناسم راننباسل شوي وينه،، د سرليک لاندې، چې دا ټول ناسمونونه مې هلته رايوځای کړي، خپور شوی. دا ژبه زما م هم ده او حېږم، چې ناسمونونه يې په ګوته کړم او مسئول يې سمون ته راوبولم، که داهرڅومرهستونځمن کار هم وي او يا دا چې زه د دې خپلو داسې ليکنو سره ستاسو د ليکنو له امله له تاسو سره تېری دی، چې تاسو يې هم بابېزه بايد ونه ګڼی او زما د داسې کړنو مخامخ بايد ودرېږی، ما پوهنيز محاکمه کړی.....

زه په تاسو دا دعوا کوم، چې يا مې دا ستاسو ناسمونونه، چې ما سم کړي ومنی او يا زما د ليکنو په ناسم ښودلو راته کلکه سزا راکړی. يو ځل بايد وښايو، چې څوک موږ ته په ناحق وبلو او نا حق ملامتولو نه پرېږدو.

## زما جزا: شهادتنامه راڅخه واخلی او يا د پښتو ډاکتري راکړی.

## د ډاکتر ماخان ميرې شينواري کتابونه يا ژباړې او ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې څلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی، لکه په دې نورو لیکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ویونه د څېړنې لاندطې نیولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

زما زیاتي لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

## د ډاکتر ماخان شینواري چاپ او ناچاپ لیکنې:

Vienna (Austria) 1988:

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact topological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

Vienna (Austria) 1987:

دویم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی- Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

دویم- *Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria*

لاندې د شمیرپوهنې پښتوتول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

:Bonn (Germany) 2000

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

:Bonn (Germany) 2003

څلورم: څمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالې شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

:Bonn (Germany) 2003

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

:Bonn (Germany) 2003

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)

:Bonn (Germany) 2003

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

:Bonn (Germany) 2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی)
( ketabton:com ته پورته شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

*Mathematical Formulas*

:Bonn (Germany) 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:Bonn (Germany) 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

: *Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوې دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازمویښنې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم - د احتمالوالي شميرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصايه يا ستاتيستيک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې كتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لكچرونو څخه چي د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – كرښيز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شميرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

يوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ويشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درويشتم – وكتور شميرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

۱۳څلرويشتم – له grundstudium.info/linearealgebra/www. څخه:كرښيز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځويشتم – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه يا د اعدادو تيوري( ketabton:com ته پورته شوی)

Bonn (Germany):

شپږويشتم - د شميرپوهنې ستر كتاب دويم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغيراتو سره : دا كتاب د شميرپوهنې برخې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونكو او زدهكوونكو لپاره پوره ګټور دی. په كتاب كې د اړتيا سره زياتونه او كونه راغلي ( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - ځمکګچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرئ پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزي پښتو او عربي + دري ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو ویيونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

نوري لیکنې، چې په ژباړه یې پیل شوی، خو لا پوره نه دي

څلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر-

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته هم زيات تمرينونه د حل يا اوبيوني سره په کې راغلي او ماته زيات ګټور برېښي) او دالاندې د برينکن څخه راژباړلي

يوځلوېشتم - فزيک لومړۍبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزيک دويمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

دربځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شميرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب يوې برخې ناسمونونو ته ګوته نيول شوې او ناسمونونه بيا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

ځلورځلوېښتم – د فزيک کوچنۍ ويونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن يا اړيکويونه.( ketabton:com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ويونه، چې سم شوي دي)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار يا ګرامر ۲۰۲۰

اته ځلوېشتم – ژبسنوم ( که غواړۍ دويم غزېدلي ليکنه) : له پخوانۍ ليکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.

تازه ليکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله ليکنو په توګه له درې کاله را په ديخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خوريږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ويونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نيول شوي او په دلايلو روښانه شوي، چې ژبمينوالو لهپارهيې لوسته او ګوتنيونه اړيينه ده.

نهه ځلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰

پنځوسم – ژبې مري او نورې ليکنې ۲۰۲۰

دا د کتابونو نوملړ سره تېر او بېر راغلی، بخښنهدې وي.

## دا کتر شينواری ليکنې چېرته ميندلکيږي؟:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نږدې له ۳۹ نه دېر کتابونه په کتابتون ټکی کوم Ketabton.com زما د غزیز او ان د ښوونځي له وخت ملګري، خو له ما پوره ځوان ستانه میر زهیر شینواري ځوي زما د ګران ځوان ورارہ ګل شمشاد زهیر شینواري له خوا خواره شوي او هیله ده، چې دا نور به هم زر تزره راته خواره کړي، چې ډېره مننه تري کوم.

د ډاکتر شینواري د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

۱ ــ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ ــ د افغانستان کلتوري ټولمه کولن میشنیش

اړیینه یادونه: د ښوونځي نهم ټولګي شمیرپوهنې کتاب کې مې نوم لیکل شوی، خو ما په کې څه نه دي لیکلي.

د دولسم ټولګي له پاره یې پښتو او دري کتابونه لیکلي وو، چې هغه بیا په بل نامه چاپ شو او پوره ناسمونونه یې درلودل، پرته له هغو پوښتنو یا نور جملو اوبیونو یا حلونو څخه، چې هغه همغه د ډاکتر شینواري د لیکنې په کې پاتي وو او د ده نوم هم په کې نه وو. د پوهنې وزارت او تر جمهورریس پورې یې لیکنې ولیږلې، خو د نصاب استادانو په غوښتنه یې د نورو کارونو څخه ډډه وکړه، وایي، چې څه مې بې له دې هم نه شو کولی

.

## د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرې،، وو، چې د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: اروابښاد نورالرحمان

د مور نوم: اروابښاده پستو

د نیکه نوم: اروابښاد حسن خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیا نوم: اروابناده صبربي بي

دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دی ( دا خو هغه رسمي ز ک دی. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دی)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.د مورګی غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځي هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګی لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زوکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر( صفر نه وو) تر نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداېښتي پوهنو څانګه کې دنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو ليکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان ميرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د ميرمن ښاپيرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتريش ويانا ته ورغلی.

ده د ميرمن ښاپيرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتريش ويانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچيان وبخښل، چې څانګه او اباسين نوميږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره هم وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسين ملي اقتصاد او ټولنيزه سايکولوژي لوستلې.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library